خوشحال خټک څه وايي؟



لیکوونکی

عبدالرؤف "بېنوا"

دافغان په ننګ مې وتړله توره
ننګيالى دزمانې خوشحال خټک یم

خوشحال خټک څه وايي؟

ليکوونکی

عبدالرؤف «بېنوا»

١٣٢٩

د کابل عمومي مطبعه

یادونه

دوه کاله دمخه مادا کتاب دیوه حساس ملګری په شخصي پیسو په هندوستان کی چاپ کړی و، هغه وخت چه دا کتاب دپاکستان له لاری افغانستان ته راتی، پاکستانی حکومت صرف په دې جرم چه په دې کتاب کی دخوشحال خان له خولې پښتنو ته دپښتنولیې درس ورکړه شوی دی دبین الاقوامی ترانزیت داصولو پرخلاف ئې ددې کتاب دوه نیم زره جلدونه ضبط کړل اولکه دپښتنولیې زړو دښمنانو چه خوشحال خان یې ژوند بندی کړی و، دې دپښتنولیې نویو غلیمانو دده افکار په زندان کی واچول، مګر پښتو او پښتنولی حق دی او حق څوك بندی کو لای نشی، نوځکه پښتو ټولنه غواړی چه دخوشحال خان دا دپښتنولیې درس بیا چاپ او نشر کړی. دا کتاب به هم په کابل مجله کی پرله پسې چاپیږی او هم به ځانته نشر شی. (بینوا)

بسم الله الرحمن الرحیم

پښتنو ته وایم

زه دا کتاب د پښتنو د وینوالی د پاره لیکم، او غواړم هغه ارمانونه چه د دوی د سعادت د پاره د پښتنو لوی پیاوړی شاعر او د پښتنو ملی قائد خوشحال خان خټک ګور ته له ځانه سره وړی دی، پښتنو ته واوروم لکه دی چه پخپله وائی :

پښتانه چه بی ننګی کا څوک ئی څه کا
ګورستان لره به درومو له ارمانه

ګوندی وی چه پښتنو کښی شنوا غوږونه او حساس ماغزه پیداشی او د دی درد نا ګو چیغو په اثر ټول پښتانه له درانه خوبه را ویښ شی .

زه پښتنو وروڼو ته کومه افسانه نه وایم، او نه د دوی د نیکونو پخوانی کارنامی او زاړه افتخارات ورته شمیرم، بلکه زه د وی د پښتنی ژوند هغو نواقصو ته ملتفت کوم چه خوشحال خان خټک د پښتنو د ملی مشر به حیث څو سوه کاله د مخه ورک کړی وو، او پښتنو ته ئی د هغو د اصلاح چیغی کړی وی او دی نواقصو تر اوسه هم د دوی پښتنواله نیمګړی ساتلی ده او له بده مرغه ئی د دوی د قومی وحدت رسی شلولی ده .

پښتانه به ما وبښی که زه له دوی سره د خوشحال خان له خولی سپینی او رښتیا خبری و کړم، ځکه چه د پښتنو الی یو مهم رکن چه متاسفانه اوس ئی د ېر لږ مراعات کیږی رښتیا ویل دی، پخپله خوشحال خان وایی :

څوان وم دایم زوړ شوم په رښتیا رښتیا خبرو
عالم د ځان دښمن کړم که د اعیب وی هم دی وی

بله دا چه زه نه غواړم پښتانه لا تر ابده د پیل په غوږ کښي ویده وساتلی شي او هر ته ئي د افتخاراتو او بې ځایه غرور «ملاو» شو بلکه شي، پښتانه باید پوه شي چه دري د دنیا نور تول قومونو وروستنه پاته قومونه دي او د دنیا به هیڅ اولس کښي دومره بدبختي نشته لکه نن چه د پښتنو په اولس کښي لیدلی کیږي .

نو لکه پښتانه غواړي چه په دې اتمي عصر کښي خپل نوم ژوندیء وساتي او یا غواړي چه د دنیا د ژوندیو قومونو په صف کښي ودریږي دوی ته خورا مهم مهم کارونه کول او هغه د ژوندون وظیفې ورته درنې دي خدای دي نه کوي چه اوس هم زړا ویښ نشي او هم داسې د غفلت په خوب ویده وي شك نشته چه ژر به د هستۍ له کتابه د نیستۍ کندې ته پریوزي او نور به ئي بیا نوم هم څوك وانه وري .

(عبدالرؤف بینوا)

اهدأ

د پښتنو ښتانه نوي نسل ته

چه

د خوشحال بابا نیمګړي

ارمانونه بهدوي پوره کوي!



دافغان په ننگ مې وتړله توره
ننگيالى دزمانې خوشحال ختك يم

خوشحال خان وايي :

پښتني ننګه مه پرېږدئ!

ځینې څه اوبی دعوې لرم په زړه کښې
ولې څه کړم چه پښتون واړه بې ننګ دی

پښتنو چه پخوانی پښتانه څوداسې نه وه، هغوی پښتني ننګ ته ډېر سره کول، د پښتنو والی مهم ... کی بالله، د پښتني ننګ لپاره ئې ځان واږه، هر څه چه به کېدل، خو کېدل به، مګر ... پښتنو به ضرور خپله ننګه پر ځای کوله، لهم وخت چه به د ننګ ... نه راتله نور ... پښتون د خپل سربند ؤ، نه په مال او نه نور څه ...

څوك چه بې ننګه شو هغه د نورو کېدلی ... د ... بې ننګه سړی پښتون نه باله کېده، په بې ننګه زوی پلار او مور شرمېدل، پښتنو پېغلو بې ننګه مېړه نه غوښت، د ننګيالي پښتون به هر ځای صفتونه کېدل، او هرچا به ئې ملګری او آشنائی غوښته، هر پښتون ... که زوړ، د ا زيار دوست چه یو ننګیالی پښتون شي او ... د یو ننګيالي سړي ... ځان متصف کړي ... ننګ څه شی ؤ ؟

په پښتو او پښتنواله ... د خپل ناموس ساتل، د خپل وطن او خپل شرف خوندي کول، ... همت لرل، بل چا ته سر نه ټیټول، خپلې خاورې ته ... دی څوك نه پرېښودل، د جنګ له میدانه تېښته نه کول، د چا ته مړنی کېدل، د بل احتیاج نه ... نه لاس نه غزول، خپل ګاونډی له هر راز مشکلاتو ساتل او کومك ور سره کول، غیرت درلودل، د خپل قوم د ژوند خیال ساتل او نور ... دا پښتني ننګ ؤ، او پښتنو هر کله ... خو د بې ننګه نوم ئې پر ځان

نه وو، خوشحال خان خټک چه یو هوښیار مشر او یو قومي حساس شاعر دی د پښتنو الی دا مهم رکن تر هر څه د پښتنو د پاره لازم او ضرور ګڼي، له پښتون په ننګ پندنه وي د هغه ژوند نه بولي، وایي:

ننګیالي د ننګ د پاره　　په هر څه لګوي اور
چه په نام و ننګ ابړ نه وي　　که تل ژوي مخ ئې تور
سر په دار لک شوي ښه دی　　نه لاك شوی په پیغور

خوشحال خان یوازي د پښتنو د دنیا د پاره ننګ ضروري نه ګڼي، بلکه د ټول جهان بنسټ او اساس په ننګه او شرم تینګ بولي، که دا نه وي له پستۍ او بې ننګۍ څخه به د ژوندون شیرازې سستي او دنیا به بې ننګه شي، دی وایي:

جهان شرم نام و ننګ دی
که دا نه وي جهان بې ننګ دی

بلکه خوشحال خان هغه خولګ چه ننګ نه لري له سړه نر نه بولي او وایي چه بې ننګه سړی په معنا کي یوه بې ننګه ارتینه ده:

چه د ننګ په چار و نر نه وي خوشحاله!
که ئې نروینې په سترګو هم ماده دی

هر پښتون ته وصیت کوي، چه په هیڅ وخت باید پښتني ننګ ته شا ته کړي او یو ننګیالی پښتون شي نو وایي:

خو دې توان توفیق رسیږي پیروز من مه
په هر دم د پښتانه له ننګه ونه مه

دا خو د خوشحال خان وصیت ټولو پښتنو ته و، مګر پخپله خوشحال خان څه کول؟ خوشحال خان څه عادي پښتون نه ؤ، چه عادي فکرونه ئې لرل او یا ئې پښتني ننګه یوازي د «ښه کوه بد مه کړه!» مفهوم باله، د هغه سره د پښتنو د ملي ژوند غم و، ځکه چه ده کتله چه د هغه د ملو له په امپراطوري په څر را

جوش او خروش پیدا کړی وه ، او هر کله ئی د پښتونخوا غرونه او د پښتنو ملی ژوند تهدید داوه ، او پښتانه ئی ورځ ، ورو دې ته را کاږل چه دا نښکیا نو او پنجا بیا نو سره جګړی او په هغو کښې محرومی او خپل ملی شته وا ته بالی ، نو خوشحال خان تر هری پښتنی ننګی د مغه خپل خان ته ددې پښتنی ننګی تو سره ګډول او کلی او لازم ګڼلی و ، چه پښتانه وپښ کړی او دوی خپل تیت او پاشان ژوند ته ملتفت او په دې خبره ئی پوه کړی چه پښتنو ته یو قومی تشکیل لازم دی ، د پښتنو خاوره باید د بل هیواد ضمیمه نشی او د پښتنا نه دالوی قوم د بل چاتر حکم لاندې ندی ، رښتیا همداده چه په هغه وخت کښې دا مفکوره خورا او په پښتني ننګه بلله کېده . نو ځکه خوشحال خان دې لوړو افکارو ناقراره کړی و ، او ددې افکارو د عملی کولو د پار سرګردانه ګرزیده او غوښته ئی چه پښتون قوم بیدار او په خپلو افکارو پوه کړی ، دی وائی :

چه نه لری ننګونه	وئی مه وینې رنګونه
دا د ننګ د پاره ګرزم	په دا هسې ګړ نګونه
سه د رحمت را باندې بناړی	په دا هسی آهنګونه

مګر خوشحال خان بې تجربې او ناپوه سړی نه و ، بلکه یو خ سیاسی و ، په کار کښې ئی تلوار نه کاوه ، د خپلی مفکورې ، د عملی کولو د پاره ئی د هر وخت ته ضرورت و ، نو ځکه ئی د پلار د مرګه ورو سته چه دی د قوم مشرشو د هند د مغولي پاچا شاه جهان له اطاعته سر و نه غړاوه ، خو سره ددې هم پښتنو په خپل منځ کښې پوره استقلال درلود او خوشحال خان د پښتنو د پاره هیڅ وخت د بل چا مرئی توب نه خو ښاوه او نه ئی مانه .

شاه جهان هم د پښتنو خاموشی غنیمت ګڼله د پښتنو په داخلی آزادۍ ئی غرض نه درلود ، مګر په (١٠٦٩) هجری کال چه اورنګ زیب عالمګیر د شاه جهان

د قابله زوی ، چه خپل پلار ئې د خپل ذاتي غرض دپاره بندي کړ ، او بیخپله په تخت کښیناست نو د پښتنو داخلي آزادۍ ته هم په ښه سترګه نه لیدله ، او هر کله به ئې غیر حق مداخله کوله ، دې مداخلې پر خوشحال خان او نورو ډیرو پښتنو ډیر بد تاثیر وکړ او خوشحال خان ئې مجبور کړ چه اورنګ زیب ته ویاخیېزی او خپله هغه پښتنی ننګه چه تیرا رسه ئې په مسا تلې وه په ښکاره پر ځای کړی ، ځکه چه خوشحال خان دهغه په نیت پوهیده چه دی غواړی پښتانه دځان مرئی کړی ، او د دی له اینلیا نو سره ئې او په هغوی کښې ئې ورک کړی ، نو دهغه سره ئې په ښکاره پر خلاف شروع کړه او په هیڅ رنګ ئې هغه ته سر نه ټیټاوه - هو ! یو د پښتون ته ګرد ي او به بې ننګي نشته چه خپله پښتنو اله او قومیت پریږدی او د پردیو دښمنانو نوکر او تابع شي ، خوشحال خان خپله قطعی فیصله داسې اعلان کړه :

بله هیڅ لیدله نشی په دا منځ کښې
یا مغل دمنځه ورك یا پښتون خوار

اورنګ زیب چه دخوشحال خان په نیت خبر شو ، نو لومړی حوئې غو ښته په لافو او شافو خوشحال خان قو یره وی ، مګر خوشحال خان خود ویري سړی نه ؤ ، بلکه د پښتنی ننګې پر ځای ګولو د پاره تر خپل سر او ژوند تیر شوی ؤ ، پر شاو ر نګ زیب خبر و په ده څه تاثیر ونه کړی شای ؟ خوشحال خان ته دا خبره معلومه وه چه د پښتنو دښمنان هیڅکله په دې نه راضی کیږی چه پښتانه دې د یوې ځانته ملي آزادۍ خاوندان شي او خپله خاوره دې لهمړي ساوی څخه جلا وساتی ، او بلي ته را سپښتنو الې قانون پیاوړی کله چه پښتانه دلا ر [illegible] لاندې شي او غیر له پښتون مشر څخه دې د یو مشر اند ته سر ټیټ کړی او پالانې بر نامه د دوی د او د هغه ... [illegible] ... خوشحال خان چه پوه و ئې او مسلمان پښتون ؤ غیرتي پښتنو الې مجبور [illegible] د پښتنو د خلو ... [illegible] کړی او پښتنو ته

وایی چه بله لاړ شته ؟ یا به د پښتنوالی دښمن ور کوی ؟ او یا به تاسې ور کېږی ؟ او دا فیصله به هم د زړو پوهو عملی کېږی لکه چه وایی :

پښتانه چه نور څه فکر کا ناپوه دی

بې د توری خلاصی نشته په بل کار

خوشحال خان د پښتنو توره ستایی مګر فوری ئې د ځینو پښتنو ناپوهی ستر ګو ته دریږی او په دې خبره ډېر افسوس ښکاره کوی چه دوی خو هوښیار نه دی، ژر غولېږی مبادا چه دښمنان ئې دخپلو ناوړو غرضو د پاره استعمال کړی او له او دوی به هغې لوری مفکوری څخه چه خوشحال خان ئې عملی کول غواړی وګرځوی نو وایی :

> تر مغلو پښتانه په تورو ښه دی
> که په پوهه پښتانه وی څه هوښیار

هو ! ځینې پښتانه خواران دخپلې ناپوهی له لاسه همیشه د بل د پاره استعمال شوی دی او استعمالېږی، پښتانه قوی او پهلوانان دی مګر د دوی قوت او پهلوانی هر وخت د نورو دفائدې د پاره صرف شوی دی، پښتانه له جنګه تېښته نکوی مګر جنګ ئې د هر چا د نورو د ګټې دپاره وی، پښتانه د مرګ سره په خوړا خوښی مخامخ کېږی خو د هر چا له ئې مرګ د بل چا په خاطر وی حتی کله کله ځنې پښتانه د دومره ناپوه کېږی چه د بل په غولولو د خپل ملیت او دخپلو ګرانو پښتنو ورونو د مفاد پر خلاف استعمالېږی، دا له دې جهته نه دی چه دوی قصداً دا کار کوی بلکه پښتانه د ډېر په زړه نو صاف خلک دی، هر وخت چه پردی شیطانان د دوی په ر ګونو ننه وزی نو دوی غو لوی او د دوی د ضمیر د صفائی څخه بده استفاده کوی. د پښتنو دښمنانو غوښته پر پښتنو حکومت و کړی مګر پښتنوالی دا نه منله، نو خوشحال خان مجبور و

د پښتنوالی د قانون تابع او سی ځکه چه پښتون و او پښتون باید خپل ځانته قومی آزادی در لود لای؛ اورنګزیب چه د پښتنو دا حق نه مانه خوشحال خان ملی مکلفیت در لود چه مقابله شروع کړی او د ملی مقابلې ته پښتانه راوبولی اوور ته ووائی :

په داسې وخت چه وخت د ناموننګ دی — دا بې ننګه پښتانه کاخه ور فرار؟
هر ګړ ځما په پوهه ښه تر دا ژوندون دی — د عزت سره چه لوی زیست روز ګار
آفریدی، مومند، شینواری ګوره څه کا — د مغلو لښکر پروت په ننګرهار

پښتنو زلمیانو چه د خپل ملی مشر دا اړې داورېدلې او پوه شول چه رښتیا پښتنو ته یو مستقل آزاد ژوندون او قومی حکومت لازم دی او پښتانه باید د بل تر حکم لاندی نه وی او نه باید د دوی ګرانه پښتونخوا د بردی ځمکی ضمیمه شی، نو ټول په یوه سلا په خوشحال پسی روان شول او د خپل ملی مقصد او پښتنی ننګی دپاره ئې ډیرې ډیرې قربانۍ ور کړې او د اورنګزیب په زړو لښکرو سره ئې سختې جګړې و کړې چه خوشحال خان هم د خپلو ځوانانو قربانی ستائی:

ما په ننګه د پښتون ځوانان قربان کړه

بیامې غوره جمع ښه ځوانان کړه
چه په شپه را سره قول ووپه زرګونه
په سبائې له ماواړه ځان په ځان کړه
دسری د لاسه مړه وی څه به ښه و
لیونی کوته سری مړه ګوره شهران کړه
چه شاهان ځوانان مې و مړل ها له مر دیم
که د هر یوه مې ساری سل ډمان کړه
سږ خودا په خوشحال و شوه بیا تر کاله
ګوره څرنګه ښکاره شی د سبحان کړه

تر څه موده وروسته اورنګ زیب ته دا ثابته شوه ترڅو چه خوشحال خان
آزادی پښتانه په زور او په قوت ماتولی نشی ، تو له دې جهته دفریب او دروه
او تیتال دلارې ورته راوړاندې شو ، په غوږه ژبه او احترام ئې دربارته دعوا کړې
دپاره وغوښت، قسم او قرآن ئې ورسره وکړ ، که څه هم خوشحال خان تجزبه
کار سړی و، مګر اورنګ زیب ددې لحینو خپلوا نوته ډیر رشوتونه وښندل چه
خوشحال خان راضي کړی ، هغوی چه هم بنامه پښتانه خو په خوی اینګیان
وو ، دپیسو په عوض کښې ئې خپله پښتني ننګه ترشا کړی ده خوشحال خان
ته ئې ډیر اصرار وکړ چه ضرور دعوا کړی دپاره دهلي ته لاړ شي، خان داورنګ زیب
په قول او قرآن او دلحینو بې ننګو خپلوانو په مشوره باور وکړ او بوازې پېښور
ته ولاړ ، هلته دپېښور حاکم دهلی ددربار په اشاره داد پښتنو ننګیالی مشر
بندی کړ ، او تحت الحفظ ئې دهلی ته واستاوه، خوشحال خان دخپل دغه بند
قصه په (۲۲۰) بیتو کې وېلې ده څنګه چه داقیصه په نظم او اوږده ده نو دلته
دهغې خلاصه په نثر لیکم :

د«جمعې شپه ده، خوشحال خان دسهار خواته بدخوب وینی ، له خوبه راپاڅېږی
او غسل وروسته سنت ادا کوی ، خلک په آرام خوب ویده دي ، خوشحال خان
بوازې اشرف خان ویښوی او څه نصیحتونه پر ... لیکسانې ور کوی ،
فرض لمونځ په مسجد کښې ادا کوی پر خپل آس چه « سیلی » نو میږی
سپر یږی او دپېښور خواته دهغه ځای دحا کم دغوښتني په اثر بوازې روانیږی
«جمدر» ئې را اخیستې دی په «نوښار» کښې نمر باندې را خېژی.
څا بنت «پېښور» ته رسېږی دهغه ځای حا کم ته سړی استوی چه زه راغلم
څه وخت حاضر شم او څه کار دی ؟ ځواب ورته راځی «نن شپه چه راغلې ،
سبا دیوان ته راشه ! » خو داکیدی څرحا کم دري ورځې در بار نکوی
او خوشحال خان هم په ځان خبر نه دی چه کیفیت څه دی ؟ د ګجرات شیخ

چه دغه کم بخت ؤ ، او دیر کړ په عفظ ئې درلود ، خوشحال خان ته وایی ! «ترما راشه چه مشوره سره وکړو بیا به ځواب ته ځو !» خوشحال خان په پاك زړه پداری ورغی ، فوری ئې د خپلو سپاهیانو پواسطه ئې راګیر کړی او خوشحال خان ئې مفت په لاس کښېوزی :

لوی په لوړ مغل ترما چاپېر شو په هنر

مفت ئې په لاس کښېوتم په حکم د قدیر

کوزئې کړم له کوټه چه ئې کښېوتم په جال

زړ ئې را په پښو کړی پنځ سیری بیری کوتوال

د پښتنو ننګیالي مشر بندي کېږي ، دا خبر په پښتنو کښې خپرېږي او هرڅوك حیرا نېږی ، دې ورځې وروسته د ننګیالي خوشحال خان ځینې ننګه ترونه چه پښتني ننګه ئې ترشا کړې وه د دښمنانو ته ورغي آسونه او نور خلعتونه اخلي ، مګر نور ننګیالي او ورښې پښتانه د غلیمانو مرګ ته تیارېږی او غواړي چه د دغوی په مقابل کښې وپاڅېږی ، خو پخپله خوشحال خان ئې منع کوی او ورته وایی :

«په شرا وشور کښې فایده نشته ، اولس تباه کیږی باید له صبر نه کار واخیستل شی» دوې میاشتې په پېښور کښې تېرېږی صوبدار له خوشحال خان څخه پنځوس زره روپۍ غواړي مګر د خوشحال خان غیرت دا چیرته منسله چه پیسې ور کړی ، او خان آزاد کړی ، لکه وایي :

د غونټي پنځوس زره روپۍ په سو بد ار

ماوي ور به نکړم یو پوچك نسه یو د بنسار

وروسته صوبدار د خوشحال خان دغې ننګو ترونو په مشوره د پښتنو قومي سردارهند ته لېږی د ښار (پېښور) څخه ئې باسي امر ئې شوی چه د شاپیک خان په رباط کښې [illegible]

«خیر آباد» ته ځي له هغه ځایه داتك تر سیند پوري وزي پر «پړه» او «باباحسن ابدال» باندي ورځي او له هغه ځایه ژ «پنډي» ته او له پنډۍ څخه «ککړتال» ته بیائی او په سبائی «لاهور» ته رسیږي په پای کښي دروڅ دمیاشتي منځ ته په ۱۰۷٤ هجري کال دډهلي دربار ته ورځي، تردیر سوال وځواب وروسته په ضمانت خلاصیږي مګر دوطن اجزه نه ور کوله کیږي د کوتوال د کور ترڅنګه یو کور ورکوي چه هلته اوسي، دشوال په میاشت کښي دسید میرحسا کره خط دپر بار ته رالخی چه : "

مه پر یږدیء خوشحال دده پرینو ول دی اختلال
بیا په منځ کښي پرووت دخلاصي په دپر جنجال

دخوشحال خان ځای تدیر کوی او بندني سختیږی، تر پنځو میاشتو بند وروسته اورنګ زیب وایی چه «خوشحال خان په خلاص کړم خو چه خپله کوم له پښتونخوا څخه دهلي ته راولی !» امیر خان دده، کوم را غوادی په دي وخت کښي اشرف خان دخان زوی دمغلو حاکم په کابل کښي بندی کړی دی، ترڅه مودي وروسته خوشحال خان «رنتبور» ته لیږی، هلته وا یی :

څو میاشتي په بند وم په دهلي کښي په عنا
اوس په رنتبور کښي بندي پروت یم یکتنها

خوشحال خان دپښتني ننګي دپاره څلور کاله بندی کیږی او خپلي سهوي چه دده دبند سبب شولي داسي کښي :

خدای و کړي دا چاري په ماوادد و کړي زده
څو چاري غلط شوم چه مي اوی کړ' احمق تره
بل چه دده لور مي امر اته کره وا ده
بل چه مي په کور کښي څه کښي ته نیول سپین سره

بل مي چه يو کوټ محکم بنا نه کړ په غسره
بل چه مي په توره په خدمت غرور کاوه
بل مي چه مغل په ور کړمــر کړنــه غـو لاوه
بل مي چـــه په وخت ذنيـــوو ملــك نــه و لا ړه
بل مي چه قـوت د يـو سفـز يـو ور کا ده
بل مي چه پـه اصل غوز يا خپل پښتون کـانه

دخلورو کـلو ورو ستـه ايله کيږي، مګر هره ورځ به په دربار کښي حاضري ورکوي او دخوشحال خان آزاد روح په دي قيد سخت ترفشار لاندي راحی، په ۱۰۷۷ هجري کـال درجب د مياشتي په ٤ داسي شکا يت کوي :

هره ورځ ورته در بـار تــه ګــر ځ دا خـــه مشـقت دی
د بـل حکم بري زندان شي چه پـه خپل حـکم بـا دت دي
نه د شيرين خوازه ياران شته نــه د چـــا ســره صحــبت دی
نه خپل ور کړل رانيول شته نــه خپل خــکم حــکو مـت دی

په پای کښي په «آګره» کښي د خپلو نورو ننګيالیو خپلوانو په ملګری فرصت مومي چه وطن ته ولاړ شي او بيرته د پښتني ننګي ترسر کولو موقع پيدا کړي ! »

داد خوشحال خان د بند هغه قصه ده چه ده په خپله نظم کــړي ده، مګر ده د بند په وخت کښي هم پښتني ننګه هيره کړي نه وه ، او په خپل کښي ئي هم دلخينو بي ننګو پښتنو دو ښمنو ولو د پاره د پښتنو ليږ له درده ډك اشعار ويلی دي، مثلا په (۱۰۷٤) هجري کـال د ټزات په مياشت چه ئي خوشحال خان بندي دلاهور په سيند تيراوه، ده د پښتنو دانتقام حس په دي الفاظو ويښاوه :

زماني لهښو يارا نونـــه مهجور کړم ـــ څه بلا ئي مبتلا په د وير ضرور کړم
زره ورانه پښتونخوا په ځای ميشته ده خو يوزه دي زماني ډکښي منصور کړم

مر که هومره مهلت را کړه په جهان کښې   چه اجمدره دمدعی په ویښو سور کړم
که ئې درست د مېو زور راته ښکاره کړ   بیا فلك سره کشتي پخپل دستور کړم
نه به بیا په غاړه کېږدم د ننګ توره   نه به بیا په قوم کښې کښېنم نه به هور کړم
عجب مارمې چار و تلی تردوو پښو دی   مګر لوی پاله و پیداشي چه ئې دور کړم
مست ما تیان خونی مزری په خنځیر کېږی؟   بو یه دا چه ځان فلك و ته تربور کړم
په خپل آه مې باورشته اثر به وکا   رقیبان به او ر لړو ی د تنور کړم

تر پرګال بند وروسته ځینو ناپوه و پښتنو له بندی خانی څخه داپیغورونه را استوی:

ننګه خدای چه بندی کړی دی خوشحال   هم ننګه به ئې خلاصی کا په هرحال
نام و ننګ ناموس که داد افغانی وی   چه ښکاره ئې شو په داد ور احوال
مخ د درست غوری دی تورشي په تبې   بیا د دا ړو پښتو ژبې په دنبال
که دسمې که دغره دی یوسف زی به   همګی مزری دی مه ئې وه زوال
دخپل ځان صفت به نکړم چه زه څه یم   ارو بر واړه رو ښاه دی یا شغال
که خوشحال خان خټك وار بیا موند په جهان کښې   خود به وویني د دې چا ری مآل
ما په خپله په ځان کړی دی داچارې   چه مې ور کړه ونا اهلو دا منال
که په نحس طالع بند شوم عیب نشته   کله کله تندر هم نیسی هلال
چه هم پښ په یوه حال وی ننګه خدای دی   په سر یو باند ی تل نه وی یو حال
څلوېښت کاله مې خوږه کامرانی و کړه   څه شو چرخ که مخالف شو یو نیم کال
نه پړ کېږی نه فریاد کا نه چیچل کا   هر هوښیار مرغه چه لاندی شي ترجال
پښتنا نه به لره منصب نه دی غضب دی   چه تلا ښ دا ځا فو کا لا بې دال
که هزار کاله دی پښتون مغل به اشنی   بو یه دا چه له زړه و باسی دا خیال

د هاتي د مزري روغه که څوك غواړي — هېڅ د دې خبرې نشته احتمال
پښتانه اره شړي له اټك پورې نه دي — نه انو ستي د مغل د هجرې شمال

کوم وخت چه اشرف خان هجري د خوشحال خان زوی جېلخانې ته خپل پلار ته خط لیږلی، خوشحال خان په څه متانت هغه ته ځواب ور کوی، او له کلامه ئې ښکارېږي چه د هند د مغلو ډېرو مظالمو هم د خوشحال خان څخه پښتني ننګه هېره کړې نه ده او د پښتونولۍ هغه غرور ئې په سر کښې دی چه باید د هر صحیح پښتون په سر کې وي، هغه ځواب دادی:

په مردن پروا دار نه یم — په زندان پروا دار څه یم
اشرف خان دی راته کښلي — څه خو خوښ په خط دده یم
چه که میاشتې یم په بند کښې — با باور دا ده په زړه یم
زو په ما خو غم د تا کړ — چه نه ښه ئې زه خو ښه یم
چه فلك سره سر باسي — په همت کښې هغه زه یم

په هر صورت خوشحال خان چه له بنده خلاص شو او بېرته وطن ته راغی، نو بیا ئې د پښتنو د یووالي تحریك شروع کړ او خپل هغه وینې ژ لمیان ئې په هر لوري ته تیت شوي وه، دوباره په ځان راغونډ کړل او په ټینګ عزم د دښمنانو مقابلې ته پاڅېد، داځکه چه خوشحال خان خولا لمړی هغه وخت چه بندي نه وُ د متحدا وزیفو په نیت پوهېده چه هغوی د پښتنو د بربادۍ خیال در لود، د پښتانه ئې نه پرېښودل چه ځانته خپل قومي حکومت او تشکیل وجود کړي او یا مستقله آزادي ولري نو پښتنو ته وائی:

پښتنو سره زه نو [illegible] د مغلو — خبر دار ئې په ایتونو بلك په یاك یم
له سره که ناسره را نه معلوم دی — په دا کار کښې په معنی الله محاك یم
په ناحق ئې په زندان کړم بوخو کاله — خدای خبر دی که یخوله ګناه ښاك یم
[illegible] چه د مغلو له مخې نه وي — چه ئې ولیا په هغه ز [illegible] پوري هاك پاك یم

پښتون نام و ننګ چه راشم لېونی شم
خبر دار کله په سود و زیان دلك یم

چه په طمعه داوړوز غلی وشمت نه
ګمان مکړه چه هغه نادان سړك یم

وېښناو ته سور مېهر یم د زړه
په دلیل د نابینا لکه پوچك یم

هیڅ له قدره می و کړ ي خبر نه دی
که رښتیا وایم دستر ګو مرد ملك یم

لکه باز په لوی لوی ښکار زما نظر دی
نه چه ګرزی ګونګټ نیسی باد خورك یم

چه په غوښو ئی روزګار هغه مزری یم
نه چه ولی دوښو خوری هغه مېزك یم

په دا سپینه زیره شرم عزت ښه دی
څه به نوری جاری کړم مګر خوردك یم

چه منصب می د مغلو خوړ یو ملك وم
چه منصب د مغل نشته اوس ملك یم

د فرمان د پروانی حکم ئی نشته
شکر دا چه پښتون حکم پښتون ولك یم

له تصد یق شته نه یادداشت شته نه توجیه شته
نه په فکر دسند نه دد ستك یم

هر کیدی بچه له ما سر کوزی غوښته
د هغه دسر یا توره یا کو تك یم

پښتنا نه لره شړی اند پړی بس دی
نه په فکر دمسند نه د توشک یم

آزادی دوپه سادهسپینه جامه کښې
خلاص له غمه دزربفت او د میلك یم

دوښو جو نګړی هسې راته ښې شوې
وایې ناست په محلو نود آهك یم

که او ګره دښو شته په شلو نبوسپينه
دمغلو پلاو پاته ډېر پرې ډك يم

چه نیولی می داهوړ دننګ ونام دی
که له ځپاله هوډه واوړم کنیز ك یم

[په بل غشی په توپك ویشتلی نه یم
که و یشتلی یم خو بیا په خپل توپك یم]

ن خو قام راسره ډېره جفا وکړه
کاندې بیاد خدای و حکم و ته ځك یم

که ختکو راته شا کړه مخ ئې تور شه
زه بوازی په تکیه دخدای شېر ك یم

مهمندی زما دګېډې لاس و پښې دی
راضی من د اپریدیو په ګو ملك یم

ګرلانی ' خړ ښی ځو چه پښتنا نه دی
زه دننګ په کاراله وادو مشتر ك یم

ډېری چینې چه تراوښ وګا دریاب شی
چه لیده شم اوس خو دایم بو ډالك یم

کډمی عمر په شمار ه تر شپېته تېر دی
لا یې کار دسوارۍ لکه او زېلک یم
دافغان په ننګ می وتړله تـوره
ننګیالی د زماني خوشحال خټك یم

خوشحال خان دمتجاوزینو سره دپښتنی ننګ دپاره مقابله شروع کړه ، ډېر سخت سخت جنګونه ئې ورسره وکړه ، ددې پراوزه دپښتنو ننګیالی زلمیان هم ولاړوه ، چه دپښتنی ننګي او د پښتنود آزادۍ دپاره ئې په خپلو سرو لوبې کولې ، ځکه چه پښتنی ننګه دهاود ننګي په کار کېږی خوله قندهاره تر اټکه ټول پښتانه یو دی . نو پر متجاوزینو ئې تاتار جوړ کړ او په لومړی جنګ کښې ئې څلوېښت زره تارپه تار کړل ، داځکه چه خوشحال خان پښتانه پوهولی وه چه دښمنان غواړی پښتانه تباه او دځان غلامان کړی او یائې دنورو دروازو ته ودروی نو پښتنو چه هېڅ وخت دچاغلامی منلې نه ده دغیرت اوننګ وینې ئې په جوش راغلې اودخپل استقلال دپار . ! چه ددوی طبیعی حق و ، نورې له تېکیو راوېستلې اودپښتنې ننګې دبرخای کولو په غرض دزورور دښمن مقابلې ته ورواندی شول . پنځه کاله ئې ډېر سخت جنګونه له دښمنه سره و کړل ، اودخیبر دره ئې ددښمنانو په وینو سره کړه . څو په پای کښې اورنګ زیب په خپله مجبور شو دپښتنو جنګ ته راووت ، اویو کال داټك په غاړه پروت ؤ . خوشحال خان داورنګ زیب دغېښتلو لښکرو سره هم اوزه ور کړه په خپله دی وائی :

(اورنګ زیب راته یو کال وشو چه پروت دی
بهصورت حیران پریشان په زړه افکار

د پښتنو د ننګيالیو ځوانانو توره او ځینی مشهور جنګونه داسې بیانوي

(پښتنو ځلمیو بیا لا سو نه سره کړه

لکه باز منګلی سرې کا پخپل ښکار

سپینی توری ئې ګلګونی کړې په و ینو

په اهار کښې شګفته شو لا له زار

د خیبر دره ئې سره کړله په و ینو

په « کړ په » ئې هم روان کړ دند و کار

تر « کړ په » تر « باجوړه » سمی غرونه

په لرزه په زلزله شول په بار بار

په هغه لوری چه کیږی پنځم کال دی

هره ورځ د سپینو تو روخر پهسار

(درست پښتون تر «قندهاره» تر « اټکه »

سره یو د ننګ په کارېږ و آ شکار

(اول جنګ د او رې شاد « نهترو » و

چه ځلمو ښت زره مغل شول تار په تار

(خو ېندې لوټی ئې په بند د پښتنو شوې

آس، اوښان، هاتیان اوا چه قطار قطار

دوهم جنګ د «میرحسین» په «دوآبه» کښې

چه ئې وتکېده سر لکه د مار

بیا له پسه د «نوښهره» د کوټ جنګ ؤ

چه مې و کیښ تر مغلو خپل خمار

بیا له پسه «جسونت سنګه» «شجاعت خان» ؤ،

چه «اېمل» ئې په « ګنداب » و یوست دمار

شپېزم جنګ «مکرم خان» و «شمشېر خان» ؤ
چه «ایمل» کړل په «خاپس» کنبې تار په تار

چه زما په یاد دی لوی جنګونه دا دی
د هلکو په هر لوری نشته شمار

همېشه فتح ونصرت ده لا تر اوسه
پس له دا ده بیا تکیه په کرد ګار

اورنګزیب راته یو کال وشو چه پروت دی
په صورت حیران پرېشان په زړه افګار

کال په کال ئې امراګان دی چه پرېوزی
لو فانی چه شوی لښکری کوم ئې شمار

خزانې د هندوستان دی را خپرې شوې
سره مهران دی نسوزی په کوهسار

دا د هېڅ په اټلس فکر نه وه
چه به دا کا رونه شی په داد یار

د باد شاه دبد نیتۍ څه کمی نشته
په بدنیت ئې آزار واخیست د خپل پلار

بله هېڅ لیدله نشی په دا منځ کنبې
یا مغل د منځه ورک یا پښتون خوار

که ګردش د اسمان دا دی چه لیده شی
که دخدای رضا په دا وی را غی ه وار

نر مغلو پښتانه په تو ره ښه دی
که په یو هه پښتانه وای څه هوښیار

بل وخت چه شینوارو اواپریدیو اومومندو پښتنو دخوشحال‌خان ترمشرتوب لاندې ددښمن لښکر ته ماتې ور کړه او طوفان ئې پرې جوړ کړ ' ډېرې اولجې او اسبابونه ئې ځنې ونیول نو خوشحال خان پښتنو ته وایی :

څه شینواری څه مومند څه اپریدی وه

چه ئې مات کړ دصوبې واړه لښکر

دا طوفان چه په مغلو باندې سازشو

په کښتن به او لجو هیڅ مکړه نظر

که آسونه که فیلان که اسبابونه

په انبار انبار سپین زروه یا سره زر

دا کینه به یوپه سله تري و باسی

که ئې لاس شی په جمله پښتانه بر

پښتنو څخه که شته څه عقل پوهه

اپل یاغی دی ځینی کا ندی اوس حذر

متجاوزینو چه دپښتنو زور ولید' پوه شول چه پښتانه په توره ماتولی نشی او نه په زور وربانذی حکمرانی کولای شی نو دبلې چارې په فکر کښې ولوېدل 'هغه‌چاره داوه چه پښتانه‌په روپودځان کړی اوالکه دخوشحال‌خان په‌بند کښې‌چه‌ئې له‌پیسو کار اخیستی‌و' اوس‌هم‌له‌دې‌لارې دخوشحال خان ملی مفکوره سسته او بې اساسه کړی نو پښتنوته ئې رشو تونه شروع کړل داوخت و' چه ځینو ناپوهو پښتنو پښتنی ننګه هېره کړه او پښتنوالی ته‌ئې شا کړه ' خپل پښتنی ننګ‌ئې په پیسو خرڅ کړ اوبې ننګی ئې وا خیستله اوپه خپله دخپل کور ورانی ته‌چمتو شول ' پښتوئې وشرموله‌اوپېټ وربانذی پاته شو' دخپل ملی مشر خوشحال خان ملګری ئې پرېښو وله ددښمن ملاتړ شول ؛ تېښته‌دی وی خدای ته‌له‌داسی نا پوهو پښتنو څخه !

هو ! پښتون هیڅکله په جنګ کښې له مغلو بېزې نه شو چه په خپله ځانه ته بلا نشي، او هیڅ دښمن پرده بري نه دی موندلی مګر په چل او فریب په پښتنو کښې چه هر خت داسې ناپوه پښتانه پیدا شوی دی چه خپل ځان ئې په پیسو پر بل خرڅ کړی دی په هغو د پښتنو کور وران شوی دی؛ د هند مغلو هم د پښتنو د بربادۍ د پاره دا شه لاره وموندله او ځینې پښتانه ئې په رشوتونو او منصبونو وغولول او په خپله ئې په منځ کښې سره وا چول، خوشحال خان چه له یوې خوا د متجاوزینو کمزوری لیدله او له بلې خوائې د هغو دا چلونه کتله، نو داسې پښتنو ته ئې ویل:

مغلو ته چه ګورم هغه هسې مغل نشته
د تورو وار ئې تېر شو اوس دړیا ته یو قلم دی
پښتون په زرو نیسی په فریب په تیغا لو نه
په ما ئې اثر نشی لا په ما د خدای کرم دی
نه مېچ یم، نه کار ګه چه به په ګوډو مړ و ګرزم
باز یم یا شاهین یم پخپل ښکار مې زړه خرم دی
که ماغوندی نور هم وی په دا کار به ډېر خوشحال وم
چه ماغوندی نور نشته ځکه پروت را باندی غم دی

مګر د ځینو پښتنو سترګی د دښمنانو رشوتونو داسې بندی کړی وې چه نه ئې خوشحال خان په سترګو لیده او نه ئې خپله ناپوهی او بې ننګی؛ فقط سترګی ئې دښمنانو په دسترخوان کښې وې او نور ئې هر څه ترشا کړی وو، هغه زندۍ چه دښمنانو د پښتنو د مرګ د پاره تیاره کړې وه دې بې ننګو پښتنو به خورا فخر خپلې غاړې ته پخپله اچوله، خوشحال خان به ویل:

دا منصبونه دا انعامونه — واړه زندۍ دی واړه دامونه
پښتون مغل به سره دوست نشي — خوشحال ئې مه وینه دا انعامونه

خوشحال خان حیران و، چه څه چاره وکړی ، ځینې ناپوه پښتانه خو دښمن په منصبو نو بېخي لیونی شوی وو، څه سدا و نقل ئې په سر کېږی پاته نه وو ، نه ئې پښتنې ننګ په یادو، او نه ئې د پښتنو الی نوم ؛ رشوتونو ئې تورو له لاسه غورځولي وه نو ځکه خوشحال خان مجبور و، دي پښتنو ته طعنه ور کړی :

لېونی شول پښتانه په منصبو نه
خدایه ! ماژغورې له هسې غضبو نو

پښتانه لره لوی عیب دی که ئې ګوري
چه نا ژړېږی د مغل په لقبو نو

شرم ، ننګ ، ناموناموس ئې په یاد نه دی
خوویل کا د منصب د ذهبو نو

پښتانه که جنګ مغل سره په تیغ کا
هر خټک تیوی مغل تر جلبو نو

د خټک د ننګ جر که نشته خوشحال ه !
لاو تلي دی له کومو نسبو نو ؟

هر څومره به چه د خوشحال خان طعنې زیاتېدلې هغومره به د پښتنو د دښمنانو رشوتونه او لقبونه ناپوه هو پښتنو ته ورکول ! په دې وخت کښې خوشحال خان په ډېرو سختو الفاظو پښتانه ترټل او ورته ویل ئې :

« خپله قومی آزادی او د پښتنو الی دنیا او د پښتو نخوا ځکه مو د دښمنانو په زرو بایلله ، څومره ناپوه یاست چه اوښ له باره سره کور نه درغلی او تاسی د اوښ د غاړې ګنګړی او ز غنزه او لجه کوی ! » ځکه چه دوی د څو پیسو په مقابل کښې د خپلو ټولو ملی مقاصدو او افتخاراتو تېرېدل او خپل ځان ته ئې مستقل قومی حکومت چه ټولو پښتنو یکښې د سر لوړی ژوند کولای نه جوړاوه نو ځکه خوشحال خان افسوس کوی چه دومره د ډېر پښتانه چه پوسر ئې په قند هار بل پرد مغار دی څنګه عبث پراته دی وایی :

بادشاهي ئې د مغل په زرو بايله — د مغل د منصبونو په هوس دی
اوس له باره په خپل کور کښې ورغلی — په او لچه داوس دغاړی دجرس دی
بې ننګان د بې ننګۍ په کاروبار کښې — ننګيالی د ننګ په کار کښې هر نفس دی
سر ئې هوری «قندهار» بل ئې «دمغار» دې — تر دامنځ همه ميشته واړه عبث دی

دلته چه له ځينو ناپوهو پښتنو څخه هرې خواته بې ننګۍ وينې او د پښتنو هره طايفه ځانته ځانته ترقي او په ډېرو سختو الفاظو ئې تنبيه کوی وايې :

«تيرا» مې وليده راغلم تر «سواته» — پښتون مې وليده دالوی لوی ذاته
عقل همت مې د چا ونه ليده — په بيار ته راغلم فاست يم ملا ما ته

داځکه چه ځينو ساده د پښتنو د دښمنانو سره په زيست روز ګار ګډشوی او خپل پښتنې ژوند ئې شاته کړی و، خيله بادارې ئې بايللې وه او ډېر ديو نو کران شوی وو، او يا ئې خپلې ورسره کړې وه، رښتيا چه پښتنو ته ډېر شرم ځای دی، چه هغه چا ته لاس په نامه به سلام ولاړ وی کوم چه غواړی پښتانه د ځان غلامان او ځمکه ئې د ځان مستعمره کړی.

د پښتون د قوم هره خطا او ګناه به وربښله شی مګر يوه ګناه، هغه دا ده چه دوی خپله آزادی پرېږدی او د بل چا تر لاس لاندې ژوند منی.

خوشحال خان ترهر څه ځينو ناپوهو پښتنو ته پردې خبره ډېر په قهر دی چه دوی د خورا پست او کښته مطلب دپاره خپل لوړ ملی مقصد پرېښې دی، د دوی ملی مقصد خورا جګ او مقدس دی، ځکه چه خوشحال خان غوښته د پښتنو يو مستقل قومی حکومت جوړ کړی چه ټول پښتانه يکښې په آزادی ژوند و کړی، او دا په هغه وخت کې د پښتنو د پاره د ژوند او مرګ مسئله وه او اوس هم ده، هو! پښتنو ته چه (حقيقی پښتانه وی) د پرديو تر لاس لاندې ژوند کول مرګ دی، کوم

پښتانه چه په رښتیا پښتانه دي هغوی هیڅ وخت غیر له پښتون مشره د پردیو مشرانو تر حکم لاندې ژوند نه تېروي بلکه داسې خبره دخان مرګ ګڼي خو افسوس ځینې ناپوه پښتانه دومره تمېزي چه دخورا کښته مادي غرض دپاره خپل ملي او مقدس مقصد پرېږدي او دخو ټنګو او پیسو دپاره د پردیو نوکران او غلامان کېږي او دنورو دمطلب دپاره خپل غښتلي زلمیان وژني او قربانوي ئې، دځینو ناپوهو پښتنو داحال ډېر افسوس وړدی او پښتنو له پر داسې ناپوهانو پېټ او نفرین وایي، چه هغوی ولې دخپل ژوند او آزادۍ دپاره خپل زلمیان نه قربانوي چه دنورو دګټې دپاره ئې وژني. خوشحال خان چه ځینې داسې ناپوه پښتانه وینې چه دپیسو دپاره تر خپل ملي حکومت او آزادۍ تېرېږي او دنورو مستعمره کېږي نو په خورا قهر وایي:

که کعبه کړئ قبله د خو ټنګه ده — په پیسه پسې به در ومې تر فرنګه
که پیسه د ملنګي په لباس مومې — مصلې به د ګیدړ کا پسې لنګه

بل ځای داسې په غور ورکوي:

څه یوازې ننګ په ما راغلی نه دی — پښتانه ډېر دي په غرونه په سمونه
یا به واړه د مغلو درم پر هېر دي — یا به زه هم په لاس واخلم درمونه
چه بور وا خوري د مغلو واړه سپي دي — دسګانو په خوله څه اخلم نومونه

خوشحال خان وائي چه دښمنانو ځینو ساده ګانو پښتنو ته دحلوا تال ایښی دی، که دوی پښتانه وي باید مچان نشي او خپل اصلي مقصد پرې نږدي نو وائي:

پښتانه لکه مګس ورباندې ګرځي — ورته ایښې د مغل د حلوا تال

او ځینې ساده پښتانه بد بختان هم هیڅ دې پردي لاس ته ملتفت شوي نه دي که نه وي خوشحال خان څه ګناه کړي وه؟ یوازې ئې داغوښته چه پښتانه په یوه مرکز سره داغونډ شي او ځانته خپل ملي آزاد حکومت ولري، څو په دنیا کښې د پښتنو نوم محو نشي او ددوی پښتني مځکه د پردیو مځکې ضمیمه

نشی اوددوی ژوند دنورو په ژوند کښې ورك نشي، خوشحال چه څینې پښتانه
دخپلې سادګۍ له کبله همیشه دنورو دلاس آله شوي دي او پردیو خلکو دوی
دخپلې ګټې دپاره استعمال کړي دي او دهندمغلو هم دڅینو پښتنو له دې سادګۍ
څخه استفاده وکړه او څینې پښتانه ئې دپیسو په زور په خپل منځ کښې سره
واچول، خوشحال خان چه دغه درد حس کړی دی داسې افسوس کوی:

په بل غشي تو پك هیڅ وېشتلی نه یم
که وېشتلی یم خو بیا په خپل تو پك یم

همغه وا چه څینو پښتنو دبې ننګۍ توره تر ملا کړه او دخپل ملی مشر سره
ئې جنګونه د پردیو دفائدې دپاره وښلول، لمړی خو بنګښو جګړه ورسره شروع کړه
خوشحال خان دخپلو څو ننګیالیو زلمیانو سره چه ور پاته وه د پښتنې ننګ پر
ځای کولو په غرض دخپل قوم بدی همه رمنله او دوی ته ئې وېل:

په داخه که د «بنګښ» راته ننګ ننګ دی
زه هم ښه یم دما هم بر غو تر څنګ دی
عقل زور د «غوریه خیل» تر بنګښ زیات دی
غوریه خیل راسره هم و لاړ په ننګ دی
دبنګښ نـه هو نبره زور و ینم له تو رد
په دا کـوم تو کی له ماسره په جنګ دی
غوریه خیل او بنـګښ دواړه مغلـی دی
همیشه ورته مغـل و هـلـی لنـګ دی
هر ملخی دسر بـاز په هنر څـه ز ده
چه په دا هنر کښې سر ښند ی پتنګ دی
(لا تر اوسه ئـې ماغـزه په قرار نـه دی
چا چه ماسره و هلـی سر په سنـګ دی)

(لا به خوب کښې په لرزه پرېوزي نه کېږه

چه‌دچا ترغوږ د ماد تو ری شرنګ دی ؛

(که‌یه دا دور مې ګو رې هغه زه یم

چه‌مې داغ په خاطر ایښې داورنګ دی ؛

(درست جهان می و مغل و ته خبر کړ

څای په‌څای ئې پښتانه و ته قلنګ دی)

(څینی څه لوئی دعوې لرم په زړه کښې

ولی څه کړم چه‌پښتون‌دادهبې ننګ دی ؛

پښتون خوشحال خان چه‌تر هغه‌وخته‌داورنګ زیب په‌زرګونولښکرمات کړی

او‌ښتولی وو'اوهیڅکله ئی ماتی نه‌وه کړې'اوپه‌هرمیدان کې‌بریالی‌و 'اوس

دخپلو څینو ناپوهو پښتنو دلاسه مجبور شو غروته و خېژی' د « ګنبت »

پوجنګ چه په ۱۰۸٦ هجری کال واقع شو' داسی تصویر وی :

دبنګش په توره مات نه‌یم باور کړه

د« ګنبت » په جنګ می مات ته آسمانی وه

چه‌ مې‌بنه سواره دخان دو پاندې نکړل

هم په دا سبب را پېښه پښېماني وه

چه‌مې تولدوپاندی نه‌تلل په‌جلب کښې

همګي د« حسن‌خېلو » لــا داني وه

سال رحمت د« مهمندیو » په‌تېغه شه

چه ددیو چارله ماسره جاني وه

(چه‌په‌توره ئې« شېرخان » پرېوست له آسه

په‌میدان‌د« عابدخان » (۱) پهلواني وه ؛

---

(۱) عابد خان دخوشحال‌خان زوی دی

چه سردار د ښکنې پر بووت خټک مات شه

په دا هسې رنګې چارې حیرانې وه
«عابدخان» چه په مردۍ راغی له جنګه

وخپل پلار د وته ئې ښه ارمغانی وه
پر ورکې پروکی ئې د سر شا لونه ولاړل

په سرو وینو ئې څېره ارغوانی وه
لاس په لاس ئې انتقام د بابا واخیست

په دا کار باندې سزا ثنا خوانی وه
چه ئې جنګ په میدان کړ پوخو سپاره وه

نورد واړه و بخره تېښت تن آسانی وه
دخټکو په سپر وباندې لعنت شه

په بوه جلوه ئې تېښته ځان ځانی وه
چه او له ما ئې ګلۀ په سپرو کړه

په سپرو کښې چار دجټ د عثمانی وه
ښه ځوانان چه د ګنبت په میدان ومړل

دهر ځوان په زړه کښې اندګه افغانی وه.
همګی ځوانان د ما دزړه ارمان دی

یکښې بیله د عبدل (۱) تانده ځوانی وه
دغلیم سره په آس غاړۀ غړی شو

د عبدل د مړ نښو ب بخره کافی وه
ما دا هسې جنګ هرګز لیدلی نه ؤ

څو می عمر، څو خټك، څو می خانی وه

---

(۱) عبدل هم د خان زوی دی .

ځوانان جنګ تمامه ورځ کاندما تېږي
په یوه لحظه لمحه ماتې آنی وه

یا لښکر د نام و ننګ دی یا دزو
زما دا توله د ننګ نه وه تاني وه

همګی په یوه سیر راسره تول وه
په یوه ساعت ئې څکه پرېشانی وه

چه نه دین وی نه دنیا جنګ و نه څوك کا؟
مګر سهله جنبازی جانستانی وه؟

چه په خواست او په ضرور سره تولېږی
دهغو لښکر و کله و دانی وه

چه می داځله غلیم له دکې خلاص شو
پرې یکبار ه دفلك مهربانی وه

لکه څاڼی چه وبازو ته ځان ځیر کا
هغه هسی دغلیم پر افشانی وه

که زه روغ په ځای ولاړ وی غلیم څه و؟
دېر هار په کار مې درستهٔ ویرانی وه

داځه مړه زما ځوانان نه دی په جنګ کښې
دا زما د ننګ په کار کښې مهمانی وه

که می خپل که می دښمن مری په دا کار کښې
په هر تو کی می حاصله کامرانی وه

سل، څلوېښت ځوانان می قتل په میدان شول
دا ختر په عرفه کښې قربانی وه

چه بې زخمه له میدانه ځي نامرد دی
زه زخمي لاړم د ځان نګهبانی وه

یوه ښېښته نامردي بله مردي وی
ودانا وته دا دواړه عیانی وه

انتقام وته مې ښښت و، له میدانه
نه مې یاده دد نیا زاند ګانی وه

تل خوني مزري هم جنګ کا هم ځان ژغوري
دمزري دښېښتي څه بد ګمانی وه

پیغمبر چه له کا فرو له فرار کړ
وکا فرته ئې په زړه کښې تېغ رانی وه

که ظفر که هزیمت پیامی میدان دی
چه دپلار نیکه مې بخره میدانی وه

که ژوندی په دنیا پایم خود به ګوري
چه په تېغ مې څه ورانې څه ودانی وه

دخوشحال اختیار تر واړه بنګښ تېر دی
که څه ننګه دختک د کړ لانی وه

مګر دپښتون خوشحال خان داماتې لکه پښېپله چه ده وویل دانتقام اخیستلو دپاره وه چه له دښمنه خپل انتقام واخلی، اوبله داچه د خوشحال خان څه داسې مقصد نه ؤ، چه هغه به په یوه ماتې دده له مغزو څخه وتلای، دده مقصد دپښتنو ویښوالی او دپښتني ننګې پرځای کول ؤ، نو ددې مقصد په لاره کښې چه هرراز مشکلات اوزحمات دده مخې ته راتلل،ده په خپل ټینګ عزم او لوړ همت هغه او ارول، اوله مخې ئې ېېرته کول، نو وروسته تر هغه

چه د ښېنو بې ننګو پښتنو له بې ننګۍ څخه ئې لوئی پر ښوو له او کمه ئې و نیوله :

د بې ننګو پښتنو لـه غمه ما　　او ئی پر ښوه و نیو له کمه ما

هغه ملا ئې چه په هوډ سره لوی غروه　　په نا کـام کړه ومغل ته خمه ما

دغو د خولې کـېږي خبری اورم　　چه خبره ور ته نه کړه سمه ما

دا هم ښه که په دا کـار کښې هومره کاروی　　چه کـه واخیست انتقام له ګرمه ما

بیا د انتقام اخیستلو د پاره پاڅېد او په (۱۰۹۱) هجری کـال د رجب په میاشت ئې پر " ډوډه " نومي ځای داسې انتقام له دښمنه واخیست چه له دښمن څخه ئې د کښت کـامیابی هېره کړه او په دې انتقام اخیستلو د خوشحال خان او د ده د ننګیالیو ملـګرو له زړو څخه هم د کـښت د ماتی غمه ووتله ، دلته د دې جنګـ له قصې څخه چه خوشحال خان نظم کړې ده یو څو بیتونه رانقلوو ، دی وایی :

(څو وانـه خلـی لـه غلیمـه انتـقـام

مرد نه خوب کـا نه خوا یه کـا نه آرام

چه د ننګـ او د ناموس اند ېښه ئې نشته

دهـغـه سـړی بـدنـه وی احـتـرام

که همت او حمیت ، غیرت یکښې وی

قـسر ښښتنـه نـه بـهتر ګـڼه غـلا م

(په ورو ورو بدقدم زدی ورباندې خېژی

په یوه ځله څوك نه خېـژی پـه بـام

په دالب کښې که ستی نه وی باور کړه

دژوندون او به ، به بیا مومي په کـام

واده ور ځـي سـره قـه دی بـرابـری

کـله درد ، کـله دارو کـاندی ایام

دمړ دیځ دنا مردیځ تر منځ میل نه دی
تفاوت ئې په ذره دی یا په ګام

چه دبل تر لاسه ور غيء دبل شو
مرد په خپل اری دخپل فکر زمام

چه په ذات ئې پلار نیکه توری وهلي
بري جوړېږی کار دتوری د صمصام

د «ګنبت» غصه می و نه له دله
خدای چهرا کړ په «پوپه» دبری کام

چه په مخ ئې بری درومی «عابدخان» دی
پر هر ځای دخپل بابا کا تازه نام

خدای ئې عمر دخپل پلار کړه کام و نام هم
په غلیم دی ئې لاس بر او سی مدام

غلیمان دي تري حذر خوري که پوهېږی
تېره تیغ ئې اژدها دی خون آشام

چه داهسې تورزن وروړئي خدای پیدا کړ
بري دی فخر کا همه ورو نیه ما دام

دلبنکرو کار څه هسې آسان نه دی
چه پري هر سړی به مو می انتظام

چه رښتینی ترسر تېر بخښل خوړل کا
دغه دو پانـدی سر کېږ دی انام

دمز ری بخره ور مېږ د نېله کا ودی
ګیدړ تر ودی ئې مړ ېږی په لجام

دمیدان هوسېږ به یو یو تازی نیسی
دو ډېر غپ په کاڼي ډېر گرزی انعام

د«ډوډي»حصارئې درست په‌وینو سور کړ
په « ډوډه » با ندې چه وشو قتل عام

پاس په غره باندی محکم ؤ· چا و هلی
د «کوهاټ» تر کوټ ئې، ښه ؤ· استحکام

دخا وند په حکم هسی فتح و شوه
چه ئې کار شو په‌دوه ورځو سر انجام

دا وو کو تونو کار دخدای په حکم
وار په وار شو په هفته کښې انصرام

دتو پکو د ویشتلو په لو گیو
بل آسمان اتم پیدا شو کبو د فام

دخټکو ټېزې هسی تلې په ز غره
لکه ستن په خیمه درو مې دخیام

د ځوانان غاده‌غړی شول په‌دا جنگ کښې
که تقصیر نه ؤ· د تو رو دسها م

« صفدر خان » لاچېرې جنگ ایدلی نه ؤ
په دا جنگ ئې سر نېزه کړه په خصام

د « گنبت » ارمان می درست له دله ووت
که شکست و· که پر هار و· که دشنام

د « بنگش » بخره دپالی دخو کېږ ده
نور د ی نه بیاسی تو ره په نیام

خوك چه‌خپل کسب پر ېږ دی‌بل کسب نیسی
تر هغه نه به بل نه وی عقل خام

که ګاوز په جنګ باتور دی جنګ ئې هېر دی
چه په سرو خوری ښېرو د ضیغام
که «بنګښ» څه څه ننګ وای پري به نکړای
ما دده له ډکه باغه یو بادام
چه بې ننګی چاری کا په واړ و ورشه
لکه راغیء په بنګښو دا هنګام
د بنګښو شامت خپل سزا ئې دا ده
چه په غوښو ئې مړ ښېږی ددو دام
هر کهتر چه د مهتر سره ستېز کا
د عمل سزا به مومی په انجام
هسی غم ما تم الم ور باندی راغیء
رڼا ورځ شوه د «کوهاټ» په عالم شام
د «کوهاټ» په عالم واړه عالم ډک شو
د بنګښو کډه ولاړه تر «بګرام»
که می ښه په «ګنبت» وښو هېډه څه شو
په همت می ثابتی وه د اقدام
د «دوده» په جنګ کی پیاله مېوډک شو
په «ګنبت» کی چه خالی وهغه جام
ښه چه مخ د هغی سو بی را ښکاره شو
چه لیدله می په خوب او په الهام
شېبز اوه زره «خټک» وه په داجنګ کی
په اولجه سره خوشنو دشو هر کدام
د «ګنبت» جنګ می نه ننګ د پښتانه و
بل غرض می په منځ نه و، نه مرام

ددې جنګ ناري به درومی په ملکونو
پرې خو ښېږی به همه پښتون ننګ
چه ددې سو بی آواز و شی په هند کی
بیا به زغ شی دیا چا په خاص و عام
چه په نام پښتون غو څېږی پرې خو ښېږی
او رنګ زیب هسی باد شاه دی د اسلام

تاسی ګوری، سره له دې چه ځینو ساده پښتنو پښتنی ننګی ته شا کړې وه او دپښتنو دقومی مشرسره چه بې دپښتنو دلوی والی او ویښوالی ئې بله آرزو نه دراوده، جنګونه کول — خو بیاهم خوشحال خان د دوی په ماتې له زده خوښ نه دی ځکه چه اورنګ زیب دهرپښتون په مرګ خوښیږی، له همدې کبله خوشحال خان به ویل :

چه په نام پښتون غو څېږی پرې خو ښېږی
او رنګ زیب هسی باد شاه دی د اسلام

اوخوشحال خان دا جنګ خاص دپښتنی ننګی پرځای کولو دپاره کړی دی ځکه چه دبنګښو ځینی ساده ګان دپښتنو ددښمنانو په پیسو اوچل ول غولیدلیوو. او پښتنی ننګه ئې هیره کړی وه . نو خوشحال خان مجبورو، دپښتنی ننګی په لاره کی دهر چا سره چه وی جنګ و کړی . لکه چه وې ویل :

د « ګنبت » جنګ می په ننګ د پښتا نه و
بل غرض می په منځ نه و، نه مرام

که دا نه وای ده به دبنګښ له باغه یو بادام هم پرې کړی نه وای لکه چه وایی:

که « بنګښ » څخه څه ننګ وای پرې به نکړای
ما دده له د کـه با غـه یـو بـا دام

بل ځای پردې حال افسوس کوی چه دی پښتنو د ننګ دپاره جنګیږی خو ځینی ساده پښتانه پخپله دده په مرګ پسې دی — وائی :

زه غلیم د اورنګ زیب یم — سر په غره په بیابان
زه په ننګ د پښتانه یم — دوی نیولي مغلان
د منصب په اخسا فو دی — تل په ما پسی روان

خوشحال خان وایی زه داسی ساده پښتانه وهلای شم، خو بیا هم هر پښتون زما ځان دی، خپل ځان نه وهل کیږی:

دما لاس ور باندی رسی — راواخه نشی خپل ځان

د پښتنو دښمنانو چه بیا د توری په میدان کی څه ونکړل، نور شو تو نواو منصوبو نو ته ئې دومره زور ور کړ، چه په پای کې ئې د ننګیالی خوشحال خان خپل ځوی «بهرام خان» هم د پښتنوالی له دائرې څخه ویوست او د خپل پلار په مقابل کی ئې کار ځینی واخیست داد پښتنو هغه لویه بدبختی ده چه پښتانه ئې هر وخت تباه کړیدی. هو، زړدې لویه بدبختی به چیرته پیدا شی چه د یوه ننګیالی پښتانه زوی پښتنی ننګه پریږدی او د پښتنو او پښتنوالی پرخلاف دخو پیسو د پاره د پلار مخ ته ودریږی؟ پیسې په دنیا کی دهر چا په کار دی او هر څوك زیار باسی چه پیسې پیدا کړی، مګر هوښیار خلك ددې د پاره پیسې غواړی چه خپل شرف، ناموس، پت، شرم او عزت په خوندی کړی، خپل رنګ او نوم په ښه کړی، خو ځینې ناپوهان د پیسو په حب او مینه کی دومره ډوب شی چه خپل وطن، خپل عزت او خپل ننګ په پیسو خر څوی او ځان ته ابدی شرم او بد نامی اخلی، دخوشحال خان زوی بهرام خان هم له دغو ناپوهانو څخه ؤ چه خپله پښتنوا له او پښتنی ننګه ئې د دښمنانو په پیسو او منصب بایللې وه او ځان ئې د پیټ او شرم وړ ګرځولی و د ده ننګیالی پلار د پښتنو د آزاد حکومت فکر په سر کی درلود، خو دی دځو

پیسو غم لیونی کړی و، لیونی لا څهچه د پلار مرګ او د پښتنو تباهی نه ئې ملا ترلې وه خوشحال خان دده په حق کیوا یی :

هنګامه دهلا پـه منځ کـی — د مـغـل او د افـغـا ن
زه پـه نـقش د خپـلـی چـار — که څه شی سرو ساما ن
دی په وهم په وسواس کـی — تل له مادی هر ا سـا ن
زه په لویـو انـدیښنو کـی — دی په کور کیدی غرا ن
چه دمـا سره څوك ټـول شی — دده زړه شی تور لـرزا ن
چـه د مـا دلښـکر غـبز شـی — او بـه کیږی دده ځا ن
پـه دا دوه کاره خو ښیږی — دا احمق، سفلـه، نادا ن
چه زمـاسره څوك نـه وی — بل چه سودمی وی دیـګدا ن
چـه زمـا لـه غـمـه وار وی — بـې حسا به شی شـادا ن
چه اساس د توری کښیږدم — دا نا مردئـې کاغلـطا ن
و مغـلو تـه مجرا کـا — چه خپل پلارمی کړداشا ن
چـــه زمـا سره بـدی کـا — پری رحمت کا مغلا ن
دی لاهـر څه ورتـه وا یـی — ورسره شی پادسی خوا ن
زه دده په کـار خندان یـم — دی زما په کار خندا ن
یا خو دی مه وی لـه مـا نه — یـا زه مـه وی په جهـا ن
رسوا ئـی شـوه، تر منځ پښتنه — نه څه ورك نه ئې څه زیا ن
نظـام پور لـره اوس را غـلم — د غـه ګـوی دغه میدا ن
چه می وار وربانـدی ساز شـی — بیاری وباندی کا دوستان
وار د هری چـا ری تیر شـو — فـکر لوی دی دا زمـا ن
هر چـه دی هغــه بـه و شـی — څـو لا څو له په شیطا ن
که کښیږدم نـام او ناموس ځی — که پاڅم پا ځی طوفا ن

په دې کش مکش کې تېر شو ... په هـا عمـر را یـګـان
د ګټـنې وخت تېـر پـېږي ... وا ویـلا افـغـا ن افـغـا ن
مفـا جـات دې ئې نصیب شي ... یـا ئـې تورمـار جـا نستا ن
چه هیڅوك پرې بد نـام نشي ... هسـې ګـور تـه شـي روان
لـکه عاق دې عاق دې درو می
دیـن دنیـا دواړه خسـران

ځکوم وخت چه بهرام خان خپل مشر ورور « اشرف خان » دهندد مغلو په بند ور کړ نو مغلو دې دسرداری په نـامه سرلوړی کړ، خو شحال خـان داسې ږېغور ور کوی :

تـاهـنر دسر داری نز ده بهرا مه! ... سر داری دی پخپل دور کړه بد نامه
هـم تمامـی خیلخا نې لره بلا شوې ... هم خپل ځان لره بلا شوې بدفر جامه
مشر ورور دې په زندان کړ ته خانی کړې ... دا خانی دی شه په ځان پوری حرامه
نور دې نوم دما دزویو په شمار مشه ... دخو شحال خټك وینا په دا تمامه

دخوشحال خان، له وینا ښکاره څر ګـندېږی چه دخان ځینی نور زامن هم بې ننـګه شوی دی اوده پـا که او قومی نقشه ئې ور کډه وډه کړې ده، لـکه چه وا یـی :

زویو مې خوی دخټکو نور کړ ... زما په نقش ئې پوری سورا ور کړ
وخت د ګټنې دنـام وننـګ و ... بـدو زامنو را ښکاره خپور کـړ

خو هغه زامن چه دخوشحال خان سره په اوزه ولاړوه، او دپښتني ننګی دپرځای کولو دپارهٔ ئې ځانونه قربانول، ده پرې ستاینې وړدی او خوشحال خان ئې هم هر کله ستاینې، لـکه چه په هغه وخت کښې دا کمه خبره نـه وه چه دپښتنو ددښمنانو رشو تونه په لویه پیمانه دساده پښتنو په منځ کې خپاره شوی وو، اوهری خوا ته سپین اوسره ځلېده مګر هغو ننګیا لـو ځلمو چه

پښتنې ننګه ئې پر ځای کوله او د پښتونخوا د ځمکې او پښتنوالی د موجودیت دپاره جنګېدل، وچه ډوډۍ ئې هم په مانداس نشوای موندلای. که دوی هم د دښمنانو نوکري اختیار کړې وای دوی به هم د ناز او نعمت خاوندان شوی وای، مګر دوی حقیقي پښتانه وو، او خپله پښتنې ننګه او پښتنۍ ځمکه ئې په پیسو نه خرڅوله او نه ئې خپله آزادي د دښمنانو په نوکرۍ بدلوله، خپل د کاڼي کالۀ ئې د دښمنانو زرینو ماڼیو، چه پوله دې ننګیالیو ځلمیانو څخه عابدخان ؤ، خان ئې داسې ستایي :

داد کاڼي کالۀ د ما دعا بد خان دی

د مغل پلاو د نورو فرزندانو

که داهو مرۀ نا خلف وا به خلف وی

نن به ما نوبت واهه د خسروانو

همدا رنګه خوشحال خان د پښتنو نور وینې زلمیان چه پر ننګه ور سره ولاړ وه ستایي، مګر په دې خبرۀ افسوس کوی چه لاس ئې نه رسېږی :

مغل پښتون سره په پېچ وتاب دی

چه پښتانه ګورم خوا نه خراب دی

ښه ښه ځوانان شته په پښتانه کښې

چه لاس ئې نه رسی خانه خراب دی

خوشحال خان د مغو ساده پښتنو په زیره پوری خاندی چه له ډېرې ساده ګۍ څخه د دښمن په منصب زړه تړی او له دې نا خبره دی، چه د پښتنو الی دښمن هیڅکله د پښتون دوست کېدلای نشی او نه هیڅ وخت ئې دا زړه دی چه پښتون دې ښه شی، ځکه چه که پښتون ښه شی نو د پر دیو نوکری به پرېږدی ځان به وپېژنی او ځانته به د پښتنو آزاد حکومت جوړ کړی او دا فکر به و کړی چه تر دې چه د نورو نوکرشی ولې به خپله د خپلې ځمکې بادار نشی نو ځکه خوشحال خان ورته وایي :

زیره دې کله د پښتانه شی   چه مغل په منصب ئې زړه شی
مغل کمزوری غلیم په رحم دی   کله ئې زړه وی چه پښتون ښه شی

په دې ترتیب سره د پښتنو دغه وخت د دښمنانو له خوا په ځینو ساده پښتنو کښې رشوتونه خپاره شول او لکه د پښتنو د هر دښمن چه عادت دی پښتانه ئې په خپل منځ کښې سره واچول، مګر بیاهم ځنګه چه خوشحال خان یو وېښ او آزاد پښتون و په هیڅ توګه ئې د پردیو مړی توب نه مانه او نه د مغلو په منصبو نو غولېده، ده له خپل ځان سره ملي مقدسه مفکوره درلوده او دا ئې عزم کړی و چه تر څو ژوندی وی د خپلې دې لوړې مفکورې له عملي کولو څخه به لاس وانه خلي، او په هره قربانۍ چه کېږي پښتانه آزاد او لوی پښتون جوړ کړي مګر ځینې بدبخت ساده پښتانه د کبر و تیږو و دېوا لونه و، هر څه چه به خوشحال خان راسمول نه راسمېدل، دی په خپله وایی ،

که هر څو ئې سازوم رانه سازېږی
پښتانه دی د کبر و کاڼو دېوال

او ځکه په یواځې سر د دښمن مقابلې ته ودرېد او د پښتنو توله ننګه دده په سر ختمه شوه په خپله وایی :

شرم دې ننګ دی دارد سر دی   سمه مې پرېښوه ځای مې غر دی
پښتانه وا په د مغل شوروا خوری   ماته ئې پاته دا شور و شر دی

خصوصاً چه دوه ننګیالی او جنګیالی مېړونه ئې په جنګ کښې بایلل نو خوشحال خان بېخی یواځې د دښمن پاته شو، یو جنګیالی مېړه پښتون «ایمل خان» او بل «دریا خان» و، چه په غلیم ئې ښه ژوبله ساده کړې وه، مګر خوشحال خان په دې تنهائۍ کښې هم د خپل عالي مقصد څخه ستړی نه شو، او وېل به ئې :

د مړو بو مړ نتوب په لښکر نه وی   مېړ ئې هر کله یوازې په خپل ځان شي

آزادي تر بادشاهيه لا ښه ري کا — چه د بل تر حکم لاندې شي زندان شي
په جهان د ژوندګيالي دي دا دوه کاره — يا به وخوري ککري يا به کامران شي

مګر د هند مغلو چه د خوشحال خان پوازې وجود هم ځانته لوی خطر باله زیار ئې یوست چه په هر ډول وی د پښتنو دا لوی اوویښ قائد له پښو واچوی، ځکه خوشحال خان خپل ځان هغه لوی ښامار ګڼی چه د دښمن تر دم لاندې نه راځی، وایی :

پښتانه واړه لکه مارونه دي — مغل دم کړی پخپل کارو نه دي
چه په مارونو کښې لوی مار پیدا شي — پسې ئې غواړي که په غارو نه دي

نو مغلو داچاره وسنجوله چه خوشحال خان په خپلو پښتنو له پښو واچوی او د پښتنو په لاس ئې مړ کړی، په پښتنو کښې خو هم داسې ساده پښتانه ډېر وه چه د پیسو دپاره ئې خوشحال خان لاڅه خپل پلار هم واژه، نو د مغلو دپاره ئې په خوشحال خان پسې ملا وتړله او په خپله د خپل ملیت او پښتنوالی د زړا نولو دپاره آماده شول، کوم حساس او ویښ پښتون چه د ځینو ساده ګانو پښتنو په تاریخ کښې داسې لکې وینی نو ډېر متاثر یږی :

تاسې ګوری، پښتانه تل له خپله لاسه برباد شوی دی همیشه د پښتنوالی او پښتنو دښمنانو پښتانه په خپل منځ کښې د خپلو ناوړو اغراضو دپاره سره وژلی دی، خو په داسې حال کی هم خوشحال خان خپله د آزادۍ باچاهی اعلان کوله :

ګوره څنګه پادشاهي لکه خورشید کړم
یک تنها په جهان ګرزم لښکر نشته

په دې وخت کښې د ژوندګیالی خوشحال خان عمر (۷۷) کالو ته رسیدلی و، خو بیا ئې هم د پښتنو د آزادۍ او د پښتنو دملی حکومت جوړولو چیغی وهلې مګر څنګه چه الله ورته خوا دده عمر پای ته رسیدلی و، او له بلې خوا ځینی ساده ګانو پښتنو

ددهٔ ملامات‌ه کړی وه، نو ځکه دا پرېدیو غرونه وخوت او یو کال وروسته دیو جهان قومی آرزو ګانو سره د (۷۸) کالو په عمر د ربیع الاول په ۲۸ په ۱۱۰۰ هجری کال سم له ۱۶۹۰ عیسوی کال‌ه په ډېری ناکامی وفات‌شو (انالله وانا الیه راجعون) او دلوی پښتون د جوړولو ارمان ئی ګورته له ځان سره یووړ لکه چه وائی
پښتانه چه بی ننګی کا خوك ئې څه کا   ګورستان اره به درومو له ارمانه
خوشحال خان که څه هم له ارمانه ډك زړه ګورستان ته ولاړ مګر بیاهم دده جنګونو او زیار چه کومه ګټه پښتنو ته ورسوله هغه دهېر ولو نه ده .

هوا خوشحال خان د پښتنو د آزاد حکومت په تشکیل کامیاب نشو او نه ئی تول پښتانه ددوی دساد ګیډ لاندې په یوه مرکز راغونډ کړی شول ، خو دومره ئې وکړه چه د پښتنو او پښتنوالی نوم ئې له محو کېدو څخه خوندی کړ ، او ځینی پښتانه ئې په دې وپوهول چه پښتون او پښتو نخوا باید دبل چا ضمیمه نشی او نه دپر دیو ترلاس لاندی ژوند وکړی .

خوشحال خان بند ته ور کړ مګر دده بند بې تأثیره پاته نشو ، بلکه د پښتنو په مغزو کښې ئې په غیر مستقیم ډول دا فکر پیدا کړ چه د پښتنو دښمنان نه غواړی چه پښتانه آزاد ژوند ولری ، نو له دې کبله اکثرو پښتنو خپله لمنه د پښتنو له دښمنانو څخه راټوله او ساتله او نه ئې غوښته چه له دوی سره په معاشرت کښې داخل‌شی او په هر ځای کی پښتانه د پښتنو د دښمنانو مقابلې ته پاڅېدل او جنګونه ئې ورسره شروع کړل ، حتی د پښتو پر ادب ئې اغېزه وکړه مثلاً حمید بابا وائی :

بویه نشم مغلوا له در قیب سته   که زو کړی وم رښتیا له پښتني زه یادا :
په دا تول جهان قراره قراری ده   پر حمید د غم مغل را وختا ته

علیخان وا بی :

پری به نېږدمه رقیب داستاو کوی ته   اپرېدی شوم ومغل نه خبیر نیسم

خوشحال خان په پښتنو کښې ملي روح ژوندی وساته او پښتنی ننګې ته ئې ملتفت کړه او د پښتنوالی د دښمنانو د مقابلې دپاره ئې ډېر ځلې وروزل. دخوشحال خان او وېښو پښتنو مخالفت له مغلو سره ددې خبرې دپاره نه و، چه «مغل» دي، بلکه دخوشحال خان یادونو پښتنو مخالفت دهغه له مغلو سره پر دې خبره ؤ، چه هغوی د پښتنو پر حق تجاوز کاوه. ددوی طبعي حق آزادي ئې نه منله، حتی، د پښتنو پر وجودیت قائل نه ؤ، بلکه غوښته ئې چه پښتانه او د پښتنو مځکه په نورو پورې ونښلوی او پښتانه دخان یا پنجاب یانو مریان او نوکران کړی، ځکه چه ځینی ساده پښتانه ئې هم په پیسو او منصبو غولولي وه، او پښتنی ننګه ئې ددوی له یاده ایستلې وه نو ځکه خوشحال خان او ځینی وېښ پښتانه دهغوی دبدنیت مقابلې ته پاڅېدل او فقط پښتو او پښتنوالی او پښتنی نخوا د موجودیت دپاره ئې دهمت ملا وتړله او خپل ننګیالي ځلمیان ئې په دې لار کښې قربان کړه، او که دمغلو پر ځای بل څوك وای چه د پښتنو پر حق ئې تجاوز کولای هم خوشحال خان او نورو وېښو پښتنو دهغه مقابله کوله! ځکه چه د پښتنوالی قانون دبل چا تجاوز نه مني هر څوك چه وي. دهند تر مغلو وروسته د پښتنو مقابله د پرنګیانو د لویې امپراطورۍ سره هم د دې قانون په حکم وه چه تر سلو کالو ډېر ئې دوام وکړ او پرنګیانو نه کولای شوه چه د پښتنو سر ځانته ټیټ کړي، که څه هم پرنګیانو هم د هند د مغلو هغه لوی چال عملي کړ او ډېر ساده پښتانه ئې په پیسو او رشوتو او منصبو دځان کړه او پښتنی ننګه ئې نری هېره کړه. مګر هیڅ ئې و نه کولای شوه چه ټول پښتانه په زور یا په زر د پښتنوالی څخه واړوي او د پرنګیانو ئې دعاګوی یانو کران کړي له هغه وخته چه پرنګیانو پښتانه د «ډیورنډ» د منحوس او فرضي خط په واسطه سره ټوټې ټوټې او جلا کړه نو خو را ډېر زیار ئې دبوست چه هغه پښتانه چه پرنګیانو

په زور د ځان خوا ته کش کړی وه ، له پښتنۍ ننګې واړوی او د پرنګی
د نوکرۍ یا مزدورۍ پست روح پکښې پیدا کړی او بیا د پښتنو مځکه
د پردیو مځکو ضمیمه کړی او د پښتنو د پښتنوالۍ روح ووژنی ، مګر وئې نه کولای
شوه چه په دې مقصد پوره کامیاب شی ، نه دا او نکو په بډو او نه درو یو
په خاطو ، کرنیل ریپنګټن چه د پرنګیانو یو منصبدار و ، وېل به ئې چه په هند
کښې د پرنګیانو فوجي لګښت (خرڅ) له که له پنځه شپېته کروړه دی
چه له هغه څخه یو ویشت کروړه خاص د سرحد د پاره لګېږی (۱)
نو تاسې له دې خبرې نه اټکل کولای شئ چه پرنګیانو د پښتنوالۍ او د پښتنو
د بربادۍ د پاره د هندوستان درې یمه برخه خرڅ لګولی دی ، او دا ټول
لګښت یوازې په عسکری مهمو کښې نه ، بلکه په دې کښې هغه رشوتونه
او تنخواګانې چه د پښتنو پر سر اخیستل شوی هم شاملې دی .
مګر بیا هم په پښتنو کښې پښتنۍ روح چا و نه وژلای شو ، او د دوی کې داسې
ویښ ځلمیان پیدا شوی دی چه د خوشحال خان د حریت خواهۍ روح ئې په قبر
کښې خوشحاله کړی دی ، او له هغه وخته چه پرنګیان هند ته را غلی ،
او د پښتنو د بربادۍ خیال ئې کړی دی بیا تر اوسه هېڅ وخت په آرامه کښېنستلی
نه دی ، بلکه تل ئې د خپلې آزادۍ او استقلال د پاره قربانۍ ور کړېدی
د پښتونستان آزادو پښتنو خو هېڅکله توپك له اوږو کوز کړی نه دی او هم هغو
ویښو پښتنو چه د پرنګیانو تر لاس لاندې وو ، تل د خولې او قلم ګوزارونه
د خپلې آزادۍ د پاره پر دښمن کړی دی ـ چه دلته د مثال په ډول د پښتونستان
د یوه شاه ځلمی قربانی یادوو : په ۱۸۹۹ عیسوی کال مولوی میرا جان

---

(۱) سرحد برطانیه و افغانستان = د ملك عبدالخان شینواری اثر = ۱۰۰ مخ

کاکا خیل چه دزوند ډېره برخه ئې په آسټریلیا کښې د اوښانو په تجارت تېره شوې وه یوقومي تحریك شروع کړ ' ده اومړی د اسلام نشر او تبلیغ کاره چه دده په لاس څو آسټریلیان هم مسلمانان شول او تر اوسه دده دلاس مسجدونه په آسټریلیا کښې شته مګر یوڅه وخت وروسته ئې ناڅاپه په فکر کښې یو انقلاب او تحول پیدا شو او مذهبي تحریك ئې په انقلابي اوملي تحریك بدل شو. د آسټریلیا په پښتنو کښې ئې د قومي تحریك شروع وکړه او یو جمعیت ئې د «مجلس وطن» په نامه جوړ کړ ' خود آسټریلیا حکومت دانګریزانو په اشاره دا ویښ پښتون له آسټریلیا څخه خارج کړ؛ مولوي میراجان امریکا ته ولاړ' او هلته د کیلیفورنیا په خرا وشا پښتنو کښې ئې خپل تحریك ته دوام ور کړ ' ډېر پښتانه ئې د ځان هم خیال او همفکره کړه اودخپل وطن دآزادۍ فکر ئې ددوی په مغزو کښې کښېناوه ' څو ورو ورو د امریکا ټول پښتانه چه د آزادۍ په خوند او مفهوم ښه پوهېدلي وو ' په دې حزب « مجلس وطن » کښې شامل شول او وروسته ئې ددې مجلس نوم « غدر پارټي » کېښود او د کیلیفورنیا په پنځم لمبر ووډسټریټ 5, Wood Street California کښې ئې مرکز وټاکه او جدي اقدامات ئې شروع کړل .

په ۱۹۰۲ع کال ئې یو هیئت د محمد عزیز خان یوسفزي تر مشر توب لاندې دامریکا څخه پښتونستان ته را واستاوه که څه هم دوی پټ اوډېرې بېړې دعملي په دودرارهي وه ' خو چه سنګاپور ته را ورسېدل هلته دانګریزانو له خوا ګرفتار شول ' محمد عزیز خان دپښتنو ویښ زلمی په غرغره ووژل شو او نور ملګري ئې په حبس دوام محکوم شول ' دا ددې آزادۍ غوښتونکو پښتنو لومړۍ قرباني وه چه دوطن دآزادۍ په لار کښې ئې ور کړه ' اوهم دپرنګیانو د ډېرو کواسو یوه نمونه وه ' چه دخپل امپراطوریت داستعماري

فکر دپاره ئې اجرا کړه ـ مګر څه موده وروسته په خپله مولوی میرا جان دخپلو څو نورو ملګرو سره په ۱۹۰۲ ع کال کښې دخپل وطن اراده وکړه ، دجاپان او روس له لارې افغانستان ته داخل شو ، تیرا ئې د خپل تحریك مرکز وګرزاوه او د انګریزانو د تجاوز پر خلاف ئې اقدامات شروع کړه . دتیرا اپریدیو دی په خپل مشرتوب ومانه ، څو شپې ورځې ئې تېرې کړې چه پرنګیانو یوه حیله جوړه کړه او میرا جان ئې «چه په دې بهانه مونږ او اپریدی باید صلح او یوه معاهده سره وکړو ، مګر د معاهدې په شرطونو باید چه ستاسو مشر لاس لیك وکړی» جرګې ته وروغوښت ، خو چه میراجان ورغی ، انګریزی منصبدارانو ونیو او بندی ئې کړ ، دکه اپریدیو هر څه شر وشور ، پرغل او چپاو نه وکړه ، خو مرحوم مولوی میرا جان د پښتنو آزادی خواه زلمی چه له هغه وخت څخه ورك شو ، نور ئې هیڅ پته معلومه نشوه ، او د انګریزانو د امپریالیستی او استعمار خواهۍ قربانی شو . که دقت وشي د پرنګیانو دا حیله هم عیناً هغې حیلې ته ورته ده چه دهغه مغلو دخوشحال خان بندته جوړه کړې وه . ددې وینې پښتون نور ملګری بندیان او څه چه پاته وه هغه بیرته روسیې او امریکا ته ولاړل (۱) دهغه وخت پښتانه که څه هم دهغو په قدر ونه پوهېدل مګر اوسنی حساس پښتانه باید دمولوی میراجان او دهغه مجلس په نامه ځلی جوړه کړی او دهغه په نامه هر کال ساګره ونیسی .

دا د پښتنو د تحریك یوه نمونه وه ، په همدې ترتیب دمیرا جان نه وروسته نور تحریکونه دپښتنو د آزادی دپاره په پښتونستان کښې شوی دی چه اکثر حساس پښتانه د پرنګیانو په بندونو غرغره ولاړل او کورونه ئې تالا شول چه وروستنی تحریك ئې دمحکوم پښتونستان دملی قائد خان عبدالغفار خان تحریك و ، دا تحریك لومړی د پښتنو د اجتماعی اصلاح په نوم شروع او یو مجلس د «انجمن اصلاح

---

(۱) د کابل مجله ۱۸ کال ۲۱۷ - ۲۱۸ ګڼې .

الا فاغنه » په نوم جوړ شو ، چه په دې جمعیت کښې ډېر وښې پښتانه راغونډ او دخپل قوم د آزادۍ د پاره ئې ملاوتړله ډېرې لویې جرګې اوغونډې فیصلې ئې وکړې ،

خو دپرنګیا نو حکومت چه د پښتنو دا بېداري او بیداري ولیده نو ددې تحریك دخپه کولو د پاره ئې مختلفې پلمې را پیدا کړې اودا الزام ئې په پښتنو ولګاوه چه «سرخ پوش» کمونیستیا ن دی . ددې نه پس په پښتنو دومره سخت مظالم شروع شول چه دهغو داوریدلو د پاره ډېر اوی زړه ضرورت دی . د پرنګی حکومت ټولې وسلې د نوپونه واخله تر توپکو او ماشین ګنونو پورې په پښتنو وچلولې او د تحریك مشران داستعماری حکومت سره دغدارۍ په جرم بندیان شول ، ډېرا کنډ و باخبرو خلقو یقین پیدا شو چه دوی به په غرغره کیدی شی ! په دې وخت کښې د محکوم پښتو نستان دهغه وخت د حکومت یو ډېر لوی رکن خان عبدالغفار خان ته نصیحت وکړ چه د هندوستان د کوم یو سیاسی جماعت سره خان ملګری کړه ! خان داخبره ومنله اود قید نه ئې یو جرګه هندوستان ته ولیږله د هندوستان ټولو سیاسی اسلامی جماعتونو داغټه زمه واری په سر وانه خیستې شوه او دا جرګه بیرته نا کامه راغله ، خان عبدالغفار خان دا جرګه بیا ولیږله چه د کانګرس مشران ووینی . هغه وچه هغوی یو دم داملګر تیا اوړاله منظوره کړه اودهغې ورځې نه پس دمحکوم پښتو نستان خدا ئی خدمتګا ری ډلی د کانګرس سره اتزه په او زه د آزادۍ په جنګ کښې ملګر تیا وکړه او د «لندن ټایمز » په قول څومره کار چه دهندوستان آزادۍ غوښتونکو په څلویښت کاله کې کړی و ، سرخ پوشانو په پنځو کالو کې اجرا کړ ، ددې نه دا فائده سرخ پوشو ته ورسیده چه دهغوی مشران دمرګ او غرغرې نه خلاص شو ، اود کانګرس دملګر تیا په وجه د محکوم پښتو نستان په هغه برخه کې اصلاحات نافذ کړی شول ؛ خو بل طرف ته دپرنګی حکومت نه د بهانې اوالزام یوه بله وسله په لاس ورغله اودا پروپا ګنډه ئې شروع کړ ، چه کانګرس دهندوانو جماعت دی او سرخ پوشو ځان هندو کړ

ددې پرو پیګنډې باوجه ځینې ساده پښتانه په سرخپو شوشکمن شول او ددوی دتحریك ختمولو دپاره خودغرضه خلقوته ښه بهانه په لاس ورغله چه دپښتنو دا جماعت (خدائي خدمتګار) کمزوری کړی .

دا کشمکش روان و، چه دانګریزانو حکومت مجبورشو، هندوستان ته آزادي ورکړی او ملك په دوو برخو ویشل شو، یوهندوستان او بل پاکستان په دې وخت کې دصوبه سرحد پښتنو دیو آزاد حکومت پښتو نستان آواز دخان عبد الغفار خان په وینا اوچت کړ او دټولی انصاف پسندې دنیا یقین و، چه پرنګی داځمکه خپل خپل حقدار ته پریږدی نو پښتنو ته به هم خپله ځمکه حواله کړی ، مګر دپرنګی حکومت داونه منله او په زورئې یواجبا ری قسم ریفرینډم (رایه ګیری) په پښتنو کې وکړه چه یابه په هندو ستان کې شاملیږی او یا به په پاکستان کې خان عبدالغفارخان که هرڅه چیغې ووهلې ولې خوندئې ونکړ، په دې وخت کې دافغانستان زلمی تولو اك اعلیحضرت محمد ظاهر شاه دهغوملی اوقومی احساساتو په اثر چه دپښتونستان دپښتنو په حقله ئې لری دپښتو نستان په پښتنو داجبر ونه منلی شو ، ددوی دآزادی آوازئې اوچت کړ؛ مګر پرنګیان خود خپل امپریالیستی حس له کبله کانه وو، دافغانستان دحکومت داپاك زغ ئې وانه وریدلی شو، او اجباری ریفرینډم شروع شو ، خدائی خدمتګارانو دریفرینډم نه ځان مانې جن کړ، او په رای ګیری کې ئې برخه وانه خیستله او هیڅ قسم غرض ئې په رای ګیری کښې ونه کړ، په دې چل چه کوم وتوانه وغور زیدل دهغو څخه معلومه شوه چه ددې دومره نیاری باوجود اوسره ددې چه مخالف په موقع موجودنه و، بیاهم دخدائي خدمتګا را نو مقابلی ډلې څه ډیری زیاتی رائی وانه خیستلې مګر بیاهم دسرحد دپښتنو هغه مشران چه دخان عبدالغفار خان ملائې ماته کړه له وجدانی مسئولیت څخه خلا صیدلی نشی ددوی فرض ؤ چه پښتانه ئې

د پرنګیانو په چل او حیله پوره کړی وای ، مګر له بده مرغه موږ د مخه وویل چه ځینی بدبخته پښتانه د خپلی سادګی له کبله همیشه د بل د ګټی د پاره استعمال شوی دی او استعمالیږی .

تاسی غور وکړی د خپل ځان د پاره یو قومی او پښتنی مرکز نه لری خو د نورو مرکزونه په خپلو وینو ساتی؟!

په خپله د خپلی ځمکی د یوی لوښتی واک او اختیار نه لری ، خو د پرنګیانو د ګټی د پاره ئې د «العلمین» او ایټالیا میدانونه له جرمنی څخه ګټلی دی ؟!

د پښتونستان د جوړولو او پښتنو د اتحاد فکر ئې نه دی کړی ، مګر و نورو ته کشمیر وهی؟! په دی حال لا همه هیڅ ځانته نه ملتفت کیږی ،

خوشحال خان څه ښه ورته وائی :

ته خبر نه یې له ځانه	څه په تا کیږي څه ، ها ! ؟
در ته وایم نه پوهیږی	څه غفلت ار ي ها هـا ؟ !

رشتیا چه پښتانه ډیر غافل دی هیڅ ئې ځانته فکر نشته چه خالك په دوی څه لوبی کوی؟ ننپرون چه د پرنګیانو قصه ختمه شوه ، داخیال کیده چه زموږ قوم به ضرور ځان ته متوجه او په یوه مرکز به راغونډ شی او د خپل راتلونکی ژوند د ښه کولو د پاره به لاري وسنجوی او نور به نو د پر دیو د لاس بازونه نشی مګر افسوس دا یتم د عصر پلوشو هم د دوی زړونو ته لاره ونه موندله . . . که څه هم دا ګناه د پښتنو نه ده داد استعماریت غوښتو نکو پرنګیانو ګناه ده چه اوس لا هـم د پښتنو له سره لاس نه اخلی ! تاسی وګوری سیلون او برما نه آزادی ورکوی خو پښتانه به لا هغسی دربدره او بې مرکزه د پردیو ترلاس لاندی ژوند کوی د مغلوالی پر ځای خوئې پرنګیوال ه و دروله اوس غواړی د پرنګیوالی پر ځای پنجابی واله او یا کومه بله توره بلا ودری ؟ څله پښتانه نه پریږدی چه خپله پښتنی دنیا جوړه کړی او پر پښتنی مرکز راغونډ شی ؟ آیا نوره د ښمنی لا هم

شته چه بیا پښتانه د خپل استعماریت ترفکر قربانی کړی ؟ او د پښتنو د ښکلو ځلمیانو وینې د ځان د امپراطورۍ د پاره توبې کړی ؟

اوس چه پرنګیان داسې ښکاره کوی چه له دې خوانې خپلې ښې تولې کړی دی بیا لاهم د پښتنو غم ورسره دی او نه غواړی چه دې نه وروسته هم پښتانه د آرامۍ ژوندو کړی، نو غواړی خپل صمیمی دوستان او صادق شاګردان د پښتنو پرسر نازل کړی، چه دوی د پرنګیانو د کیلان وی او پښتانه به په هر نامه حتی د مسلمانۍ په نامه هم د ځان د غرضونو د پاره استعمالوی او د دوی له قوت نه به کار اخلی! کرم وخت چه ئې غرض د سره شو، نو بیا به پښتانه هم هغه شان تش لاس غرونو ته ولیږی او پرهغه څه به چه د پښتنو د ښکلو ځلمیو په وینو ګټل شوی دی خپلې چرچې کوی، داده د استعمار چیانو دیموکراسی ؟!

خیر، پرنګیان خو به خود دا کار ونه کوی، ځکه چه دوی همیشه پښتانه د خپلو شوموغرضونو د پاره قربانی کړی دی، خو غم دادی چه پخپله پښتانه هم خپلې دې تباهۍ ته ملتفت نه دی.

علامهٔ اقبال د سرحد پښتنو ته څه ښه وایی:

ای زخود پوشیده خود را بازیاب   در مسلمانی حرامست این حجاب
رمز دین مصطفی دانی که چیست؟   فاش دیدن خویش را شاهنشهی است
چیست دین؟ دریافتن اسرار خویش   زندگی مرگست بی دیدار خویش
بندهٔ حق وارث پیغمبران   او نگنجد در جهان دیگران
تا جهانی دیگری پیدا کند   این جهان کهنه را برهم زند
اندکی گم شو بقرآن و خبر   بازای نادان بخویش اندر نگر
در جهان آوارهٔ بیچارهٔ   وحدتی گم کردهٔ صد پارهٔ
بند غیر الله اندر پای تست   داغم از داغی که در سیمای تست

میر خیل ا ازمکر پنهانی بترس — از ضیاع روح افغانی بترس
زانش مردان حق می سوز مست — نکتهٔ از پیر روم آموز مست:
«رزق ازحق جومجو از زید و عمر — مستی ازحق جو مجو از بنگ و خمر»
شکوه کم کن ازسپهر لاجورد — جز بگرد آفتاب خود مگرد
عالم موجود را اندازه کن — درجهان خودرا بلند آوازه کن
برگ وساز کائنات ازوحدتست — اندرین عالم حیات از وحدتست
در گذر از رنگ وبو های کهن — پاك شو از آرزو های کهن
پور آذر کعبه را تعمیر کرد — از نگاهی خاك را اکسیر کرد
تو خودی اندر بدن تعمیر کن — مشت خاك خویش را اکسیر کن

علامهٔ اقبال دخیبر په بې مرکزی دسی افسوس کوی:

خیبر ازمردان حق بیگانه نیست — دردل او صدهزار افسانه نیست
جاده کم دیدم ازو پیچیده تر — باوه گردد درخم وپیچش نظر
سرزمین کبك او شاهین مزاج — آهوی او گیرد ازشیران خراج
لیکن ازبی مرکزی آشفته روز — بی نظام و ناتمام ونیم سوز
فرباز ان نیست درپرواز شان — از تدروان پست تر پرواز شان
آه قوی بی تب وتاب حیات — روز گارش بی نصیب ازواردات
آن یکی اندر سجود این در قیام . کار وبارش چون صلوة بی امام
ریز ریز ازسنگ او مینای او — آه از امروز بی فردای او

هو، دنور ومرکز و نه دپښتنو په وینو کښل شوی خودوی څوکسه نه پرېږدی چه دیوه قومی مرکز خاوندان شی ؟! دنورو کورونو به ساتی او دهغو په ورو او کې به ولاړوی ، مګر خپل کور به ئې وران او هیڅ دجوړولو خیال به ئې پسه سر کې نه وی !! دنورو ننګه به په ځای کوی خوخپله نژدې دی چه بی ننګه شی !! نورو ته لوی لوی ملکونه ګټی خوځانته یو ننګیالی کلی هم نه جوړوی خوشحال خان بې ننګه کلی څنګه ښه بیژاندلی دی چه وایی :

مه وای هسې کلي چه د چرګ کولمې خوړینه
شل خمبې په ګور کې د نهستو له غمه مرینه

بل فکر ئې هېر دی خو په غم د زرو پول دې
سربېڅې ئې واده خوننګې ننګې لورینه

د پېر ئې ملکان دي پکښې ښه ملک هغه دی
هرچه بې ننګي کا د چاپېرې رشوت خورینه

کښېني په مسجد کښې د سودو نه کا خبرې
یادښورد لور دوالو رونو ویل کړینه

لس کالو نه تېر کا په یوه جا مه خېر نه
ګوز وجود برمنډ په سر څیره ګېښېږدي زړینه

خاندي پروانه کا شرم نه لري د تښتې
د پېري بې شرمیه د ژوندون د پاره ولړینه

جنګ اره چه ورشي نور څه هیڅ نه کا بې تښتې
جوړ چارو سله تښتي سکه ور ورته نه د رینه

نوم دو دانیږ ویران ښهر دی خو شحاله
لاتری ویران مه شه ورځ په ورځ ده کمتر ښه

هو! خوشحال خان د پښتنو پر ننګه ولاړ پښتون ؤ، د پښتنو بې ننګي چه به ئې
هر ځای ولیده زړه ئې درد کا وه، او د پښتنې ننګې په لاره کې ترسر، مال اولاد
او هر څه نه تیرواددې خبرې د ابیات د پاره همدا خبره بس ده چه په ۱۰۸۹ هجري
کال دده ځلمی زوی «نظام» نامې د ۲۶ کالو په عمر ځوانمرګ شو، پسر

خوشحال خان باندې پښتني ننګه دومره ګرانه وه چه په هغه وخت کې ئې نور ټول غمونه هېر دي يوازې داغم کوي چه «نظام» ولې د پښتانه پر ننګه مړ نشو چه له ټلتکه قبر ته ځي ـ تر دې زيات به د ننګيالیتوب حس د بل ابر پيدا کيږي چه د سري زلمي زوی ئې ومړی خودي ئې په مرثيه کې وايي :

کشکې ځوان د پښتانه په ننګه مړ وای
نه چه ګور اره روان شوله ټلتکه

تو له مرثيه داده :

څه داغونه زړې په زړه باندې فلکه !
چه «نظام» دې له ما بېلکا خوائې د که
خدايه ! ته خو ستمګر نه يې دا څه کړې ؟
خلقه دې په دا کار کړه هکه پکه
په لحد کښې هغه مخ خو رې په چينجيو
چه د هيچا برې پېرزو نه وه ځوا نکه
کشکې ځوان د پښتانه په ننګ کښې مړ وای
نه چه ګور اره روان شوله ټلتکه
چه د قام په ننګ کښې ومړ هغه زويه
په عالم کښې د خپل پلار غاړه کا لکه

نو پښتانه که څه د پښتنوالي حس لري بايد ددې ننګيالي او جنګيالي پښتون مشر وينا ګانې په غوږ و کښې و نيسي او پرې عمل و کړي ځکه چه د خوشحال خان ددې ټولو خبرو مطلب او خلاصه دا يوه جمله ده چه وايي :

پښتنو ! پښتني ننګه مه پرېږدئ !!

(۲)

خوشحال خان وایـی :

اتفاق وکړئ، نفاق پرېږدئ!

که توفیق د اتفاق پښتانه مومي
زوړ خوشحال خان به دوباره شي په دا ځوان

د پښتنو یوه لویه بدبختي چه همېشه ئې دوی تباه کړي دي او یائې تباه کوي د پښتنو په خپل منځ کې بې اتفاقي ده بې اتفاقي هغه بد مزمن مرض دی چه د پښتنو قوي بدن ئې کمزوری او مرګ ته ئې نژدې کړی دی، بې اتفاقي هغه بد چنجی دی چه د پښتنولي دونې تېنګې رېښې ئې سستې کړې او داونه ئې اوس د چېه کېدو خواته کږه کړې ده، بې اتفاقي هغه بده بلا ده چه په هر میدان کښې ئې پښتانه مغلوب کړي او پښتانه ئې د نورو د لاس بازان او د دښمنانو د کټې د پاره استعمال کړي دي، بې اتفاقي هغه شیطان دی چه دوه پښتانه ورونه په جنګ سره اچوي او نه پرېږدي چه دوی په ګډه د پښتنولۍ په جنت کښې ښه او آرام ژوند وکړي، بالاخره بې اتفاقي د پښتانه مات هغه لویه ناپوهي ده چه په هیڅ وخت کې ئې پښتانه پرېښي نه دي چه ځان اوله کړي یا د دنیا په ژوندیو قومونو کې حساب شي او دا اوس چه پښتون قوم تر ټولو قومو پاته دی یو ډېر لوی علت ئې هم دا بې اتفاقي ده، ځکه چه یو قوم یا یو ملت د یو جسد غوندې دی، نو که د جسد ټول غړي په ګډه سره د یو بل کومک ونه کړي او په عمل کې سره متفق نه وي، هغه جسد هیڅکله د نورو ژوندیو جسدو په شان ژوند کولای نشي، بلکه ډېر ژر به داسې مړه شي چه نور به ئې خوړک نوم هم په نومونو کې وانه خلي.

پښتون خوشحال خان چه د ملي طبیب په حیث د پښتنو ټول ملي رنځونه کتلي او معاینه کړي دي یوه ډېره لویه ناروغي ئې همدا بې اتفاقي بللې ده

چه د پښتنو ملي اتحاد ئې شلولی او دوی ئې له هر چا نه ټيټ کړی دی، خوشحال خان د پښتنو هره چاره تر مغل ښه گڼي، مگر دا چه مغلو يا نورو لوبې په کړی دی پوازې د بې اتفاقۍ نتيجه او اثر بولي او پښتنو نه د دوی هغه زوړ جلال او برم وربيا دوی چه د اتفاق او يووالي له کبله ئې مندلی ؤ، دی وايي :

هره چار د پښتنو نـه تر مـغل ښه ده — اتفاق ورڅخـه نشته ډېر ارمـان

د «بهلول» او د «شيرشـاه» خبري اروم — چه په هند کښې پښتانه وه بادشاهان

شپږ اوه پيړۍ ئې هسې پادشاهي وه — چه په دوی پوري درس خلق وه حيران

يا هغه پښتانه نور وه دا څه نور شول — يا د خدای دی اوس داهسې شان فرمان

که تـو فيق د اتفاق پښتو نـه هومي — زوړ خوشحال به دوباره شي په دا ځوان

بې اتفاقي د پښتنو کوروران کړی دی، که نه اومې به د دنيا له خورا لويو او ژوندیو قومونو څخه واى .

هو! ملتونه او قومونه په پوهه او زړه ګياليو اشخاصو ژوندي کېږي او د مدنيت لوړی درجې ته رسېږي. هر ملت او هر قوم چه ډېر عقلمن او کاريگر اشخاص لري هغه ملت او قوم تر هغه ملت چه دکـار اشخاص نه لري ډېر پرمـخ ځـي او د ټيټو قومونو د راهنما او لارښو ونکي حيثيت مومي .

تر کومه وخته چه پښتنو برجسته اشخاص در لودل او په يوه اتفاق وو، په دهلي او اصفهان کښې ئې د شهنشاهۍ نغاري ډ ډنگولې! خو کوم وخت چه ئې د بې اتفاقۍ بلا په کور ننوتله نو ميالي او د کـار مشران ئې پاله منځه ورك او يا په خپل کور کښې ئې تر گرېوانو سره و نيول کورنيو پر خلافو، بدي او تربگني ئې شروع کړي، هم هغـه وخت د دوی شهنشاهي ختـه، چـه خپـله خـاوره ئـې هم ټـوټـې ټـوټـې شوله او پښتا نـه دنـو رو، در وازو تـه ودر پدل، کوم د فـکر خاوند چـه به په پښتنو کښې پيدا شو خپلو ورونو او تربرو به لـه پښو و پښو او مغزی به ئې ورمات کړ دا لاڅه چه په دې به ئې فخر هم

ګاوه. خودې ته‌ئې فکر نه وو چه ديوه پښتون ورور مغزى ماتول خپل مغزى ماتول دي، هر پښتون چه دخپل مشر يا خپل پښتون ورور بده غواړي هغه که يوه‌شي په حقيقت کښې دځان بده غواړي؛ ځکه‌چه په‌لاس کې که يوه ګوته هم درد ګوي‌درست لاس ښه کار نشي کولاى. هم داسبب دي چه خوشحال خان دپښتنو له دې بد بختۍ څخه چه ګور په ګور سره جنګيږي ډير سخت متاثر شوى او دپښتنو دابد خوى داسې غندلا ى

پښتا نـه واړه بد خوى دى — ګور په ګور کاندى غور ځى

بو چه‌سر کانـدى په‌پورته — بـل ئـې و وهـى مغـز ى

د مغل دستر ګـو تـه ئـې — اې خـو شحـالـه نـن اغـزى

خوشحال خان چه د پښتنولۍ او پښتنو د آزادۍ دپاره جنګېده د پښتنو ددښمن ګريوان ته‌ئې دانتقام دپاره لاس اچولى‌و اوړدې وچه ددښمن ګريوان پاره کړى او پښتنو ته ملى آزادى وګټى مګر ډير افسوس دى چه‌د پښتنو نفاق اوبې اتفاقۍ دخوشحال‌خان لاس ددښمن له ګريوانه و کېښې او په خپله ځينى ساده پښتا نه دده لاس پېچلو ته تيارشول، ددښمن په منصبو او وغولېدل مګر دهغوى په چل يوه نشول؛ دښمن پښتنوته بيچاره‌و، خو دخپلو رشو تو په زورئې پښتانه په خپل منځ کښې په جنګ سره و اچول او ددوى ترمنځ ئې دبې اتفاقۍ اونفاق اور بل کړ؛خو شحال خان له داسې پښتنو څخه په دې ډول شکايت کوى :

چـه مغل و ته مـى و نـړلـه تـوره — درست پښتون مى‌وعالم‌ته‌ښکاره کړ

اتفاق پـه پښتا نـه کښې پيـدا نشو — ګنه ما به دمغل ګريوان پاره کړ

سره‌يو نربل اخته دي په‌خپل ګور کښې — په نفاق ئې غم وما ته اجاره کړ

دمغـل پـه منصبو لـو غـره کـېږى — يك باره‌ئې منځ په‌نفس اماره کړه

ماد ولت ورته گستلی و، په توره — دا زما د توری نقش ئې آواره کړ
په منصب چه غولېده کاوو رخه کا؟ — مغل خدای و پښتنو ته بېچاره کړ

دښمنانو هروخت د پښتنو له بې اتفاقۍ څخه استفاده کړې ده، کوم دښمن چه غوښتي دي پښتون مات کړي او بائي دلوړ والـي مخه ونيسي هغه هېڅکله په توره پښتنو ته نه دی راو ړاندې شوی؛ که را وړاندې شوی هم دی نو به ئې نه ده وړې، خو پښتون چه همېشه تباه او برباد شوی دی، د خپلې بې اتفاقۍ او کور په کور جنگو له سببه شوی دی، دښمن د دوی منځ کښې شيطانت کړی، د سپين گوند او تور گوند، غلجي او دراني، مشرقي والي او جنوبي والي او قندهاري والي خبرې ئې شروع کړي، تربگنۍ او ترېورولئ ئې د پښتنو منځ ته را وستلې، نو رنو د خير برغونده سلامت کښېنستلی دی، او پښتنو هم د خپلې ساد گۍ له امله يو له بله د کورو په ورانۍ لاس پورې کړی دی او بيا دېره جزوي خبره ئې ترمر گه سره رسولې دی، کورني جنگ نه قبيلوی جنگو نه شوې او قبيلوی جنگونه اولسی جنگو ته رسېدلي دي او په اولسي جنگو کښې، دېرو پښتنو کورونه وران، مځکې خرابې، زلميان مړه شوی دی مگر هغه دښمن چه دا د نفاق تخم ئې پاشلی دی همېشه د خير برغونده روغ سلامت ناست وی نو کـان سره جنگوی او د پښتنو پرجهالت او ساد گۍ باندی خاندي، ځکه نو خوشحال خان د پښتنو دې ساد گۍ داغ داغ کړی دی او په پخوانيو پښتنو پسې نول کـړی :

که رښتيا وايم «شېرشاه» د اهسي نه و، — لکه مونږ يونه پيداله کوهستانه؟
د خپگو د نفاق لـه لـا پـو هـيـه — يا چه غم ارم لـه خپله خاندانه
پښتانه چه بې ننگي کـاخوك ئې څه کـا — گورستان لره به درو مولـه ارمانه
داداغونه چه خوشحال لري په زړه کښې — رغېدل به ئې په تا کېږي سبحانه!

پښتانه هېڅ فـکر نه کوی چه دا کور په کور جنگونه، د خپـل پښتون

وروړ د پښتو خاورې ایستل، د خپل تربور سره بده تربګني کول څه فائده لري؟ ترڅو به دا ناوړه دودونه د پښتنو کور ورانوي؟ څله پښتانه نه وپيژني او خپل دوست او دښمن نه پیژني؟ په دنیا کې هر څوك د خپل قوم سره الفت او محبت کوي، حتی څاروی او حیوانات هم د خپل جنس سره دښمني نه کوي، تول انسانان غواړي د خپلو خپلوانو سره خپلوي و کړي، خو غیر له پښتانه څخه چه حتی ځني ناپوه پښتانه د وطن له دښمن سره د ومره دښمني نه لري لکه په خپله د پښتنو سره ئې چه لري، نو ځکه خوشحال خان ورته وايي:

بدخوئي به د خپلوانو سره څوك کا   چه په خپله پخپل ځان نه پسندي اندوه
ما چه ولیدل انسان زره قوم مه   د خپل ذات سره الفت کاهر ګروه

خوشحال خان د ځينو پښتنو تيتوالی او داچه همیشه په بلا لړي دی او د هیڅ ترقی او آرامی، مخ ليدلای نشي دا تول د نفاق نتیجه بولي او د دامی پښتنو په باب کی وايي:

چه په دیو کښې یو بنه وی   دهغه د سر جلا د دی
یو د بل په کمی ناست دی   ځکه تل په بلا پا دد ی
په نفاق ئې واده و رك کړل   که شجاع دی که جوا ددی
نه د پلار په و یل کا رکا   نه په نغته د استا د دی
اول زه دا نور له پسته   . څو شته وا ړه دهیدا د دی

د الا شکر کړه خو شدا له
چه بنده نه دی آزاد دی

په پښتنو کښې بې انفاقی اکثره د تر بګني او تر بورولي په نامه پیدا کیږي مګر تر بور څوك دی؟ تره (کا کا) تر بور یعنی د کاکا زوی او تر بګنی یعنی له دې لاری څخه خپلوي ــ مګر له بده مرغه اوس چه په پښتنو کښی د تر بور یا تر بګني نوم اخیستل کیږي نو که اروید وتکی

پښتون وی فوری ئی ددښمن او دښمنۍ مفهوم مغز وته راځی ـ داولی ؟ داځکه چه ځینې پښتانه ساده ګـان دی خو په عین سا د ګـی ګی دپاك او صافو وزړونه خاوندان دی؛نو دپښتنوالی هر دښمن شیطان چه ئې په ګو ته ووت اودی ته ئې دپل پښتون وروړ په باب ګنبې شیطا نی و کړه دهغه خبره منی او نور ئی په غرض پسی هیڅ پو ښتنه او فکر نه کوی چه د اشیطان په‌دې شیطا نت ګنبې څه څه پټ اغراض اری ، او دده سره ئی څه غمځو اری ده . نو بی فکره دتربـګنۍ څخه د ښمنی جوړه کړی اودخپل پښتون ورور سره پر نه څه‌بر خلافی او بدنیتی شروع کړی چه پای ئی و پخو تو بو لو او کور درانو او ته ور سپېړی لکه پرنګیا نو چه په دې سل کـاله کی له همدا سی شیطا نته کـار اخستی او د پښتنو کورئې وران کړی‌دی،حو غضب لادادی چه خپل تر بور مړ کړی یائی کو ر وران کړی بیا په دې کـار ونو ځانته تـور پالی او ننـګیـالی هم وائی. خوشحال خا ن داسـی پښتنو ته و ائـی:

ور نه‌وا یه‌توره ګنبېږده په‌صندوق ګنبی
هرسړی چه مړنی وی پـه تـلـور و

بلـکه خوشحال هغه ځوك ځوانمرد ګڼی چه دخپل پښتو ن ورور سل بدی تړشا کړی او په دې دول خپله ځوانمردی څر ګنده کړی:

که ځوانمردئې ځوانمردی په دی‌هلـه‌وی
سل بدی چه هواره کـړې دخپـل وروړ

خوشحال خان وایی هغه نا پوه پښتون چه دپښتنو ورر نو تر منځ نفاق اچوی ډیر نالائق دی ، یا باید اصلاح کړی شی او یا باید دپښتنوله منځه وو یستل شی، ځکه چه دپښتانه او پښتنو الی دپاره داسی پښتانه دجهالت او ناپوهی ، بربادی او تباهی مکر وبو نه‌دی :ـ

چه په ورو نوو کښې نفاق کانا لایق دی
یا ئي ښه کړه یا ئي مه گرزوه نور

د خوشحال خان زده لاندې خبره څو پر درد کوی چه څنګه بدبخته پښتانه د پښتنی ننګ په کار کښې هم نفاق لری او اتفاق نه سره کوی، حتی خوشحال خان امید نه لری چه په پښتنو کښې لس تنه هم په یوه زړه او دیوې لارې مله پیداشی :

لس به هم سره و نه وینې په ننګ کې
که درست ملک سره پره کړې تر تور سنګه

تاسې فکر و کړیء په یوه لوی اولس کښې چه لس تنه پر یوه لار سره روان نه وی او هریو ځانته ځانته لارو لری نو د داسې ملت او قوم پای به څه وی ؟ ضرور به ئې پای بربادی، تباهی، د نورو غلامی، محو کېدل او تیتېدل وی. دنیا به په سپك نظر ورته گوری او وروری خاندی به، د پردو د لاس آله به وی، ګټی به ئې دوی خوری به ئې نور اذلیل، خوار، دزی، تېزی، لټ او بربندی به ګرځی د تربګنی له غمه به سر کړو او نه وز ګار نه وی، کار به څنګه پاته د دښمن لاس ته به احتیاج او په کاږه مغزی ولاړوی .

د دښمن دپاره به خپل ورور وژنی او د دښمن دپاره به د خپل ملی مشر مخالفت کوی ... داسې قوم که غواړیء و پېژنیء نو د پښتون اولس ته راشیء او ددوی کور په کور بې اتفاقیء او جنګونه و ګوریء، تاسې به وو ینیء چه د پښتنو ملی مشران په سل کښې انیا د خپلو څېنو ساده پښتنو د لاسه پامره، پاورك او پابې قدره شوی دی، ځکه نو خوشحال خان وایی :

په بل غشی تو یك هیڅ ویشتلی نه یم
که ویشتلی یم خو بیا به خپل تو یك یم

خوشحال خان د پښتنو بې اتفاقي نا کام کړی او دده لوبې لوبې نقشې ئې ګډې وډې کړې دی، حتی په ملیونو پښتنو کښې زر جنګیالی زلمیان نشی میندلای، دا ځکه چه نفاق له پښتنو څخه د کږو نیړو د پوال جوړ کړی دی چه هر څوئې سموی نه سمیږی، د خوشحال خان دژوند هغه غنیمت وختونه چه دده باید د پښتنولۍ او پښتونخوا دپاره په کښې ډېر اوی لوی قومی خدمتونه کړی وای، د کورنۍ بې اتفاقۍ په اوارولو کښې تېرشول، دی داسې افسوس کوی:

بېګانه ځوانان که زرله ما سره وای — نور زما ؤ په پنجاب باندی یرغال

له هر څو ئې سا زوم رانه سا زیږی — پښتانه دی د کږو کاڼو دېوال

خدایه عمر مهلت ور کړي په دنیا کښې — چه کا زه کار ونه سم کاندی خوشحال

خوشحال خان تعجب کوی چه دیوه پلار زامن څنګه یو د بل په ځان اخته دی؟ شور او غوغائې دڅه دپاره ده؟ بله چاره نه وینی نو دعا کوی چه ګواندی خدای د پښتنو دا نفاق ور که او پر ځای ئې اتفاق ور کړی:

دیوه پلار زوو ولی — سره تل شور وغوغا

که څلوېښت دی که پنځوس دی — سره واړه شا په شا

مال و ملك دولت می ژغوره — په دا حال کښې ربنا

اتفاق په کښې باقی شی — دا نفاق ئې شی فنا

خوشحال خان هغو پښتنو ته چه د بې اتفاقۍ له کبله ئې خپل پردی کړی دی داسې وائی:

خپل دی پردی کړل پردی به خپل نه کړې

خصلت دی بدشو خصلت به بل نه کړې

غم دی په برخه شو ښادی به تل نه کړې

چه نا قابل ئې ځان به قابل نه کړې

خوشحال خان د دښمن په مقابل کښې د پښتنو د ناکامۍ یو مهم سبب همدا بې اتفاقي ګڼي او رښتیا همداده چه پښتانه په خپل منځ کښې اتفاق سره ولري هیڅوك د دوی د ترقۍ او لوړ والي مخه نیولای نشي. که څوك پر پښتنو غالب شوی وی نو هغه وخت به شوی وی چه دښمن د دوی له بې اتفاقۍ څخه کار اخیستی وی، او دوی ئې په خپل منځ کښې یو له بله سره اچولي وی همدا نکته ده چه خوشحال خان ئې یادوی:

بخت د مغلو پښتانه نه پرېږدي   چه اتفاق وکا په توره زده کېږدي
ګنه که څه هومره پښتانه نه دي   چه ئې په یاد کا د مغلو زړه رېږدي

خوشحال خان د دې دپاره چه پښتانه به یو شي چه بې اتفاقي د دوی کور وران کړی دی او که پښتانه به آزاد او د نورې دنیا د انسانانو غوندې ژوند غواړي نو باید سره متحد او متفق شي او سي، یو د بل ملاتړي، یو د بل سره کومك و کړي او ټول اولس په یوه سلا د پښتونخوا او پښتنو د ژوند د اوږد والي دپاره زیار وباسي، زحمتونه وګالي، خپل کمزوري ورونه قوي او خپل نا بوده ورونه بوده کړي، خپلو بې کاره ورونو ته کار پیدا کړي او خپلي شادۍ غمکي ودانۍ او خپل وران کورونه جوړ کړي ..... نو د ملت او قوم د افرادو ژوند د لاس د ګوتو سره مشابه ګڼي او وائي که په لاس کښې یوه ګوته هم نه وي نوري ګوتي پوره کار نشي کولای او یا که یوه ګوته خوږه وي نوري ګوتي هم ور سره دردمني کېږي او یا که ګوتي په خپل منځ کښې کومك سره ونکړي او په اتفاق و نه خوځېږي په هر کار کښې نا کامه پاتېږي:
د قوم یا د ملت د افرادو هم داشان مثال را وړي او وائي:

پنځه دي ګوتي دي که یوه نه وي   د نورو ګوتو چار به دي څه وي؟
د لاس خوبي ده په پنځه ګوتي   چه سره جوړي وي کار به دي ښه وي

د پښتنو په هره قبیله کښې داسې ډېرې بې ځایه تربګنۍ او ګوندې شته چه له بده مرغه ئې پښتانه د دنیا د نورو ژوند څخه لیرې ساتلي دي او په خپل منځ کې سره اخته دي، د الاځه چه د ځینو پښتنو پښتنو بدې او ګوندې په یوه نسل باندې نه تما میږي څو څو نسله د تور ګوند او سپین ګوند غلجي او درانی خبرې پاتېږي او ممکن چه اوس په پښتنو کښې داسې دښمنان هم سره وي چه شلم نیکه ئې کوم تربور وژلی وي او شلم نمسی ئې بدپالي او د هغه بل نیکه د نمسي وینو ته تږی ناست وي؟! دا په کوم دین، کوم مذهب، کوم کتاب، کوم انسانیت کښې روا او راغلي دي چه دوه انسانان، بیا خصوصاً دوه مسلمانان، په تیره بیا دوه پښتانه ورونه په سوو سوو کلونه نسل بالنسل په زړو کښې یو بل ته کینه سره وساتي او د یو بل وژلو ته دې تیار شي ؟؟

خدای خو داسې خلک نه خوښوي. رسول د خدای خو له داسې کسانو څخه نفرت اري! انسانیت هیڅکله دا منلی نشي! مسلماني خو انسانان ورور ولې ته رابولي! ټول آسماني کتابونه انسانان صلح او اتحاد ته امر کړی دی، پښتنو اله خو هیڅ د بې اتفاقۍ د خبرې او بدلو ته تیاره نه دد نونه یوځېر او نه پوهېږو چه ځینو بدبختو ناپوهو پښتنو دا بدۍ، تربګنۍ او ګوندې له کومه ځایه اود کوم عقل او علم په مشوره خپل منځ ته راوستلي دي ؟؟ په نه داد عقل مشوره ده نه د علم، خاص د ناپوهۍ او ساد ګۍ له کبله د پښتنو منځ ته بې اتفاقي راغلي ده او د پښتنو پښتو، پښتنواله او پښتو نخو ئې ورانه کړې ده نو ځکه خوشحال خان له خدا یه پښتنو ته داسې اصلاح غواړي:

خدای دې ورکړ د پښتنو کـادادرې تو که

یو بد جهل، بل بد قیست، در یم نفاق

د یوه ملت یا یوه قوم څخه داسې ناوړه خویونه ورکول او قوم د لوړ والی خوا ته بیول د قوم د مشرانو کـار دی چه خپل ناپوه کشران پوه کړي، د هغوی

له هغو وخته د بې اتفاقۍ فکر او باسي مګر ډېر افسوس خبره خو دا ده چه اکثر د داسې بدو خويونو رواجولو کې پخپله ځينې مشران وي او دا هغه مشران دي چه شخصي غرضونو دوی ړانده او کاڼه کړي دي او د همدې شخصي غرضو نو له کبله د ملي او قومي ورور ولۍ سره بلکه د خپلو خپلوانو او خپلوانو سره مخالفت کوي. داسې کسان د خپل شخصي غرضونو دپاره هرې بې ننګۍ او بې پتۍ ته تيار وي حتی ملي ګټې او فائدې هم تر شخصي غرضونو قربانوي تر پښتو پښتونوالي او قوم تېرېږي مګر تر خپل شخصي غرض نه تېرېدلی نشي نو ځکه خوشحال خان دې خو د غرضو ته وايي :

کام د زړه که هر څو ښه دی　　　تر ايمانه دی ښه نه دی
چه ئې دا اند ښه نه وي　　　هغه کس سړی په څه دی
نه ئې وينې وينې په سترګو　　　غافل وينې نه دي اوده دی

تر دې وروسته نو خوشحال خان د اتفاق فايدې او مضرتونه بيانوي. پښتنو ته وايي چه اتفاق ګلزار دی او نفاق خارزار که قاسې غواړۍ چه خار کشان او سۍ له نفاقه مه لېرې کېږۍ او که د ګلو مشتاق یاست نو د اتفاق لاره ونيسۍ :

چه درست ګلزار دی دا تفاق دی　　　چه درست خارزار دی ګنده نفاق دی
خار دی به بخره د خار کشانو شي　　　هوښيار د ګلو د ګلزار مشتاق دی

د خلقو دولت په اتفاق بولي خوار هغه څوك ګڼي چه د نفاق په بده لار روان وي. خو پردې افسوس کوي چه په ژوند کښې ئې هيڅ يو داسې ملګری چه بلکل رنګ وي نه دی موندلی. نو وائي :

دولت د خلقو په اتفاق کښې دی　　　هغه به خوار شي چه په نفاق کښې دی
زه د شوم بو يار مې يکرنګ و نه ليده　　　زه هم تر اوسه په اشتياق کښې دی

اول خو په پښتنو کښې د دوی د بې اتفاقۍ له سببه مشران نه دي پيدا شوي که پيدا شوي هم وي د خوشحال خان غوندې به د خپل قوم د لاسه ورك يا فرار شوي

وی، که لەدې نەهم راتېر شی نوبیا پربد ووا ودی دخان اوملك او حا کم په نامه ځان ځینې ترك نی، دغریب قوم غوښې به خوری او داصلاح فکر به ئی لەسره پەسر کښې نه وی، نوځکه خوشحال خان پښتنو ته یوه مشران غواړی چەد پښتنو له منځه بې اتفاقی ورکه کړی اودنا یو هو مشرانو له لاسه اولس وران وینی دی وائی :

خدای چەورك کاندەمېرونه پەاولس کې   پښتنوی هغه او لس و نه بیانګه
یاده کور په کور اخنه‌شی پەمیرځیو   یا بەملك ومغلو ر کاندی بې جنګه

خوشحال خان دپښتنو دبې اتفاقۍ غم خوړ، چه دبې اتفاقۍ اوښ دده د کور منځ تەهم چوك شو او دنفاق بلا دده په خپل کورورنه وتلەدده زامن ئې لەدە څخه بېزاره کړه اودده د کور نې دیووالی رسۍ ئې رشلوله، نوځکه خپلو زامنو ته په قهردی، وایی :

زمازویه دننګ نه دی نەر بتار دی   پرې پوهېږم چه هەواره مرداردی
نەئې اویه اندېښنەنەئې اوری کارشته   د مغلو د طباخ و تـه تیار دی
د منصب دا ضافوخبری کا ندی   په عزت په حرمت کلەخبر دار دی
اتفاق یکا نکـــی نـــې سره نشتـــه   هرګی روان پەبېله بېلـه لاردی
تەدنوم دی نـه دشرم نه دننـګ دی   اندېښنې ئې دنا کس د ناسردار دی

ددنیا ډیری ښادی دهغه قوم دی چه اتفاق ولری! زحمتونه او غمونەهغه چاله دی چەیادروغ وایی او یا په نفاق اخته دی خوشحال خان وائی :-

څوڅو ښادی دی پەدا آفاق کښې   وایه بەبیا مومې په اتفاق کښې
څوڅو غمونـه یـا محنتـو نـه دی   یا په دروغ کښې یا په نفاق کښې

پەدوه رنګی کښې فائده نشته، که پښتانه سود غواړی باید پەخپل منځ کښې یك رنګه اوسی دخوشحال خان هم داغرض دی چەو ایی :-

آفت که ګوري په بې تنګۍ کښې دی — نکبت دد هر په دل تنګۍ کښې دی
ماله دو ورنګو فائده ونه لیده — که سود دی سود خو په یکرنګۍ کښې دی

خوشحال خان د پښتنو دپاره داسې د اتفاق دنیا غواړي چه په هغه کښې د پښتنو هره طبقه کښته ناوده، بلایه او غریبه طبقه په آرامۍ او سرلوړۍ ژوند وکړي داسې اتفاق نه غواړي چه یوه طبقه ئې په خپل منځ کښې ولري مګر له بلې طبقې بدوډي او یازده نه ور نژدې کوي، ځکه چه هره طبقه پر خپل ځای او خپل کار کښې لازمه او محترمه ده حتی خوشحال خان دنا پوهانو طبقه هم بېکاره نګڼي بوازې دومره خبره ده چه هغه باید وروزله شي لوایي -:

کهٔ نادانان دي که هوښیاران دي — ګمان دا مکړه چه بیکاران دي
خوازه ترخه ئې واړه یکار ګڼه — چه پیدا شوي په دا بسا ران دي

خوشحال خان وایي که دنه زړونه یو ه اتفاق کوم سخت کار ته اقدام وکړي هغه کار به که څه هم دغره په شان سخت وي دا تفاق له بر کته نرم شي:

دوه زړونه چه یو شي غر به هم پاره پاره کا
ځار تر یکرنګۍ چه نعمتونه را ښکاره کا

۞ ۞ ۞

مشورت او مصلحت: کوم وخت چه د پښتنو منځ کښې اتفاق راغئ

نو دوی مجبور رېږي په هر کار کښې د یو بل سره مشوره او مصلحت وکړي نو هر کله چه کارونه په مصلحت او مشورهٔ شي نو به هیڅ نیمګړتیا په کارونو کښې ونه وینې او چه کار ونه سم شوه د پښتنو داوران ژوند به هم سم او پښتانه به په منځ ورانده ولاړ شي او د جهان په ژوند یو قومونو کښې به شمار شي، ځکه چه د ژوندون ټولو کارو نو اساس په مشوره او مصلحت بنا دی او له آدمه تردې دمه هر مهم کار چه پای ته رسېدلی د مشورې او مصلحت له بر کته دی نو هم داسبب ؤ چه پخوا نیو پښتنو به په هر کار کښې خصوصاً په قومي کارو

کې جرګې اومرکې کولې د پښتنو مشر او سپین ږیری ګډبه هر څو پوه او هوښیار هم ؤ له خپلو ملګرو او خپلو کشرانو سره به ئې مشوره کوله په خپل سر ئې کار واله نه اجرا کول. مګر هغه وخت چه د پښتنو په منځ کې د بې اتفاقۍ او نفاق بلا را ګډه شوه او کور په کور، کلی په کلي، قوم په قوم بدی شوه او پښتانه تو ټې ټو ټې او هره ټوټه یې بېلو بېلو لارو روانه شوه نه کشرانو د مشرانو پر خبرو غوږ نیوه او نه مشرانو د کشرانو سره مشوره کوله نو نتیجه دا شوه چه کشران له مشرانو څخه په نفرت شول او له مشرانو څخه مستبد ان او ظالمان جوړ شول او پای ئې همدې تیټوالي ته را ورسیده چه اوس ئې وینو. ځکه نو خوشحال خان اول د اتفاق غلبلې ووهلې او ورو وسته ئې د پښتنو پر له پله سره مشوره او مصلحت مهم او لازم وباله بلکه دی د کائناتو بند و بست هم په خبرو ګڼي چه وائي:

بند و بست د کائنات دی په خبرو — پوتر سله صد قه شه سل ترزرو

خوشحال خان د پښتنو دپاره مصلحت یو قومي فرض ګڼي او هلته چه څلور پښتانه د مصلحت دپاره سره کښېني هغه ځای د دوی په مصلحت نو راني بولي او که په اخلاص څلور تنه په اتفاق لاس و نه پورته کړي او دعاو کړي د هر راز فتح او نصرت ور پر انیت کېږي — نو ځکه وائي:

چه قضا شي د څلور و مصلحت — د نمانځه ترقضا ګرنه د اقضاده
د پرینه څلور هوښیار به مشورت — نوراني کا هغه ځای چه سره کښېني
ور به پرانیت شي د فتح د نصرت — په اخلاص چه په دعا لاسونه هسک کا
چه خبر دی د کنګاش په برکت(۱) — بې کنګاشه به هیڅ کار په لاس وانه خلی

خوشحال خان په هغه کار کښې چه بې مصلحته و شي هیڅ برکت نه وینې دده په نزد خیر و برکت هلته دی چه مصلحت وي — دی وائي:

(۱) کنګاش ترکی کلمه ده چه مشورې او جرګې ته وایي،

په هر کار کښې مصلحت شه   خپل پر دی ته نصیحت شه
چه ار بر له مصلحت شي   کله خیر بر کت شي

مصلحت او مشوره هغه څوك نه کوی چه خود پسند وی او هر څه ئی د ځان خوښ وی داسې خلك کهمشران وی که کشران په اجتماعی دنیا کښې دوی ډیره قیمت نهلری داسی کشر نې سره او هسی مشر مستبد بلل کیږی، خو هغه څوك چه هوښیار او پوه وی هغه به هیڅ کله نه بې سره کیږی او نه مستبد او نه به یوازې په خپل عقل او فکر دومره غره وی چه هیڅ مشوره که څه هم مفیده وی نه اروی دا لوی جهالت دی. ځکه نو په پښتنو کی متل دی «هر څو چه هوښیار یې کم عقل پوښته !» خوشحال خان هم وایی :

چه د خپل عقل و بل کاهغه کله خرد مند دی
چه پوښتنه مصلحت کا هم هغه د عقل بند دی
چه می فهم فکر و کړ په دا خپله دانائی کښې
بل نادان را ښکاره نشو که نادان دی خود پسند دی

خوشحال خان د هغه چا ضرر ضامن کیږی چه په مصلحت کارونه کوی دا ځکه مصلحتی کارونه ضرر نه لری او وایی چه سړی په یوازې سر رستم که ډلای نشی همدا راز پښتو متل دی چه « له یوه لاسه تك نه خیژی » خوشحال خان خپل ضمانت داسی بیانوی :

که سړی په مصلحت کښې لړ بر نشی   زه ضامن چه د ده کار به ابتر نشی
د رستم د مړ نتوب خبری او رم   ولې څوك به بې لښکره صفدر نشی

هغه څوك چه بې مصلحته کار کوی که څه هم ډیر دولت و لری بر کت به ئی و نه وینی او هر څو که ئی بخت بیدار وی بیا به هم په ژوند کښې بې ندامته بل څه و نه گوری نو خوشحال خان وایی :

هر څوك چه كار كابى مصلحته　　هيڅ به ونه خوري برله دواته

كه بخت ئې هر څو كار ونه ساز كا　　خالي به نه وي له ندامته

مگر پخپله مصلحت هم دانائي او هو ښياري غواړي څه آسانه كار نه دی

خوشحال خان وايي :

چه كار دچا مشكل شي په تد بير و بله كښينې

دا كار څه اسان نه دی دانائي ورله ده بويه

خوشحال خان مصلحت دټولو په شان او د سړي مقصد د هدف غوندي گڼي هدف چه څوك ولي هغه بايد لومړی ډير ځير شي پس له هغه گذار و كړي ! همداشان څوك كه غواړي خپل مقصد ته ورسيږي لومړی بايد مصلحت او غور وكړي بيا نو اقدام شروع كړي ' خوشحال خان دا مثال څنگه ښه واضح راوړی :

مصلحت لكه تو پك دی　　ستا مراد لكه نخچير

كه دې ښه گذار په كار وی　　قراول ئې كا ښه ځير

په گذار كښې هول مكړه　　په خپل ځان او سه خبير

نور ما ښه كړه بالدې كوزه　　ارو بر مكړه اظير

زه خوشحال خټك ضامن يم　　كه خطا دې شي يو تير

تر دې ځايه پوري چه د مصلحت او مشورت خبری راورسيږي نو خوشحال خان بيرته داتفاق خواته گرزي او د پښتنو داسي اتفاق اوبو والي غواړي چه ټول پښتانه په يوه زړه ' په يوه خوله ' په يوه قومي او ملي لاره سره روان شي او ټول په يوه سلا د پښتو ' پښتنوالي او پښتونخوا دلوړ والي د پاره ملاوي وتړي او د ننگ په كار كي پټ او ښكاره له ډنډه اره تر اتكه سره يو شي او وايي :

درست پښتون له قند هاره ترا ټكه

سره يو د ننگ په كار پټ او اشكار

نو پښتنو ! وېښ شيء !! دنيا وېره ګړندۍ پرمخ روانه ده ـ

په دنيا کښې پوازې تاسې تر هر ملت او هر قوم نه وروسته پاته شوي ياست !

حال داچه په پخوانيو زمانو کښې د دنيا تر ډېرو ملتو دمخه واست !

څو تر څو غفلت ؟؟ څو تر څو دخپل کورورا نول ؟؟

څو تر څو خوب ؟؟ څو تر څو ناپوهي ؟؟

څو تر څو بې اتفاقي ؟؟ څو تر څو ددښمن په خوله غوليدل ؟؟

څو تر څه تربګنۍ او ګوندي ؟؟ څو تر څو دغلچي او دراني خبري ؟؟

پرېږدئ خداى ته وګورئ دابدخويونه پرېږدئ او دنيا ته وګورئ او وېښ شيء!

خپله پښتو ، پښتنواله او پښتو نخوا پخپل لاس مه ورانوئ !!

دخوشحال خان داله درده ډکه ناره واروئ چه تاسي ته وايي :

پښتنو ! اتفاق وکړئ ، نفاق پرېږدئ !!!

---

(۳)

خوشحال خان خټک

د پښتني خاورې سره علاقه ولرئ!

د پیپلاو پاڼي خوره په غره کښې او سه
نه چه پان د هندوستان خوري زما جنده!

پښتانه چه هر ځای وي د پښتني خاورې سره علاقه او مینه لري نو یوازې مینه درلودل کفایت نه کوي باید هر پښتون د پښتني خاورې د ساتنې د پاره د زړه وینې او د روزنې د پاره ئې د تندي خولې توئې کړي. مرګ و مني مګر د بل چا تجاوز پر پښتني خاوره و نه مني او په دې هم باید هر پښتون پوه شي چه پښتني خاوره یوازې هغه ځای ته نه ویل کیږي چه دی او د ده کورنۍ پکښې اوسي بلکه هر ځای چه پښتانه اوسیدلي وي او د دوی د نیکونو په هډوکو هغه مځکه راپوره ته شوې وي هغه پښتني خاوره ده. نو بیا پښتون چه د پښتني خاورې په هر ګوټ کښې اوسیږي باید د ټولې پښتني خاورې سره علاقه ولري د پښتني خاورې د یو سر پښتانه باید د بل سر له پښتنو سره د زړه رابطه و ساتي په خوښۍ ئې خوښ او په غم ئې غمجن وي.

که د پښتني خاورې په یو ګوټ کوم فشار راشي باید ټول پښتانه په هر ځای کښې چه وي په یوه سلا د هغه فشار د لرې کولو د پاره ملا وتړي او که ضرورت وي د خپلو پښتنو ورونو د آرامۍ د پاره خپل سرونه هم پر میدان کښیږدي او باکه کوم د پښتنو او پښتنوالي دښمن پیدا شي چه وغواړي د پښتني خاورې څخه کومه ټوټه جلا کړي نو په داسې وخت کښې د ټولو پښتنو ملي فرض دی چه د فدا کارۍ میدان ته حاضر شي او په هره قربانۍ چه وي د خپلې پښتني خاورې څخه د پردیو مردار لاس نه لنډ

کړی او پ ي نه زدی چه پښتنی خاوره نوتې‌توتې شی‌او‌یاد نورو د خاوری سره ئې ځوك ګډه کړی .

ملی مشر خوشحال خان چه دمتجاوزینو مقابلې ته ملا تړلې وه د همدې مقصد دپاره ــ مګر ځینو هغو ناپوهو پښتنو ته چه په پردی پان غولېدلی وو ، دوطن او پښتنی خاوری مینه داسی ورپیا دوی :

که مې بو ځله رسید و شی تر سیندده   نوردی‌هه‌و ینم‌په‌نورو ستر‌ګو هنده
له به ستر ګې دسری په چاخوزېشی   نه‌ئې ماته‌په‌ اوبو شی دچـا قنده
دپېپلو پانه خوره په غره کښې ازسه   نه‌چه‌پان‌دهندوستان‌خورې‌زماجنده

بل وخت چه به ځینو ساده ګـانو پښتنو دبل هیواد تعریفونه کول او یا به ئې تر پښتنی خاوری بله خاوره ښه ګڼله ، خوشحال خان به‌دېر قهر دهغوی خولې ورما توی او‌دبل ترچنبا ګل دوطن خار ښه ستایی :

خدا یه ماتی‌هغه خولې کړي   چه به و ایی هندو بـار ښه
ښه‌په هند کې چنبا ګل دی   تردا ګـل د وطن خـار ښه

خوشحال خان چه‌خپل پښتنی حکومت په‌خپله‌پښتنی خاوره کښې نه‌وینی او‌په هندکښې نظر بند ګرزی نو‌هند پرېده دوزخ او‌دبل حکم پرې زندان دی ځکه نو وایی :

هند په مابـا ندی دوزخ شه   که په نور عـالم جنت دی
دبل حـکم پرې زندا ن شی   چه‌په خپل حکم عا دت دی
نه خپل ور کړل رانیول شته   نه‌خپل حکم حـکو مت دی

خوشحال خان هېڅوخت دهندو ستان دعیش وعشرت ، نازو نعمت په وطن کی خپله سپېره پښتونخوا او پښتنی خاوره هېره کړې نه‌وه ، تل‌ئې لــه هغه ځایه خپلی پښتنی خاوری ته سلامونه رالېږل او دائـې آرزو وه چه کله

بهئي دخپلو غرو سرې اوبه په نصيب شي، اوخپله دا آرزو په داسې الفاظو کې څر ګند وي :

که ګذر په «خيرآباد» وکړې نسيمه!
يادي ګښت وشي د «سرای» دسيند په سيمه

په بار بار سلام زما ور ته عرضه کړه
ور سره زما د لوری ځو تسليمه

ابا سيند وته ناره وکړه په زوره
و «لنډيډ» ته وينا و وا په حليمه

ګوندې وی چه بيا مې ستاسي جام نصيب شي
په «ګنګا، جمنا» به نه ؤ، لنه قديمه

که دمند دموا زار کړم ځو به زار کړم
د اوبو بلا ئې لا بده عظيمه

که دلهر او به ښې کولمې پرې باسي
هم دهر کوهي اوبه نه وی بې بيمه

چه سرې اوبه دغره نشته په هند کښې
ترڅې تربه که وانه پك دی له نعيمه

هميشه به په هند نه اوسې خوشحاله
عاقبت به عاصي ووزې له جحيمه

دا تول غندنه ددې دپاره وه چه خوشحال خان پښتنو ته دپښتنې خاورې مينه او محبت وښيي او دوی ته وښايي چه پښتنې خاوره دپښتنو ده او پښتانه بايد په خپله پښتنې خاوره کې واوسي، نه دا چه ددوی خاوره دپردو دخاورې سره ګډه شي ځکه چه پښتانه دخپلې پښتنې خاورې خاوندان دی، او دخپلې پښتنې خاورې واك بايد دبل چا په لاس کښې ورنه کړي او پښتانه بې خپلې

پښتنی خاوری بلځای نه آزاد ژوند کولای شی او نه په پردیو وطنو کښې
د پښتون قدر کېدلای شی څنګه چه لنډۍ ده :

هو لا دی خپل وطن ته بوزه
پردی وطن د مړو قدر کمو ینه

د پردی وطن بوټی ار خا شاك لا په سری خو لې لګوی، یوه پښتنه انجلۍ چه له پښتنی خاوری جلا شوې ده د پردی وطن نفرت داسی څرګندوی :

هوری ! لنډۍ کمیس راوکه
پردی وطن دی ترخی خولې رالګوینه

خوشحال خان هم په پردی وطن کی خوښ نه دی، خوښی ئې یوازی په خپل وطن ده چه وایی :

دخوشحال دزړه خوښی نشی بې سرایه
خپل وطن ئې پر هرچا بالدی کشمیر کړ

دپښتونخوا سپېرې ونی لاهم پښتنو ته چندنې وخاوری ئې مشکو عنبر او کانی ئې دسرو زرو په شان قیمتی دی ـ خوشحال خان وایی :

دوطن ونی چندن اگر دی　　خاوری ئې واړه مشکو عنبر دی
که ئې سرای اورو وته سنګپر دی　　کانی ئې واړه ماته سره زر دی

ځینی نا پوهان چه دخو پیسو، یادکوم منصب دپاره ئې خپلی خاوری ته شاه کړې وه اودنورو دنو کوی په غرض به ئې له خپل ګران وطن څخه کوچ کاوه خوشحال خان ئې داسی تنبیه کوی :

درزی لا ګز لری، مقراض سو زن لری
بوجمدر ګوتی خو شحال خیرن لری
کوچ ئې آسان دی مشکل هیڅ نه دی
غم د یا را لو درد د وطن لری

هو، څوك چه حقيقي پښتون وي هغه بايد دوطن دردوارى او د وطندارانو غم ورسره وي، او څوك چه دوطن درد لري، باد وطندارانو غم ور سره وي هغه هيڅكله پښتنې خاورې نه پرېږدي او نه د نورو تر ګرۍ منسي، او غير له خپلې خاورې څخه نور هرځاى بانديسقروي، لكه خوشحال چه وايي:

نور جهان سقر شو بالدي سراى دار القرار دى
ګله به خوشحال دار القرار لره ور د رومى

خوشحال خان چه د پښتنې ننګې پر ځاى ګڼلو او د پښتنې خاورې د آزادلو د پاره د مغلو بندته ځان ور كړ او په زنځيور كښې د دښمن په لاس كښې بندي ؤ، نو د پښتنې خاورې مينې او عشق ئې په زړه كښې داسې لمبې وهلې چه ويل به ئې:-

پښتنې جونې دې زلفې باد ته نيسي
چه شمال ئې دوي راوړي په زنځيور كښې

بل وخت چه د پښتنو د ننګې د پاره غره، په غره، په لوړو ژورو سرګردانه د پښتنې خاورې د يوې تړنې په ننداره ئې هم زړه خوشحاله دى او ځان د فلك منت بار بولي چه وايي:

لامنت لرم په داهم له آسمانه　　ننداره دا باسينداله «مير كلانه»
په «نيرا» په «سوات» په خوږه ور په ورشوم　　بيا مې كوم لورى ته نه بيايي آسمانه

د «لنډي سيند» او «باړې» اوبه د شربتو غوندې په خوشحال خان خوږې لګي او د «ماترې» دغره لړه والي داسې ستايي:

يا اوبه د لنډي سيند ياد باړې دي　　چه په خوله مې تر شربت لګي شيرينې
د ماترې غاښې لېغ د رومي و آسمان ته　　په خاته لنډې بزني باندې سپينې

خوشحال خان د پښتنې خاورې په اكثرو سيمو كې ګرزېدلى دى او ټولې سيمې ئې ښه ستايي. خصوصاً خپل ټاټوبى «سراى» ئې ښه خونښ دى، تاسې ګورئ د سراى جغرافيائي وضعيت څنګه ښه بيانوي:-

رحمت په اکوډی شه چه ئې و نیوه ځای سرای
چه ښه فهم ئې و کړې باور و کړه ځای دی

تور غرئې د هوډې دی تر تیر ا پورې سم تللی
نیلاب و لنډی دواړو عجب سره ښښی پـه پـای

پرې سازه لوبه لار د هند وستان وخرا سان ده
ګذر ئې داتك دی چه ترې ترس کـاشاه ګدای

هنر فیض ددې جهان څه چه یادیږی پرې رادرومی
چه ملك ئې بارانی دی څه بهار لری های هـای

که سوات که اشنغر که پښور دی دامل کو نه
رجوع لری و ده ته فیض ور دروی د هر ځای

په هر لوری ئې ښکار شته دشاهین دباز او هرڅه
واه واه کـاله پانه ئې چه ئې ښکاردی دلربای

ځوانان ئې چاق، دزست، چست و چالاك دی په هر کـار کښې
خوښې ستر ګی سپین او سربلنده بالا دی په نمای

آسمان ځنی جدا کړلاس دچا رسی آسمان ته
خو شحال له سرایه نه دی جدا شوی په خپل رای

له دې تولو څخه داڅر ګندیږی چه ننګیالی پښتون خو شحال خان خټك
د پښتنی خاوری سره ډیر زیات عشق درلود او هم ئې پښتنو ته ویل .

ښې دی تر منګو د وطن خـا وری
تـودې او بـه دی دوطـن وا وری

۞ ۞ ۞

پښتنی خا وره کوم ځا ی ته و یلی شو ؟

دمخه موو ویل چه په هر هغه ځای کی چه پښتانه د کـلو کـلو راهیسی میشته وه
او یا میشته دی او دپلرو او نیکونو هدیره ئې جوړه ده هغه پښتنی خاوره بلله کیږی

له اسلام قلعه او هامون (سیستان) څخه را نیولې ترا باسیند پورې او د آمو له غاړې څخه بیا تر بحیرهٔ عرب او له بلې خوا له چترال څخه تر بحر هند پورې پښتانه پراته دي خو د پښتنې خاورې ځینې ټوټې انگریز انو په غیر حق د یخوا ئې هندوستان او ننني پاکستان سره ګډې کړې او هغه ئې د دیورنډ د منحوس او فرضي خط په واسطه له پښتنې خاورې څخه جلا کړې دي ، مګر او سیدونکي ئې بیا هم پښتانه دي او هیڅوك نشي کولای چه د دوی زړونه له پښتنې خاورې څخه بیل کړي ، بلکه ننني سباوینو چه هغو ټولو پښتنو خپله خپلواکي غوښتې ده او غواړي ځانونه په آزاد پښتونستان کې شامل کړي ـ

دا ځکه چه دوی پښتانه دي او له پښتنې خاورې سره علاقه او مینه لري نه غواړي چه تر ابده نو د دوی د پلار او نیکه هیوونه د نورو تر پښو لاندې وي ، او یاد دوی واك د نورو په لاس کې وي او دا ئې طبعي حق هم دی .

دا ټك د سیند څخه مخ په کښته جنوب ته د ملتان او سیند په خوا ؤ کې او بیا دا باسیند نه مخ په لمر لویدو او د شمال خوا ته پلر ګټنی پلر ګټنی پښتانه پراته دي ، بر سېره په دې د پنجاب او سیند په صوبو کې دا باسیند په نمر خاته غاړه د پښتنو داسې اولسونه پراته دي چه او س هم پښتانه دي ، خپله ژبه او روایات ئې ساتلي دي لکه چچ ، عیسی خېل ، ساغوری ، داؤد خېل ، مکهړ ، میانوالي ، ډېرهٔ غازي خان په پنجاب کښې ـ او ښکارپور ، جیك آباد په سینده کښې ، لنډه دا چه له چترال څخه نیولې مخ په جنوب تر بحر هند پورې د پښتنو غټې غټې قبیلې پرتې دي چه د ځینو قبیلو نومونه ئې دا دي : ـ

یوسفزی ، مندڼ ، زاړه صوانی یعنی اتمانزی ، نارخیل ، چارخیل ، اکازی ، مشوانی ، ماموند ، سلارزی ، اوتمان خیل ، مومند ، صافي ، رانی زی ، محمدزی ، خلیل ، خټك ، اپریدی ، شنواری ، ورکزی ، توری ، بنګښ ، بنوڅي ، وزیر ، دوړ ، مسعود ، نیازی ، بیټنی ، سدوزی ، نورزی ، اچکزی ، کاکړ او نور ...

دهغو ټولو علاقو نومونه چه د پښتنو د اقبیلې په کښې اوسېږي او انګریزانو غوښته هغه سره ټوټې ټوټې او جلا کړي دادي : ـ

ګلګت، هونزه، نګر، یسن، چیلاس، (دجمو، او کشمیر مربوطات) ګبر، بګرو، سیو، پټالس، جالکوټ، نندیار، کاګان، اګرور،

اوګي، تیکری، اکازوډره، سپند کری، امب دربند، چترال، دیر، سوات، باجوړ، ارنګ برنګ، مهمند، پېښور، مردان، ګنداب، ګیاکول، کوهات، تیرا، کورمه، وزیرستان، (دمیرانشاه وانه) بنو، ډیره اسماعیل خان دډیره غازی خان غربی برخه، ټول بلوچستان چه په قلات، لس بیله، خاران کویټه، هرنائی، سیوی، چمن، او پښین، ژوب، مشتمل دی (۱) چه په دی ترتیب په دې علاقو کښی تقریباً او یا لکه یعني اوه ملیونه پښتانه دي چه په یوه سیمه او یو ځادر کی سره اوسیږی او ژوند تیروی، علاوه دافغانستان له خاوری داټولی علاقې پښتنی خاوره بلله کیږی او دخوشحال خان سره دټولی خاوری د آزادی او اتحاد غم ؤ، مګر څنګه چه پښتانه دغفلت په خوب بیده وه نو ځکه ده ورته ویل :

سرئې هوری قند هار بل ئې دمغار دی
تر دا منځ واړه مېشته همه عبث دی

خوشحال خان یوازی دهغو پښتنو د آزادی زیارنه یوست چه دی پکښی اوسېده بلکه دټولو پښتنو اتحادئې مقصد ؤ، غوښته ئې چه یولوی پښتون جوړ کړی. نوځکه ئې پر کابل چه داوسني افغانستان مرکز دی هم دانه پېرزو کېدله چه پر دی متجاوزین حکومت باندی وکړی او پښتانه پکښې خوار وی نو وائې :

۱ـ د کابل مجله ۲۱۷، ۲۱۸ ګڼه.

د کابل مېوې خوراك دى دطو طيانو
نږې خواره شول تور كارگان له هندوستانه

بل ځاى د كابل سره خپله پښتني مينه داسې څرگندوي ،

نور باغونه د نوروز په وخت ښه ښکاري ... په هاله كا غوړېده د كابل باغ
ستا له باغه بوگل ما لره دولت دى ... نه په سل رنگ گلونه د بل باغ

وگورئ چه خوشحال خان د كابل بوگل د نورو د سلو گلو سره نه برابروي
همدا شان كابل چه د پښتنو مركز دى ده لى تر ښار ښه گڼي او د ډهلى
ورانۍ تر كابل د مخه غواړي مثلاً وايي :-

چه لاښار د ډهلى ښته نو خو شحاله
څه فائده که وران په آ سره كابل كړم

همدې مينى مجبور كړى ؤ چه كابل ته راشى او په ۱۰۸۰ هجرى كال ئې
په كابل كې خپل پښتني احساسات څرگند كړى دي چه وايي :-

پوره زر ا نيا گلونه په كابل كښې
داغزل مې په بياض باندى تحرير كړ

خوشحال خان چه په پښتني خاوره د پر ديو متجاوزينو مظالم ليدل نو بې
له دې ئې بله چاره نه ليدله چه يا بايد مقابله وكړي او يا غرونه وخيژي نو وايي:-

دا كشور له سر تر پا په كفرستان شو
يا مې ځاى كړاى غاړى غر ونه ياغزاوى

خوشحال خان په پښتني خاوره كې د پښتنو دښمنان كتل چه د پښتنو بېخ
كاږي او بر باديه ته ئې ناست دي ، يا پردي ته چه دخپلو په جامه كې ئې

ځانونه ښکاره کول‌ه‌او یا په خپله ځینې بدبخته پښتانه وه چه د ساد ګی له کبله ددښمنانو په‌رشوتونو او منصبو نو غولیدلی وه نوخوشحال خان پښتنوته داسی لار ښیي :-

رخنه ګر د ملك پرې مېږده په خپل ملك کښې
په حکمت په زر وزور په لښکرو نه
وروراوزوی د ملك په کار کښې قتل کېږی
نور په واړو بانـدې چوړ شوه محضرو نه

بلکه دخوشحال خان دوطن رخنه ګرد استونی مار ګڼی او دستونی مارخوډېر خطر ناك وی :-

رخنه ګرد ملك په‌خونه کښې ماران دی
چه‌ماران دخونی شته خوبی کـڼا مه

په‌دې ترتیب خوشحال خان د پښتنې خاوری سره مینه هر پښتون ته‌وصیت کوی او وایی :-

« دپښتنې خاوری سره علاقه واری ! ! »

خوشحال خان وايي :-

(٤)

علم او هنر زده کړی!

چه ئې علم هنر نه وي ځيني تښته
بې هنر سړی که وګوري لاشې دی

د پښتنو بده بدبختي په کور نه ده چه سړی ئې غم وخوري د پښتون ژوندون سرتر پايه بدبختي ده، هرڅه نه چه ئې ګوري هغه د افسوس او اصلاح وړ دي په هره چاره کښې پښتون تر ويښې دنيا وروسته پاته دی، که ځينو بې ننګی ته مخ کړی ده اتفاق ئې هم نشته، که اتفاق نه لري په علم او هنر هم لکه چه ښايي خبر نه دی چه دا بدبختي ئې د ټولو بد بختيو سر بلله کېږي، بلکه د پښتنو د ټولو بد بختيو سبب همدا بې علمي او نا پوهي ده، که ځيني نا پوه پښتانه پښتني ننګه پرېږدي او د نورو د ګټې د پاره استعمالېږي يا که په خپل منځ کې سره خوري او اتفاق نه لري، يا که ئې خاندانه فکر نشته او د ټولو پښتنو د اتفاق مفکوره نه تعقيبوي. يا که په يوه مرکز نه راغونډيږي او قبايلي تفرقې ئې منځ ته راوستلې دي، او يا که ئې ځمکې شاړې دي او ښه ښارونه ئې نشته، يا که په نس وږي او په تن لڅ دي او نور ...

د دې ټولو سبب دا دی چه علم او هنر نشته او په دې ويښه دنيا کې چه څوک علم او هنر نه لري هغه پر ژوندیو نه حسابيږي او نه د ژوند په حق څوک ورته قائلیږي، که قائل هم شي نو داسې ټيټ ژوند به کوي لکه ننن چه ئې پښتانه لري، حقيقتاً تر بې علمه ژوند مرګ په زر درجې بهتر دی، خدای تعالى چه په قرآن کريم کې فرمايلي دي چه :-

«هل يستوي الذين يعلمون والذين لا يعلمون »

«آيا برابر دي هغه کسان چه علم لري او هغه کسان چه علم نه لري» دا نو د پاره د دې درس دی چه بايد د علم خواته توجه وکړی ځکه هغه انسان چه علم لري همېشه مخ په وړاندې ځي او د دنيا او اخرت ګټې حاصلوي

او هغه انسان چه نا پوه دی تل مخ په کښته روان او دنورو دلاس محتاج وی : خوشحال خان چه د پښتون دې اوی نقص ته ملتفت دی نوور ته وا یی :

علم نا بیا یی په پورته ' جهل تا بیا یی په کښته
یا عیسی له ور دریمه ' یا قارون ته ځان وسپاره

بلکه خوشحال خان هغه څوك چه علم او فضل نه لری که څه هم د پاچا پر تخت ناست وی یو ځناور او حیوان بولی او دانسانانو له ډلې څخه ئې نه شمیری دی وایی :

چه ئې علم ' فضل نه وی چه په تخت د پاچا کښېنی
یا یو ایږدی ' یا لېوه دی ' یا ئې ګاؤ خر شماره

راشئ چه یو وار دې جهان ته په دقت و ګورو څه دخدای عالم دی چه په دې خاورینه مځکه کی سره ښوری ' رازراز ځناوران ' رازراز خځندې ' راز راز حیوانات او انسانان دمځکې په سر موجود دی ' ځینې غټ او ځینې واړه مګر دځمکې حاکمیت دچا په لاس کښې دی ؟ دانسانانو !!

داولی ؟ آیا انسانانو دمځ په زور او په خپل قوت دا حاکمیت حاصل کړی دی ؟

آیا تر انسان نور غښتلی او غټ حیوانات نشته ؟

شته خو مګر بیاهم ولې انسان دا ټول مغلوب کړی دی ؟

دا ځکه چه انسان پوهه او عقل لری ' دمځ زور نه دی عقلی او علمی قوت دی .

همدا راز به دانسانانو په منځ کې و ګورو ' ټول ' انسانان دوه لاسونه دوې پښې ' دوې سترګې دوه غوږونه ' یوه خوله لری ' مګر داڅه سبب دی چه ځینې انسانان پرنورو حاکمیت کوی او بیا ځینې ملتونه نورو ملتونو ته احتیاج دی او دهغو سلامی کوی ؟ داهم ګه موږ په غور و ګورو غیر له علمی نفوذ او قوت څخه بل هیڅ سبب او عامل نه لری ' هرڅوك چه په علم کښې لوړ وی هغه په هرشی کښې لوړ دی او هرقوم چه علم نه لری هغه تل ټیټ او ذلیل دی ' نن ورځ انسانانو دعلم په زور هوا او دریا بونه مسخر او دځان

تابع کړی دی، دعلم او هنر له برکته په هوا الوزی او په دریابو لنه وزی غړونه سوری کوی او دسیندونو مخ بندوی. مگر دا یوازې دصورت او متو په زور نه دی شوی او نه کیږی، بلکه دعلم او روحی قوت په زور دا حیرت را وستونکی کارونه پای ته رسوی خوشحال خان هم وایی:

دصورت په زور قوت غرونه ماتیږی　　که خبر یې دکوه کن په زور قوت
چه دروح قوت پیداشی قمر شق کا　　په هر لوری ئې په مخ دروهی اصرت

خوشحال خان دهغه چا په حال افسوس کوی چه غوز، خوله او ستر ګی لری، مگر څه نه زده کوی، دی داسې سړی له ازله «سیه ګلیم» بولی چه عاقبت به ئې ندامت په برخه شی:

که په خوله، په غوز، په ستر ګو څه زده نه کړي
نور ورد رومه از لی سیه ګلیم بې
پیر، استاد، مرشد به واړه در ته شاکا
که په جهل مرکب کښې مستقیم بې
عاقبت به دې په برخه ندامت شی
چه داسې دجاهل سره ندیم بې

دلته خوشحال خان دپښتنو ناپوهی ته مخ را اړوی او ګوری چه دامرض په پښتنو کښې تر هر قوم ډیر دی او نه یوازې ځیلې ناپوهی ته نه ملتفت کیږی بلکه فخر په کوی نو خوشحال خان داسې پېغور ور کوی:

درست جهان په ناپوهانو سره ډک دی
ولې زیات که په کښې وګوري افغان دی

ناپوهی خولا ناپوهی ده، مگر د ځینو پښتنو تر دې اندازې د پوهی سره جو ده نه ده چه خپل ځان پو هول هم نه غواړی او نه ئې زده دی چه کوم هنر زده کړی، دا څوڅو سببونه لری چه مهم ئې دا دی:

۱ــ ځینې پښتانه چه څه ځمکه یاڅوپیسې پیدا کړي، نو داڅې فکر نه ورشي چه په ژوندون او دنیا کښې معراج هم دغه شي دی، دي ته ورسېدلي یو، نور نو علم اوهنر موږ څه په کار دی؟ او بردي اندازې دځپل ذي ناقص فکر تابع شي چه حتی ځپل اولاد هم علم اوهنر زده کولو ته نه پرېږدي،

اودغوی رانلونکی ژوند ور خرابوی داناپوهان دې ته فکر نه کوی چه ژوند یوازې پیسې پیدا کول نه دی او نیا که دپیسو سره علم نه وی داسې پیسې څه په دردنه خوری، بلکه داچه هر انسان په یوه جامعه پاتولنه کښې اوسی هغه یوازې ځانته مسئول نه دی بلکه دجامعې اوملت ته هم مسئولیت لری اوباید همیشه ئې دځان دغم سره دملت غم هم ورسره وی. نوځپل اولاد ددې دپاره چه پلارئې پیسې لری دعلم اوهنر څخه را گرزول دجامعې او ملت سره خیانت دی، ځکه چه یوازې دپلار پیسې ملت ته دومره گټه نه رسوی لکه د اولاد تعلیم خصوصا چه پلار ئې نا پوه دولتمند وی، ځکه خوشحال خان وایی :

احمق که هر څو دنیا دولت لری دولت به پای کاچه حماقت لری
که هم نا داروی شکر دی کاندی که څوی ئې ښه وی علم حکمت لری

بلخای دولتمند سړی دعلم اوهنر خوا ته داسې را بولی :

دولتمن دی په هنر په علم مت کا
که هر څو ښایسته مخ وی بیا پسالۀشی

او مېړه هغه بولی چه تر دښنا راوزر دمځه دځپل هنر په غم کښې وی :

ـ مرد به غم دځپل هنر کا نـه دزر نه د د یـنـار

که هر څوزر زوروی، یا ډېر زرلری، چه هنر نه لری، خوشحال خان ورته په سړی توب قائل نه دی، که پلار وی که زوی ورته وایی :

هنر چه نه لری که دی پسر دی سړی ئې مه بوله یو گاو خردی
که هر څوزیرلری که هر څو زرلری تردا همه واړه بهتر هنر دی

پښتانه پلرونه باید په څو پیسو یا څو جریبه ځمکه ونه غولېږي په خپله هم د علم په تحصیل پسې شي، او خپل اولاد هم له علمه محروم نه کړي. پیسې یا ځمکه خو څوک د علم په تحصیل نه ځني اخلي مګر که علم زده کړي نو داسې انسانان به شي چه هم ځانته او هم خپل قوم او اولس ته به نافع وي :

۲ـ ځنې نا پوه پښتانه بیا په خپل نسب او لوړتیا غولېدلي دي وائي: ما ته هم دا بس دي چه د پلاني خاندان یم، یا پلاني زوی یم، تر څو چه ژوندی یم خلق به په درنه سترګه را ته ګوري او زما احترام به کوي نو ر نو علم ته څه حاجت دی؟ دوی ډېر غولېدلي دي او نه پوهېږي چه اوس موږ په داسې عصر او داسې پېړۍ کې ژوند کوو چه نور به نو یوازې د خاندان په نوم څوک تېر نشي او راتلونکي کالونه لا تر اوسه هم ډېر وبتر دي. دوی ځکه خپل ځانونه د ملي ورونو له ټولي څخه باسي؟ حال دا چه تر دې وروسته بو سړی د هر څومره لوړ خاندان څخه چه وي که علم او هنر ونه لري په دوی پېښې به ئې څوک وانه خلي. خوشحال لا هغه وخت ویلي دي :ـ

که په اصل څوک سید یا شهزاده وي
چه هنر ورځخه نه وي مه ئې ستا یه

نو ای د خاندان او نسب خاوندانو! راشئ اوس تر دې خوشې او بابېزه خبرو تېر شو. او هغه اصلي او ضروري چاري ترسره کړو چه غریب وطن او بېچاره ملت ئې را څخه غواړي علم او هنر زده کړو چه د وطن او قوم په درد وخوري. ستاسې تر شا یا ته قوم دزئي، نسب یا خاندان په نامه لوړ پلاي نشي علم او هنر ته ضرورت دی چه دوی لوړ کړي.

۳ـ د پښتنو پخوانیو مشرانو هم نه دي غوښتي چه پښتانه پوه یا د علم خاوندان شي؟ ځکه چه د پښتنو ځینې مشران یا ظالمان حاکمان یا مستبد خانان او یا ځینې خیرات خواره سپین ږیري یا د بګړیان او یا لنګ وهلي ملایان وو. دوی هر بوه

دخپل نفوذ دقیام اوهمېشه توب دپاره قوم جاهل ساتلي ؤ ، ځکه چه که قوم دپوهې اوعلم خاوند شوی، وای نو هرڅوك ئې دځان مشر نه ګڼي اونه ئې منله .

وائي چه فرعون له خپل مشاور څخه پوښتنه و کړه چه : « زه خپله خدايي څنګه وساتم ؟ » مشاورئې ورته وویل : « خپل قوم په جهل اوناپوهي کښې ساته ځکه ترڅو چه دوی ناپوه اوجاهل وي ستاخدائي به مني ، خو که پوه شول نه به نه ئې له به ستا خدايي ! »

نوبخوا په پښتنو کې هم ځينې داسې مشران پيدا کېدل چه دخپل قوم سره ئې هم داوضعيت درلود، ځکه خوشحال خان پښتانه دداسې کمانو جهالت ته ملتفت کړي او ورته وايي :

مـلا ئـې پـه دوه درې تحصيل شي — شـاعري ده لـه حـکمته
ملـکـي خـو د پـاد شـاهي ده — خـانـي هـم لـه سلطنته
پـېري لا لـوی پـه پـايـه ده — ده لـه ډېـره ريـا ښـتـه
صفت آسـمان ګڼي دا وره — پـښتـانـه لـه جـهـالـتـه
هـر سـړی ور تـه مـلا وي — چـه په ياد کـا څو آيـتـه
چـه پير ؤ هغه شـاعـر دی — قـافـيـه غـلطـه کـړتـه
هـغه سـګ ور تـه مـلاك وي — چه کـاږي وږي له محلته
خـان هغه چه تر . . پر وزي — په زړا تـنګه کښې رهي لته
پير هـغه چـه پـسې درومي — څو سر توري پـه دالـتـه

دخوشحال خان مقصد دادی چه پښتانه بايد په پوهې سترګو په هرچا پسې چه دوی ترلاس ونيسي درهي نشي، خپل ځانونه بايد پوه اوعالمان کړي اودعلم له رويه ښه اوبد سره وپېژني . هو، خوشحال خان نادان او بې علمه سړی هم دځان دپاره بلا بولي اوهم دجهان دپاره ، په خپله ، تردانا ځاروي ، اونادانان ترځان ځاروي وايي :

تر دا نا دی زه ځا ریږم — تـا دا نان واله تر ما

نا دا ن ځان لره بلا دی — هم جها ن لـره بـلا

چه نادان و کـا' داورنه — هسې نه ڪکا اژ دها

بې علمه سړی ګـا ؤ خر دولی' نود ګـاؤ خر به څه بر کت وی :

چه نه ئې دین وی نه ئې دولت وی — نه ئې په علم ښه خوی خصلت وی

سړی ئې مه بوله بو ګاو خر دی — د ګاؤ خر بـه څـه بر کت وی

خوشحال خان دعلم زده ڪړه په کوم وخت پوری نه تا کې' بلکه دده دا نظر به څه چه علم په هر وخت اوهر سن کښې چه وی باید زده کړه شی حتی دی په خپله وائی چه :

« که ڪکوم وډر ڪکی ماته څه راوښیی پرما به ئې د پرمنت وی »

نوګو یا خوشحال خان بې علمه پښتنو مشرانو ته توصیه کوی چه علم زده کړی ڪکه څه هم له کشرانو څخه وی او وائی :

هغه استاد ګڼه چه درته څه ښیی — کشر هم مشر وی چه درته ښه ښیی

په سپینه زیره به ئې منت اړم — که وړو کی راشی راته څه وښیی

دده په نظر کښې بې سواده سړی چه خط نه لری' ایکال او لوستل ئې زده نه وی دا اندی مثال لری :

چه خبر په هنر نه' هغه کـم عقل

چه د خط سترګې ئې نه وی هغه کور

خوشحال خان پښتانه وینې چه قدرت مر څه د ر کړی دی مګر دوی کار نه خنی اخلی

دکړلو او آبادو لو ځمکې لرې خودوې له اوږې مرې نو وايي :

څه کم عقل نادانان دي   دا پرانده پسې ښار ته

نعمتونه په خپل کور کښې   مرې له لوږې لـه هيسته

خوشحال خان چه په خوا د پښتو نخوا غرونه ونې، چه له هر راز کانو څخه ډک دي او زر خېزې ځمکې ئې شاډې برتې دي او بل خوا ګوري چه پښتون قوم وږې تږې، اوخ لغړ، خراب حال پروت دي او هيڅ هنر نه لري چه د خپلې ځمکې ودانې کړي او باله خپلو معدنو څخه کار واخلي نو زړه ئې درد کوي او پښتنو ته وايي :

کانې لعل دبدخشان، ګياه کيميا ده

چه ئې نه پېژني ته، ګناه دچا ده ؟

بل ځاى هنر د سرو زرو په شان ګڼي چه د دنيا په هيڅ ځاى کې خپل قدر اوقيمت نه بايلي او هنرمند سړى په هر ځاى قدر لري، وائي :

هنرمند سړى په هر ديار عزيز وى   په هر ځاى قـدر قيمت لري سره زر

او د هر چا قدر په خپل هنر بولي :

د هر چا قدر قيمت په خپل هنر وى   د ګڼي قدر څرګند د ګڼي خوند کا

رښتيا هم که پښتنو علم او هنر درلودلاى او س به د دوى قدر قيمت ټـولې دنيا ته څرګند ؤ، او ټولې دنيا به ئې احترام کاوه. او س چه علم، او هنر نه لري د دنيا تر ټولو قومونو وروسته پاته او خوار قوم دى، او د دنيا علم لرونکو قومونو ته په يوه سټن هم محتاج دى. که پښتانه پوه واى دوى به هيڅکله غير له پښتو له دبل چا مشر توب منلى نه واى، که پښتانه پوهېدلاى دوى به هيڅ وخت

دبل چادپاره ځانونه وژلی نه‌وای لکه‌ئن برون چه‌ئې وژنی ، که دوی پوهه درلودای دوی به دپښتنی خاوری پوه‌لو پشت هم‌دبل چاتر حکم لاندې بر ینبی نه‌وای ، که‌پښتون قوم‌عالم وای نوځپل‌ملی مرکزیت به‌ئې پېژانده او بر پوه مرکز به‌راغونډ شوی ؤ ، او آزاد پښتونستان به ئې تشکیل کړی وای . کـه پښتانه دپوهې خاوندان وای دوی به‌له ځپل منځه نفاق‌ورك کړی ؤ ، او به بوه اتفاق به‌ئې دځپل ژوند دښه کولو غم خوړلی ، که دوی علم درلودای دوی به‌هرشیطان نه غولولی او به هرچا پسې به‌له تللای ، که به پښتنو کښې هنروای دوی به‌ولی‌دهرچاوره‌ته دبوې ستنې دپاره ولاړ نه‌وای ، ځله به‌دو په‌نس وزی او به‌تن لوڅ وای ؟ پرځه به‌ددوی ښېرز نه دنوری دنیاد کنډوالو سره برابر وای ؟ ولی به سرتور سرپټلی ښې گرځېدای ؟ داټول له دې جهته دی چه پښتانه علم او هنر نه لری ، نوځکه خوشحال خان وایی :

« علم او هنر زده‌کړی‌ده ! »

خوشحال خان وايي :

(۵)

توريالى او مړنى او سى !

ګل ګلشنه د دنيا که کابل دى که کشمير
مړنى دى چه پادشاهى په سندر وپا په وير

د پښتنو متل دى وايي : « زور چه زور ورشي عقل مړور شي ! » دا خبره له حکمته خالى نه ده! زور او قوت د قدرت او طبيعت خوى او د دنيا د ژوند مدار دى که تاسى کائناتو ته وګورئ ، پاد زړو او واړو سنيو انسانانو په ژوند کښې غور شئ يا حتى ځاروپو او حيوانانو ته دقت وکړئ ، تاسې ته به ښه ښکاره شي چه زور او قوت هر ځاى او هر کله چا کم دى ، هره اوبه کره چه دلځان سره ځو ړدي کړي ساتى او په خپله ځا ذبه ئې را ګيرى کړي دي يا انسانانو چه يوبل حکمرانى کړى او يائي کوى او يائي يو د بل ښارونه تالا کړى او يائي تالا کوى ، يا حيوانات چه يو بل خورى او يايو له بله وېرېږى دا ټول هغه طبيعى حکم دى چه په قوت او زور کښې پروت دى او تر څو کائنات او دنيا او ژوندى د قوت مفهوم ور کېدلى نشى . کله کله (خصوصاً په دې عصر کښې ځينې انسانان ځانونه غولوى او وايي چه د قانون قوت تر هر قوت پورته دى مګر کله دوى څخه پوښتنه وشى چه ستاسې د قانون نګهبان او ساتندوى څوك دى ؟ ضرور بايد ووائى « ظا مى قوت » نو بيا هم قانون په خپله قوى نه شو او د بل قوت په زور قوى کېږى : خو د قوت او زور څخه هم غرض دا نه دى چه انسان بايد د دې دپاره قوى شي چه بل وخورى بلکه مقصد دا دى چه انسان بايد دومره قوى شى چه بل ئې ونه خورى او دا د ژوندانه اساس دى.

قوت او زور بوازې په غټو جسمو او غښتلو مټو کښې نه وي، په ویښو مغزو کښې لا ډېر دی مثلاً کوم ملت چه ډېر پوهان لري، ډېر کاریګر لري، ډېر مخترعین لري، تخنیکي قوت ئې ډېر دی نو دا ملت پر نورو ملتو په هر قوت کښې اوله او پر مخ ځي په بل عبارت قوت او زور په دوه ډوله وېشلای شو، یو معنوي قوت بل ظاهري او مادي قوت، د معنوي قوت دپاره خو علم او هنر لازم دی چه دا خوشحال خو پاڼي دمخه تاسې ته وروښول، او د ظاهري قوت دپاره وسله او صحت لازم دی چه خوشحال خان لا مېړانه هم په دې ردیف کښې راولي چه په دې فصل کښې هم د عنوانونه تر بحث لاندې نیسو:

توره :- د پښتنو په اصطلاح توره بوازې د ټوټو سپنې چړې ته نه وایي، بلکه عموماً توره دوسلې په معنا راځي او اکثرا لا هم د مېړانې او شجاعت معنا ور کوي، مثلاً کوم زلمی چه په جنګ کوي او په جګړه کښې پهلوان وي نو ورته وائي: «توروزن زلمی» دی او تر زیات حده چاته ویل کېږي چه په جنګ کښې مېړه وي که څه هم دا جنګ په توره نه وي په ټوپک وي، نو دلته هر ځای چه خوشحال خان توره یاده کړې، باید د تورې مجرد شکل مراد نشي بلکه په ډېرو ځایو کې له تورې نه مېړانه او جنګ غرض دی، ځکه خوشحال خان پښتنو ته وایې چه «ځکه ژوند غواړئ توریالي اوسئ» دا هم ځکه چه خوشحال خان د پښتنو سره نور هیڅ مادي او معنوي قوت نه وینی چه دوی ژوندي وساتي، نه مخترعین او پوهان لري، نه ئې اقتصادیات دومره لوړه دی چه نوره دنیا دوی ته د اهمیت او ژوندي قوم په سترګه وګوري نه ماشین خانې او کاریګر خلک ډېر لري چه له دې لارې ژوند وکړي، نو بې له تورې بل هیڅ زور او قوت نشته، چه د پښتنو ژوند او د پښتنو آزادي او پښتنواله خوندي کړي، له دې جهته پښتنو ته وائي چه «توره تینګوئ، په همدې توره به خپل ژوند ساتئ، بل فکر تاسې ته نه ښايي».

پښتانه چه نور څه فکر کا ناپوه دی

بې د توري خلاصی نشته په بل کار

که کشمیر یو وخت د پښتنو په لاس کښې ؤ او یا کابل د پښتنو مرکز دی خوشحال خان د توري د برکت او کښته ورلی او څه د کمان په سندرو کې ستایل کېږی او وائي په مرګ و ېر خالك کوی چه په توره مړ اسی ، او وائی —

کل ګټنه د توری	نه کابل دی که کشمیر
مړ نی دی چه یادېږی	په سندرو یا په و پسر

خوشحال خان چه د پښتنو د ژوند د پاره بې له توري بل قوت نه وېنی ، او د پښتون د پاره تر هر څه همدا توري هنر ډېر ضروری او په هنر کښې چه وائی:

چه څو ګنده سرباز ی کاندی د تورو

زه خوشحال خټك تر سر هنر جار شم

د ده په عقیده په دنیا کښې بوه تکیه د خدای ده او تر خدای را لاندې بیا د توری ، نور څه که پښتانه کوی عبث دی که ئې د توري نقش کښېنو ست نو ل کارونه سرته رسېږی او د پښتنو خلاصی که سر د زمری تر زامې لاندې هم شی لا به د خپلی پښتنی هودی څخه وا نه وړی او خپله پښتنی ننګه به پر ځای کړی:

یا تکیه د بوه خدای د یا د توري | په جر کړ مر کو نشی کار تمامه

که دی نقش د توري کښېنی را ته نوز کړه

کار و ا به شي هاله په هر مه کامه

بدخوانان به خیال خوږ بری تړ دي له لاسه

که ئې سر شی د خولی مزری تر زامه

په جهان کې چه د ملك کېږی مطلق فاتحان اغلی دی او څېنو او لسونو پر نورو اولسونو حکمرانی کړی دی او هغو دملکونه ئې نیولی او ځان کړی ئې دی، دا څه د خدای پر بار نه دی شوی بلکه جنګونه ئې کړی دی ، وېنې ئې

بیولی دی ، قربانی ئې ورکړی دی ، او که پښتانه غواړی چه خپله پښتنی خاوره د نورو له تجاوز څخه وساتی او یادنه و رولا سوند له خپلې پښتنی خاورې څخه لنډه کړی او یاد خپلی پښتنی خاوری ځنې تو ټې بیرته د ځان کړی او د پښتنو یولوی متحد ملت جوړ کړی ، او باید نور یالی او سی ، و د هر تجاوز ځواب ته حاضر او هر ډول قربانی ته آماده وی ، ځکه چه ملکونه په غږونه نه ساتل کیږی او نه خپل حق په مړه خوله ځوك له چا اخیستلی شی ، خوشحال خان همدا وائی :

چه و نه وهی په توره لاس نوره   چا ملکونه په میراث نه دی موندلی

چه ترسرو تر مال تیر نشی په عشق کښې   ځوك د ځوانو په پالنګ نه دی ختلی

د مغلو په دوره کښې چه پښتانه ژوندی پاته شول او نوم ئې ورك نه شو هغه د خوشحال خان د پښتنی توری صدقه وه ،

دا لاځه که ځینی پښتانه بې ننګه شوی نه وای پنجاب به هم ددوی ؤ لکه خوشحال خان چه یادونه کوی :

د اهمه دما د توري صدقه ده   پښتانه چه په کښې خوری سیورغال

یکمانه ځوانان که زړه ماسره وای   نو رزما له په پنجاب باندی یرغال

خوشحال خان هغه ځوك کامیاب ولی چه په توره قوی وی ، او هم توره زن سړی په هر ځای کښې مخدوم او د عزت خاوند کیږی ، ځکه چه د همدې تورزن سړی په میړانه قوم ، او ملت ساتل کیږی نو وائی :

چه په توره ترك تازی کا   هغه هر کله کامگار دی

مورد ئې نشی بانديي بوره   چه میړونه د کار زار دی

ځوك چه شته ترشرقه غربه   د تور زاو خاوند هم کار دی

هغه پښتون چه تور یالی نه وی پښتون نه بللی کیږی ، پښتون لاځه خوشحال خان ئې مرد هم نه گڼی .

چه په ځان سړی تو رزن وی　　بل ککار نشته تر دا ښه
که مین وی په توره زنو　　خو نا مرد وی هم لا ښه
که نه دا وی نه هغه وی　　هغه څه دی وچ واښه
چه داور لمبه پری راشی　　وا ښه سیځی بلا ښه

په پوره ته بیتو کې چه خوشحال خان نامرد سړی وچ واښه ګڼلی دی، د قوت او ضعف یو ښه مثال دی، ځکه چه وائی، لکه وچ واښه چه داور د لمبې مخ ته تکیه کېدلای نشی هم داشان هغه پښتون چه تور زن نه وی که چېرې د ده په خاوره کوم خطر راشی نو دی هم هغه شان د وچ واښه غوندې له منځه ځی او که تول پښتانه په دې لار کې یې قرار نه شی، نو ضرور د زمانې د حوادثو په مقابل کې ئې نوم ور کېږی او د هستی له کوره به د نیستی ګور ته ولاړ شی ځکه نو خوشحال هر پښتون ته توصیه کوی چه باید په وسله مین وی، که نه وی نو د ده او د بې ننګی ښځی فرق نشته وائی:

چه مین په وسله نه وی　　مردې نه وائی خپل ځان ته
لاس دې سره کا سترګی توری　　ځان دې وجوړه وی ځوان ته

ځنګه چه په دیرو وختو د هر کی کار د پاره یو نمونه لازمه وی، چه د هغې نمونې له رویه کار پېل او تکمیل شی نو خوشحال خان هم د دې د پاره چه پښتنو ته د توریالیتوب یوه نمونه و ښیی ء ځان تمثال جوړه وی چه پښتانه باید د ده توریالیتوب د ځان سرمشق و ګرځوی او د ده ځنی واخلی او حقیقتاً هم هغه جنګونه چه خوشحال خان د پښتنو د ننګ د پاره د دښمنانو سره کړی دی د ستایلو وړ دی د توره په میدان کې ځان داسې ستائی:

د توره په میدان کې چه سوداوی د سرو تو
هغه زمان مې ګوره تل په سوروی نه زما آس

بل ځای دخپلې خوښۍ او خوشحالۍ وخت داسې ښکاره کړی دی:

د خوشحال ختک خوښي په هغه وخت وي

چه بر یښنا د سپینو تورو وي د زغرو

بل وخت چه ئې په اورنګ زیب زړه سوړ کړی او له جنګه فاتح راګرځېدلی

دخپلې تورې نقش څنګه بیانوي:

تر اورنګ باد شاه مې توریست   تا و د بند او د زندان

نقش مې کښېناوه د تورې   په هند و په مسلمان

خوشحال خان دقوم دغلیم سره داسې توری وهلی دی او دومره ئې دارولی

دی چه په خوب کښې لا هم دده د تورې له شرنګ څخه ریږدي او له کټه لوېږي.

لا په خوب کښې په اور زه پرېوزي له کټه

چه دچا تر غوږ زما د تورې شرنګ شوی دی

خوشحال خان دمینې او محبت په دنیا کښې هم له خپل نور یالیتوب او قوت

څخه تېر بدلی نشي او هلته هم غواړي چه پښتون مین له نورو مینانو امتیاز

ورکړي او داسې نه دي چه «ترسیده ترسیده بوسه» غواړي بلکه په ښکاره ناري وهي:

زه خوشحال کمزوری نه یم چه بد ځای کړم

په ښکاره ناري وهم چه خوله ئې را کړه

خپلې معشوقې ته په څه غرور خطاب کوي:

یا به سر دخپل ور میږ پسه و یښو رنګ کړم

یا به ښکال کړم دغه ستا شونډې ملوکې

یا د ښو زلمیو زغ دی پـه میدان کښې

یا د ښو دلبرو ځی په جهان کوکی

بل ځای دمعشوقې له خولې خپل تور یالی توب ښکاره کړی دی چه وایي:

مګر تا څخه سامان دسلطنت دی   چه په هوډمې سپینه خوله غواړې خوږکه

د خوشحال خان عشق هم پښتنی عشق دی یعنی ساده اوځیږلی ؛ کومه غلا او پټه نه لري، نه د رقیب څخه پټیږي او نه ښېرا ورته کوي ، بلکه په ښکاره توره وراخلي او رقیب خپلې مقابلې ته رابولي ، نو وايي :

په درست جهان به نوی یو د ما غوندې رسوا بل
ورځم توره در کښلې چه مېن وار وم پسه تا بل

خوشحال خان ته د تورو د میدان «های و هوی» دومره خوند ور کوي لکه د زوی د زیږېدو سندرې نو ځکه وايي:

یاد ښـوزو یـو سنـدری دی د زوو
یا د تورې په میدان کـې هوی و های دی

د جنګ په هنرونو کښې خوشحال خان ډېر مهارت او زښتې تجربې لري، مګر تر ټولو هنرونو چه خوشحال خان خوښ کړی دی یو هنر دی، دی وايي : کـه پـه جنګ کښې هم ، دایـو هنر چادرلـود هغه کـا میـاب او فـاتـح کېږي ، هغه یو هنر کوم دی ؟ « ترسره تېر پدل »

نو وايي :

مزری ټوب بویه د تورو په میدان کښې
پـه خالي میدان هر یـو ګیدړ مزری دی
که د جنګ په کـار کښې ډېر دی حکمتونه
چه د سر سر فه ونه کـړی تور بری دی

خوشحال خان عقیده لري، چه د سړی و یره تر هغه وخته ده چه تر سر تېر شوی نه وی کوم وخت چه تر سر تېر شو توره ویره نو نشته، پښتنو ته هم دا وصیت کوي :

مردی دې هیڅ ده که په زړه شېر نه ئې
څه خو و شه کـه زړور ډېـر نـه ئـې
تـرسر چه تېر شـي و یـره هیـڅ نـه وی
و یره دې هو تېرۀ چـه تر سر تېر نه ئې

بل ځای وایی :

مست هتیان خوری مزری توري و کیدلي

که د سر وېره دي نشي کار آسان دی

ننګيالي چه د اخلاص توره په لاس کا

د پر لښکر ئي ترهمت پوري کاروان دی

خوشحال خان وایی: سړی ته دا یوه څېځه وېنې بلا دی چه په غم کې ئې دی که نه دي نور څه نشته :

دا یوه څېځه دلځان وېنې بلا شوې

چه سړی سره ئې غم په هر زمان شی

خوشحال خان پښتنو ته وایی: چه هېڅکله ترهغو ارام مه کښېنۍ څو چه دخپل غلیم څخه انتقام وانه خلیءدی دانتقام سخت طرفداری دی، که هر څه کېږي خو ودې شي، مګر پښتون به دپښتنوالي له دښمن څخه انتقام اخلی :

که تل توري غشي خوري ماتې دجنګ وړی

مرد به سړی نه شی په زړه له انتقا مه

انتقام خو به ضرور دیوې تعدی په عوض کښې وی او لویه تعدی دخوشحال خان په نظر کښې داده چه د پښتنو په حقوقو څوك تجاوز وکړی، ددې تجاوز ځواب باید ډېر شدید ور کړشی ځکه چه پښتنوالی دهېڅ تجاوز منلای نشی، نو دا تجاوز که د پښتنو پر ځان وی یا پر پښتنی خاورد وی، یا که د پښتنو پر آزادی وی، یا د پښتنو پر مال وی، ټول د پښتنوالی په نظر کښې بودی او خوشحال خان دا د پښتنوالی حکم د پښتنو غوږ ته داسې رسوی :

که په توره ئې ځواب ور کړې مر دی ده

که وجود دې څو کمه آزار کاندی په چوب

مېړه پښتون که هر څو په ناز او عشرت کښې شي ، بیا هم خپله پښتنواله نه هېروي او د عتبار او زېندو د انتقام غم به ورسره وي ، د چا سره که نه وي هغه نو د خوشحال خان په مذهب له ناموس ننګه خبر نه دی ، وایي :

کډې کښېنوې په باغ کښې — هر د به و نه کا آرام
څو بوره به غلیم نه کا — هره چاره د انتقام
فراغت کا خبر نه دی — نا مردان په ننګ و نام

لکه څنګه چه توریالیتوب هر پښتون ته خوشحال خان لازم ګڼي همداشان ئې پښتنو مشرانو ته ضروري بولي بلکه څوک چه د قوم سردار وي هغه باید د پښتنې ننګې پر ځای کو او د پاره د خپل سر پروا هم و نکړي دی وایي :

سر دې نه غواړي خوشحال له — د بلا نه چه سردار دی

بل ځای وایي :

د سر دار د ریاست و نه په وینو — په لوښینو د اعدا کا ثمرونه
بې د تېغ له آبه نوري اوبه نشته — چه جنګجوي سرمساده کا اترونه

هوا دزده توري هغه څوک بایدوهي چه د مشر توب یا تاج و تخت خاوندان وي د پیسو نوکران د خپل غرض د پاره توري وهي ، خوشحال ځکه وایي :

هغه چه توري د برې په وخت وهي — هغه ئې واده د بل په بخت وهي
سپاهیان د طمع د خپل مقصود وي — د ننګښې توري څښتن د تخت وهي

یا دا چه :

سرداری له بویه دادري تو که
بو همت ، دوهمه توره ، بل اخلاق

او خوشحال خان په دې ترتیب د هر پښتون د پاره توریالیتوب فرض ګڼي چه د پښتنوالي او پښتنې خاوری او پښتنو د ژوند او بقا د پاره هر کله قربانیه

او فدا کاري ته حاضر وي داسي له چه يا پنجابيان يا انګريزان يا نور د دوى پر حق تجاوز وکړي او پښتنى مځکه چه د دوى د پلار او نيکه په مينه نو په ګز و ګز و راپور ته شوي، د ده د پښتنو د لاسه باسي او څني پښتانه د ځان نوکران کوي مګر دا نور پښتانه نو هم داسي لاس تر زنى ورته ناست وي او ژړى ژړي ورته ګوري او يا خپله مځکه له نورو ګرزولي نشي مګر خپل تور يا ليتوب نو پريوه بي وزلي تر بوز ښکاره کوي ـ خوشحال خان وداسي بي ننګو ته څنګه ښه وايي :

يا د مرد غوندي شمله د دستار پريږده
يا په سر کړه لکه ښځه ميز رو نسه
نو که څوك پر بنه تريخي اري بايد عبرت واخلي .

*　　*　　*

مېړنی څوك دى ؟

مېړاني يا مړاني پخوا په پښتنو کښي ډېر لوړ مفهوم درلود چانه چه به وويل شو ، « مېړه سړى دى ! » نو دا سړى د هغـو ټولو خو بونو خاوند بلل کېده کوم چه ديوه حقيقي پښتون سره لازم ؤ ، او دې سړى نو په پښتنو کي يو خاص امتياز او مقام لاره مګر له چا څخه به چه د مېړاني صفت ورك شوا و ورته به وويل شو « مېړه نه دى ! » نو د پښتنو لي دغه پر و اوصافو څخه به محروم باله کېده خو خبره ، دلته وه چه دا « مېړانه » کوم داسي شي نه ؤ چه له چا به سړي ته ترکاوه او يا به کسي له سړي څخه اخيست بلکه دا پخپله د سړى کارؤ چه ديوه مېړه خوبونه به ئې په ځان کي پيدا کړه بيا به نو خلکو ورته مېړه وايه ، او نه څوك يوازي په خبرو مېړه کېداى شو مېړونو چه به څه ويل هغه ئې کړل خو وروسته ورو ورو چه صحيح پښتانه له منځه ولاړل د مېړانې هم ئې نوم پاته شو . څو اوس خو ئې هغه نوم هم د پر لږ اورېدل کيږي ، خوشحال خان هم کتل چه له پښتنو څخه دا يو صفت ورو ورو ځي او نس نوم ئې اورېدنه ، نو پښتنو ته د مېړه داسي معرفي کوي :

مرد به نشي په گفتار — ځو پیدا نکړي کردار
چه دي وښکنځي مردانه يي — که له تانه وي په ډار
چه څه دي خو انتقام دي — د مړ دانو کار و بار
عفو هور ته ځای لري بنه — چه نه عیب وي نه عار
چه غیرت ورڅخه نه وي — هغه مرد نه دي په کار
هم مهره لري هم زهر — ښه مردان وي لکه مار
چه هم تندر هم باران وي — تر هغو مړ دانو ځار
مرد به غم دخپل هنر کا — نه د زر نه د دینار
مرد به غم کا دخپل شرم — د عزت د اعتبار
نا مرد د فخر په نسب کا — مر دنه مور لري نه پلار

که سړي ځیر شي همدا پورته تعریف بس دي چه پښتنو ته مېړه سړي وښيي او پښتنا نه ملتفت کړي چه ارس صحیح مېړونه ډېر لږ دي، ځکه اوسني مېړونه خبري ډېري کوي، مگر عمل او کار يي هیڅ نشته، د انتقام حس خو بېخي پکښې مړ شوي دي، که يي څوك کور تالا کړي، ځمکي يي واخلي، وینې يي وڅکي، زوي يي مړ کړي، نو مړي څوك نشته چه دي ظالم ته ووايي «ولي؟» نو په پوره قوم کښي چه «ولي» سړي نه وي له دا سي قوم نه په توره مېړانه څوك غواړي ؟
دخوشحال خان په اصطلاح د داسي چاچه نر او ښځي تول تینگي تینگي اري، خپله هره مېړانه حتی قومیت په پیسو خرڅوي، نه دشرم غم ورسره وي نه دعزت او اعتبار!؟ څوك په بیزو او شادو داسي لوبي نه کوي لکه پیسي چه يي په دوی کړي زلمیان يي د پیسو دپاره قرباني کیږي، سپین زيري يي د پیسو دپاره استعمالیږي، وطن يي د پیسو دپاره پر دی کیږي، دي چاته به څنگه مېړه وو يلی شي ؟

خوشحال خان هغو پښتنو ته چه میړانه یرازي په ښو ښو کالیو کښې لټوی داسې پېغور ورکوی:

که مړی دې په دستار ده په ملي وسه
سکه مړ دی دی مبارك پر پښتونه بوسه

مړلی هغه څوك بولی چه په غم کې مردانه وی او د سختئ په ورځ لاس او پښې سره ورك نه کړی او وار خطا نه شی:

مردان هغه دی چه همت ناك وی　　په هره چار کې چست و چالاك وی
که غم پرې راشی پروا د غم نه کا　　خوا زه له هره چا په زیست وژواك وی

بل ځای څنګه ښه وائي:

واده زړونه فراغت وی په ښادئ کښې
چه په غم کښې مردانه شی زړه هغه

پښتون میړه باید هردم خیال نه وی او نه ئې خپله اراده د بل په ارادې پورې تړلې نه وی، خلك به هر څه هر څه وائي خو پښتون میړه به خپله اراده او عزم ترسره کوی او د ده زړه به د خلکو په خبرو لړو بړ کېږی نه، نو ځکه خوشحال خان چه صحیح او میړه پښتون دی خپل زړه د استقامت داسې مثال راوړی:-

دعا ام د برې خبرې اور په اور توري لښکرې
زړه مې نه خوځی له ځایه غر خو هسې وی کنه؟

بل ځای د خپل زړه لوی والی داسې بیانوی:

د جهان غمونه واړه په کښې ځای شول
شکر دا چه زړه ئې لوی را کړی و ما هم

خوشحال خان وائي په سړیو کښې فرق دی، ټول یوشان نه دی او نه ټول میړونه یو راز زړونه لری، خو څوك چه رښتیا میړونه دی د هغو زړونه ډېر کلك وي او د ژوند د هر ډول مشکلاتو تحمل کولای شی، وائي:

له سره سم دي واړه مېړونه — نه سره سم دي د هر چا زړونه
زړونه هم هغه ګڼه چه لکه غر شي — که بانديې راشي هزار غمونه

مېړه هغه څوك دی چه د تنګسې او سختۍ په وخت ځان و نه بايلي، هرې سختۍ ته ځان و نيولای شي او خوشحال خان وايي:

په جهان کښې که مردان دي هم هغه دي
چه و سختۍ وته ونيسي ځانونه

مړنی پښتون بايد په ټولو مشکلاتو کښې زړه ور وي او په ټولو کارو او اقداماتو کښې ټينګ عزم ولري، متردد او وسواسي نه وي چه يو کار شروع کړي او بيا په هغه کښې متردد شي او يا د هراس او وېرې له کبله ئې پرېږدي دا د مړني خوی نه دی، نو ځکه خوشحال خان وايي دي:

ګيدړ بې زړه دي وهم وسواس لري — مړه دي زړه ور دي کله هراس لري
هغه مړزي نه دي هغه ګيدړ نه دي — په کار و بار کښې چه زړه کوز پاس لري

د غم د زغملو د پاره خوشحال خان ډېرې ښې لياري ښودلې دي خو په آخر کښې د خپل زړه زغم ئې هم ويلی دی:

غم په زړه کښې بد غليم دی — څو نوا نېږې خوا ره وه ئې
يا غمخوار چېرته پيدا کړه — ورته کښېږده ښکاره وه ئې
يا تېره توره را واخله — څو چه وي همواره وه ئې
يا فرياد فرياد ناري کړه — ژانده ناره په ناره وه ئې

يا خوشحال خان غوندې زړه راوړه
ځای ئې کړه انبا ره وه ئې

مړني به له خپله قوله نه اوړي:

مړنی پښتون بايد پر خپل قول ټينګ ولاړ وي او له چا سره چه عهد و کړي،

باید هغه عهدنر مر که هم بل ئکړي، خوشحال خان ترهري ورانیږ دقول ورانی سخته بولی چه وائي :

و نورچاو نه وران مه وایه خوشحاله
چه په قول، عهد وران شي وران هغه

بد قولی اوبد عهدی دبې شرم نښه بولی :

یوه نخښه د ر نه وایم دبې شرم   په وعده په قول نه وی نرم گرم

اوداد مرد اونامرد ترمنځ لوبه ممیزه گڼي ؛ ځکه چه نامرد په خپل قول بندنه وی، ان یو څه وائي سبا بل څه ، مگر میړنی داسي نه دی، میړنی څو ژوندی وی پر خپل قول به ولاړوی ،

خوشحال خان وایي :

مردبه خپله وینا ژغوری څو ژوندی وی   د نامرد وینا نن شته، نشته سبا

بل ځای دمیړه کریکټر اوشخصیت داسي بیانوی :

مرد هغه چه همت لاك بر کت لاك   دعا امه سره خوز په زیست وژواك
منځ ئي منځ، قول ئي قول، عهد ئي عهد   نه دروغ ، نه ئي فریب، نه ئې نیاك
لږ ویل، د ډېرئي کول په خاموشي، کښي   د غنچې غوندي خوله د که سینه چاك

دمېړني لږ ویل ډېر کول وي :

خوشحال خان دمېړني یو بل صفت دابولی چه ویل ئي لږ او کول ئي ډېر وی داسي نه چه «ډېروایی لږ خبږي» اوس اکثرو ښځو ته دادخو لسي خبري رسیږي په خوله هرڅه هرڅه وایی او خورا غټي غټي مسئلي فیصله کوی او ډېري لویي لویي نظرئي ورکوی، مگر دعمل په میدان کښي صفروی او دخپلو ویلو زرمه برخه عمل هم نه لري، نورخلك کار ډېر کوی خبري لږي موږ خبري ډېري کوو کار لږ، نوخوشحال خان وایي :

مرد به نشي په ګفتار　　　　څو پیدا نه کړي کردار

خوشحال خان د کس او ناکس فرق هم په دې خبره کوي چه ناکس ګفتار لري کردار نه :

و ګفتار وته ئې مه غړوه سترګې　　　　په کرده په عمل ګوره کس ناکس

بل ځای د مړانې داسې صفت کوی :

مړني په کرده د پروېل ئې لږ وي　　　　د نامردو لږ عمل وی د پرئې لاف

مړني به خپل پټ ساتي :

خوشحال خان پښتني پټ ساتل د مړني پښتون وظیفه بولي که څه هم په دې لاره کښې ئې سر او مال ټول ولاړ شي :

سر دې درومي مال دې درومي پټ دې نه ځي　　　　د سړي د چارې ګل خو بې په پټ ده

مړني به سخي وي: خو د سخا څخه دا مقصد نه دی چه سړی بابد اسراف نه ملاوړی او خپله دنیا په چرسیانو یا بنګیانو یا قمار بازانو وخوري یا ئې په خوشې مېلمستیا ګانو خرڅه کړي، دا سخا نه ده بلکه علاوه پر لوړ ګېړ لو په ګناه هم دی، سخا دا ده چه سړی د بې وزلو سره مرسته وکړي، د یو یتیم سر پټ کړي او د یوې کونډې نس موړ کړي او یو غریب ته لاس ور وغځوي، مګر د پر ځله د بې وزلو سره بې پیسو هم مرسته کېږي، لکه یو بې سواد ته چه لیکل او لوستل ور زده کړي، یو بد کاره له بدې لارې راوګرځوي یا نور ..

او خوشحال خان مړه پښتون د هغه بازغونې ګڼي چه هم ئې په خپله خوري او هم ئې نورو ته ور کوي او نامرد سړي هغه مېږي او هغه مېږلګ بولي چه هر څه په غار کښې ساتي:

چه وهل، خوړل، خوړول کا هغه بازدي باشاهین دي

چه ئې سودې لره ودینه یا مېږي دي یا فاره

په تېره بیا د ملي مشر یا سردار سره خو دا خوی لازم ګڼي! څنګه چه دی په خپله هم ملي مشر و، نو د خپل ځان په باب کښې داسې وايي :

چه ئې وشندی خوشحال په غرور غوټو
لا به کله هغه ګنج ور کوي بخته !
بلځای دځوان سره داخوی داسې لازموی :
چه ګټل، خوړل، بخښل کاځوان هغه
چه توره لری دتوري خان هغه

خوشحال خان هغه سړی نامرد ګڼی چه یوڅه ته څه ور کړی او بیا هغه وریادوی او منت وربانديږدی او یاهر څاته دهغې ښېګڼې ذکر کوي' نووایی :

نامردهغه دی چه څاته څه ور کا — منت دپاسه وربانديې زیږ کا
په راغ کښې ومره هغه دارومه خوره — چه په منت ئې وتا څوك ور کا

مړنی به رښتین وی :

مړنی سړی باید تل رښتین وی او هیڅ وخت در واغ ترخولې ونه باسی خصوصاً پښتون خو باید هیڅ کله خوله په دروغو عادت نه کړی ٔ خوشحال خان داخوی ترهر خوی دمېړه دپاره ضرور ګڼی' بلکه هغه خوله چه دروغ وایی له سره خوله نه بولی وایی :

چه دروغ ترخولې وباسی کله خوله ده
چه رښتیا تر خولې وباسی خوله هغه

دخوشحال خان په نظر کښې دروغ ویل دغولو خوراك دی اودروغ ځن هم دسپی په شان یا دوی :

په رښتیا ویل غوږ نیږی دزړه غوټه — دروغ ځن خوری لکه سپی دغولو ټه

په رښتیا رښتیا خبرو که هم عالم دڅا دښمنیږی باید یومېړه پښتون تررښتیا خبرې تېرنشی دځو ېسویایو منصب دپاره باید حقیقت تر پښو لاندې نه کړی' په در واغو دڅاصفت ونه وایی ' په څا کښې چه یوصفت نه وی دی ئې له ځانه پورې ونه تړی' چاپلوسی' غوړه ملی ' تملق دځې تولو اساس درواغ دی' یو پښتون باید په هر کار کښې او دهرڅا سره رښتین وی او رښتیا ووایی'

په دروغو څوك ځان نه غولوي، خوشحال خان د پښتنو الی یوسفزولږدی داسي وايي :

چه ځوان وم دایم زوږشوم په رښتيا رښتيا خبرو
عالم دځان دښمن کړم که داعیب دی هم دی وی

دروغ ویل اکثره له طمع یاوېري څخه پیدا کېږي، دروغ جن به یاله چا څخه وېرېږي چه دروغ وايي او یا به څه طمع لري، خو که څوك خوشحال خان غوندې مېړه پښتون وي هغه به هیڅکله نه له چا څخه ستر ګه کوی او نه به ئې چانه ستر ګې وی، ځکه چه د پښتنا نه په ځته کښې وېره او طمع نشته، څوك که ئې لری هغه اصیل پښتون بلل کېدای نشي، نو ځکه خوشحال خان وايي :

دروغ ویل هغه کاچه ئې د وېره وی یا طمع
خوشحال په دادا نه دی حق به وائي خوئي سرشته

د دروغجن شپه هیڅ کله له سبا کېږي، تل به ئې ژوند تیاره وی :

ورځ ئې ماليدلي نه ده په درست عمر خدای به له کاندی سبا د دروغجن شپه

خوشحال خان د راستي او رښتیا لار هغه لار بولي چه هیڅ ګمراهي په کښې نشته، او له رښتینو ته دجهان د بد خو اهي څه خطره وینی، ځکه چه خدای د رښتینو مل دی او چا سره چه د خدای نصرت مل وی هغه په هیڅ میدان کښې ترشانه راځي او هر وخت او هر ځای به سرخ رویه وی، دی وایي :

راستي لار ده باد شاهي په کښې نشته ګمراهي
در ښتینو پروا نشته دجهان په بد خواهي
درښتینو سره مل وی تل نصرت دالهي
درښتینو ځای جنت دی دقرآن په ګواهي

دروغ ویل د کمذات خوی دی یاد کمزوری او دوزی سړی عادت ګرزی لمړی به دځېلي پستی له سببه او دوهم به د کمزوری له جهته او دریم به د طمع په غرض دروا غ وايي. مګر څوك چه صحیح پښتون وی هغه به نه پستي کوی او نه

به کمزوری ددهقوی‌روح کمزوری کولای شی او نه به هېڅ وخت چا ته طمع کوی، لوځکه درواغ هم دصحیح پښتانه له خولې راوتی نه شی، خوشحال‌خان وایي:

دروغ دچا دی؟ د کم‌ذات دوزی ۔۔۔ یاد کمزوری په قوت لېزی
چه دائي نه وی درواغ به‌ولې کا ۔۔۔ دروغ که کاندی‌خوزئي په‌سېزی

که‌سړی هرڅومره ډېر دولت اوثروت ولری اویا ډېري ځمکې اوجایداد ئي وی خوچه‌دروغ وائی خوشحال خان هغه مختورن گڼی‌او دولت‌نشی کولای چه ددروغجن ددرواغوعیب پټ کړی، ځکه وایی:

که مختورن دی خودروغجن دی ۔۔۔ رښتني کله په مخ خیرن دی
صفت ئې مه‌کړه دد رو غجنو ۔۔۔ که د گنجونو دولت خښتن دی

بلکه خوشحال‌خان رښتیاویل سره زربولی‌اولکه په‌سروزرو چه‌په هربازار سودا کېږی اوهرڅوک ئې قدرلری‌اوخریدارئې دی رښتیا ویل‌هم په هرځای کې لوړ مقام لری اورښتین سړی ته‌هرځای داعتماد اواعتبار په سترگه کتل کېږی اوده خبرې منی، خوشحال‌خان داسړه زرداسې ستائی:

غښی چه‌سم‌وی گذار پرې‌بنه کېږی ۔۔۔ چه‌بنه سم‌نه وی گذار پرې نه کېږی
رښتیا په هرڅه کښې لکه سره‌زردی ۔۔۔ په لاس که زرلرې‌په زرهرڅه کېږی

لوځکه دپښتنوالی په قانون مړنی هغه چا ته ویل کېږی چه د مړانې په نورو اوصافو علاوه رښتني هم وی او درواغ ئې‌ترخولې رانه وېزی،

مړنی به لوړ همت لری:

دپښتنوالی قانون هغه څوك دپښتانه اومړانې له نېمیته باسی کوم چه اوچ همت ونه لری، لوړ همت دادی چه هیڅکله دژوند مشکلاتو ته ملا تیټه اونورو انسانانوته داحتیاج دپاره سرټیټ نه کړی که هرڅو سختی اوخواری‌دبانډې راشی‌خوهمتناك پښتون به‌ځان نه بایلی، خوشحال خان وایی:

چه تنگسه دربانډي درشی که مېړه ئې
په تنگسه کې د خوار په ځان ور مه‌کړه

داسې چه دخوېښو دپاره پرخپلو بد خواهانو دښمنانو خپل ژوند خرڅ کړي، لکه ځينو بې ننګو او ناپوهو پښتنو چه يووخت پر مغلو، بل وخت په انګريزانو اوورو خپله پښتنواله، خپله پښتني مځکه، خپل غښتلي زلميان خرڅ کړي وه، يائې خرڅوی ... دې حلکو ته‌مونږ صحيح پښتانه نشو بللی اونه ئې پښتنواله په خپله پاکه لمنه کې پرېږدی، ځکه چه مړنی پښتون که له لوږې او خوارۍ مړهم شي پښتني همت ئې دا نه مني چه دبردو نوکر شي او یا هغوته خپله پښتني مځکه پرېږدي، او یا دهغو دغرض دپاره دخپلو زلميانو وينې توئې کړي ...

ځکه خوشحال خان دګېډې دپاره د پردی چاملت مثل لوبه بې همتی ګڼی چه وائې :

کله منت اخلي دېوې ګېډې دپاره
هرچه همتناك دی که په کورلري جوينه

دژوندون ټولې ښادی او خوښی په عالي همت پورې مربوطې بولي اودنيا ټول تکليفونه دبې همتۍ نتيجه ګڼی چه وائی :

دسړی هسو نسره ښا دی ده   چه په زړه کښې ئې همت شته
چه همت د سړی نه وی   مهيا ور ته تکليف شته
سر هاله په تنه ښه دی   که دسر سره عزت شته
دسړی چه عزت نه وی   د ژوندون ئې څه حالت شته

خوشحال خان دهمتناك سړی یوه خاصه مميزه دابولی چه دچاملت پر ځان نه وړی او که دمنت سره هرڅومره قيمتي او ګرانبها څيزهم ور کول کېږي، هيڅ ئې منلای نه شی، ځکه نو وايی :

که ئې ته په منت مومې وائې مه خله   که دچا په باغ کې بوټی د کيمياوی

بل ځای خپل لوړ همت دې دباره چه نورو پښتنو ته یو مثال او نمونه شي، ښکلګه ښه بیا وایي :

دمنت دارو که مرم په کار مې نه دی — که علاج لره مې راشي مسیحا هم
دفر ښتو آمین منت دی په دعا کښې — لاجرم ورځینې پټه کړم دعا هم

د چاچه همت لوړوی هغه تل خپل ابزشی دبل تر ډېر شي په ښه ستر ګه ګوري، خپل وچه ډوډۍ ئې دبل تر سالنو نو خوښه وی او خپلې سپېرې میرې دبل تر باغو وربانډې ګرانې وی، خپله ژبه دبل تر ژبې ورته خوږه ا ښي خوشحال خان وایی :

دخپلې خولې نغن د خمچو — نه چه غمینه د بل په کچو
له اور دخپل نفری دلند و پچو — نه اور دبل نغری د دړو و چو

همداد لوړ پښتني همت اغېزه چه خوشحال خان خپله دشنو بو غر که داورنګ زیب له پاچاهۍ سره برابره بولي اوټولو پښتنو ته دا توصیه کوی چه تاسې باید خپله آزادی که څه هم دشنو بو دغر کې سره وی په هغې پاچاهۍ چه دغلامۍ رنګ واری ورنه کړئ، خوشحال خان چه خپله دشنو بو غر که داورنګ زیب تر پاچاهۍ ښه ګڼی علت ئې همدادی چه د شنو بو دغر کې سره آزاد ژوندون شته، وایی :

چه سرې شنو بې چښم په وخت داوړی
پاد شاهی داورنګ زیب ده زما غر که

بل ځای خپل پوزی ته داورنګ مقام او لقب ور کوی او دا د پښتنو الی هغه عالی احساسات دی چه هیڅ پښتانه ته ددې خبرې اجازه نه ور کوی چه بل چا ته سر ټیټ کړی او یا بل چا ته دمادې شیانو او خو پیسو د پاره تسلیم شي ځکه خو شحال وایی :

چه خوشحال بـاندې لـاړتی كـا
دا پـوزې نـه دی او رنګ دی

همتناك پښتون بايد وږي سترګي ونه لري او نه ئې دبل چا په ستر خـوان كښې سترګي وي او نه بايد د كيتي طمع د پاره خپل حيثيت ټيټ كړي او يا خپل شخصيت بايلي خوشحال خان دانكته داسي ښيي:

كه درست باغ د ميوو ډك ومـا ته كښېږدي
تـر هـمت پـوري مې څـه دی پـو خسري

خوشحال خان دانسان قدر او منزلت، دانسان لوړ والـی او ټيټ والـی، دانسان اصلوالی او كم اصلوالی يوازې دهغه په همت پـورې مربـوط ګڼي، كه څه هم دې طبقاتي امتيازاتو ته دومره قائل نه دی، خو بيا هم تر هغه اصيل سړي چه همت نه لري هغه سړی چه همتناك وي بهتر بولي او په دې ئې ستايي وايي:

كه همت او حميت غيرت پـكښې وي / تـر څښـتنه نه بـهتـر ګڼـه غـلا م
په طلب كې كه سستي نه وي باور كړه / دژوندون او به به بيا مومې په كام

بيا وايي:

چه همت دسړي څوقدرئې مونږه / دتميز پـه تله هر سړی تـاله شي

خوشحال خان دلوړو كـاميابو سړو په همت كښې پټ ګڼي، او ځكه وايي:

همت په پال وپر سړي الوزي / مرغه پوره الو ته كا په وزرو

دهمتناك سړي نظر دهغه همت په شان لوړوي، وړو وړو څيزو نـو تـه نه ګوري او نه وړه وړه څيزونـه ئې لـه خپله مهم غرض او مطلب څخه ګرز ولای شي، په دې ميدان كې خوشحال خان خپل ځان لوړ پښتنو تـه نمونه كوي، وايي:

لكه باز په لوی لوی ښكار زما نظر دی / نه چه ګرزی ګونګټ نيسي باد خورك يم
چه په غوښو ئې روزګار هغه زمری يم / نه چه ولي، واښه خوري هغه مږك يم

دخوشحال خان په عقیده هغه څوك چه همت لری هغه هیڅکله دبل د لاس ګټي ته نه ګوری، دخپلې مټې په زور ژوند کوی دبل لاس ته کتل سپکتیا نه بولی، نو وائی :

خسا چو نه مردار هموونه سپی ګیدړ شرمنی ګفتار خوری
دمرزو بو هنر دا دی چه یا صبر یا خپل ښکار خوری

څوك چه همت لری هغه نه یوازې دبل دلاس ګټي ته نه ګوری بلکه که ئي دلاسه وشی دخپل توان سره سم دنورو سره کومك او معاونت کوی دامطلب خوشحال داسې ادا کوی :

چه خپل بار په هیچا نېږدی بار دبل وړی هم هغه سړی لایق دی دنیا

په آخر کښې خوشحال خان خپل ټول نظریات چه دلوړ همت دستایلو دپاره ئي لری په دې یوه بیت کښې ئي خلاصه کوی او پښتنو ته توصیه کوی چه په هرقیمت چه وی، باید همت پرېنږدی نو وائی :

که آسمان دې دمزری په خوله کښې ورکا
دمزری په خوله کې مه پرېږده همت

داد خوشحال خان هغه وصیتونه وه چه پښتنو ته ئي دلوړ همت په باب کښې کړی دی او هغه هم دې دپاره چه لوړ همت ئي دمړانې مهم رکن بللی دی او مړانه دپښتنوالی ټینګ اساس دی، او خوشحال خان خومړنی او هم‌داسې پښتون غواړی، دالاځه چه دنامرد سړی ملګری ئي هم خوښه نه ده که څه هم دمکې په سفر کښې وی :

دنامرد سره مکې ته رسید اسی،
ښه دمرد سره په بیدی بید یا ورك

بلکه خوشحال خان تر مرګ وروسته نه غواړی چه حتی قبر ئي د نامرد دقبر سره اوږخ په اوږخ وی او که دمرد پښو ته پروت وی،هم خوشحال دی :

پس له مرگه بنیخ د مرد تر قدم بنه یم
گورمې مه شه د نامرد له گوره سم

غښتلوالی په څه دی ؟ خوشحال خان وایي :

یا کښتی د زور ورو سره مه کړه
یا د دوی غوندي پیدا کړه مړ وندونه

یو معنوی غښتلوالی دی او بل ظاهری ، معنوی غښتلوالی خو په علم او هنر اړه لري چه په دې باب کښي خوشحال خان د مخه د پښتنو سره وزغیده او د علم او هنر ضرورت ئې پښتنو ته ثابت او ټینګ کړ ، پاته ظاهري قوت شو چه هغه په توره مربوط دی مګر که لږ دقیق شو نو دا به راته ثابته شي چه دا دواړه غښتلوالي له روغتیا څخه زیږي او په روغتیا ساتلي کیږي ، که څوک ناروغه وي هغه هیڅکله د روغ سړی په شان ښه فکر نه شي کولای ، ځکه چه ښه فکر په روغ او سالم دماغ کښي پیدا کیږي او څوک چه سالم دماغ نه لري هغه هیڅ وخت په علم او هنر کښي کامیابېدلی نشي او نه د معنوی قوت خاوند کېدلی شي همدا شان د تورو په میدان کي روغ او تندرست زلمی تر لکو او ناروغه او ډېر سپک زلمی ښه توره وهی ، روغتیا نه یوازې د تورې په میدان کښي په کار ده بلکه د اجتماعي ژوندون د حرکت ستنه او اساس په همدې نکته ولاړه دی او د ژوی او انسانان تر څو چه روغ صحت مند او تندرست دي نو د کامل ژوندی اطلاق پرې کېدای شي ، ناروغه انسان علاوه له دې چه ژوندی دی او د ناروغو انسانانو کارونه تل نیمګړي وي ، ناروغه انسان علاوه پر دې چه د ټولنې او جامعې پر اوږو بار غړی دی او د خپل قوم او ملت په درد (لکه چه ښائي) نه خوري ، په خپله هم د خپل ژوند څخه حظ او خوند اخیستی نه شي ، نو ځکه ژوند په ضرر دی ، نو د دې خبرو له کبله خوشحال خان پښتانه دې مهم اصل ته متوجه کوی او ورته وایی :

هغه څه دی روغ صورت دی	چه بهتـر تـر سلطنـت دی
ددنیا دو لت کـه ښـه دی	ددولـت نـه ښـه عـزت دی

ځکه چه ښځانه ډیر لږ دي خوا ته ملتفت دي د خپل صحت سره ډیره بې پروائي کوي ، خصوصاً د خپلو ماشومانو او کوچنیانو دروغتیا سره هیڅکه علاقه هـم نه کوي . زه دانه وایم چه اولادونه تندرست نه وي ، مګر دا به ښکاره ویلی شم چه ښځانه هغه ضروریات چه دروغتیا دساتلو دپاره لازم دي نه راغونډوي اونه د هغو شیانو څخه چه روغتیانه مضر دي ځانونه ژغوري . مثال یه تو ګه یواځې هغو شیانو څخه چه د روغتیا دساتنې دپاره لازم او ډیر ضروري دي نظافت او پاکوالی دی چه دانظافت نه یوازې دلاسو پښو ومخ یانور بدن منځل او پاك ساتل دي بلـکه د کـور پـاکـوالـی ، د کـالیو پاکوالی ، دلوښو پاکوالی او هر څه چه دانسان ژوندون سره علاقه لري باید پاك او ستره وي او دپاکوالي حیثیت ئي دساتل شي خوشحال خان په څه خوږ و الفاظو دامطلب د ښځو غوږ و تـه رسوي چه وائي :

خونه چه پاکه وي پري نر کـ اوري

وربانـي هر کـله عزت دولت اوري

پاکي چه نه وي په هغه خونه کښې	ورباندي وایه بلا آفـت اوري

مګرله بده مرغه ځنې ښځانه ویښو چه پر سپیره پر دي چه د کور ، کـالیو او لوښو پاکي او نظافت ته ملتفت نه دي او توجه نکوي پښې اولاس ، مخ او ږیرې و ښځان ئي هم خیرن اونا پاك وي چه په خپله بد ښکلو میږي اوډیرو د کرکي باعث کیږي

استغفرالله . زه دانه غواړم چه دیل قوم یاد قوم ځینې افراد تحقیر کړم او یائي په سپکه یاد کړم ، ځکه چه زه په خپله ښځتون یم او په ښځتنو الاافتخار کوم مګر دلته زه غواړم د خوشحال خان دافکار و ترجماني وکړم چه هـغه

روغتیا او صحت ته په څه درنه سترګه کتل او د پښتنو د پاره ئې تر څه اندازې ضروری څیز باله او پښتانه ئې ددې لوی نعمت ساتلو ته په دې رازمتوجه کول چه ورته وېل به ئې :

چه بهتر تر هر نعمت دی — که نعمت دی روغ صورت دی
چه ئې دا نعمت روزی دی — سر تر پایه عنایت دی
که ئې پېژنې ته قدر — روغ صورت لوی غنیمت دی
ستا د ګوښی ځان یو ازنی — تر جهانه زیات قیمت دی
که دی ځان نه وی جهان وی — په عدم ئې اشارت دی
دا جهان لکه معنی شو — ستا وجود ئې عبارت دی
چه په ځای ئې عبارت وی — د معنو هم نېره قوت دی
د صورت د خوشحالیه — مدار واړه په صحت دی
چه صحت د صورت نه وی — ورته خس مال ودولت دی

خوشحال خان دانسان په هستۍ کښې د صحت خوند او حلاوت ته ډېر قائل دی دده په نظر کې که صحت نه وی، نور هر څه چه وی ټول هیڅ دی، نو ځکه پښتنو ته داخبره په شعری ژبه بیانوی، ورته وایی : ـ

که ډېر دولت لري ډېرې هستۍ — دواړه دی هیڅ دی بې تندرستۍ
که یې بو هېږې خو تندرستي ده — چه حلاوت لري ستا د هستۍ

نو په دې ترتیب خوشحال خان پښتنو ته د توریالیتوب او مړانې او غښتلوالی توصیه یا ی ته رسوی چه په دې زمینه کښې دده د مفکورې خلاصه هم دا جمله ده چه:

«پښتنو! توریالي، مړني او غښتلي اوسئ!!»

(٦)

خوشحال خان وايي :

څنګه ملا؟ څنګه شيخ؟
څنګه ملک؟ څنګه خان؟

ملا ئي په دين تحصيل شي
ملکي خو بادشاهي ده
پيري لالو په پايه ده
هفت اسمان کښي داواده
هر سړي وړ نه ملا دی
چه پير و هغه شاعر دی
هغه ... ور نه ملک دی
خان هغه چه ... پيروزي
پير هغه چه پسې د رومي

شاعري ده له حکمته
خاني هم له سلطنته
ده له خپره رياضته
پښتانه له جهانه لته
چه په ياد کا خو آيته
قافيه غلطه کته
چه کوم ... له محلته
به ز انگو کښي وهي لته
خو سر توري به دا لته

له کومه وخته چه پښتون قوم دين اسلام په حيث پيژاندل شوی دی نو ئي روحاني او مذهبي مشران در اودل تر اسلام دمخه به داوظيفه « ريشي » گانو چه هم شاعران او هم مذهبي لارښوونکي وو ، اجرا کوله. تر اسلام وروسته ايماً دا وظيفه د ملايانو او شيخانو په غاړه شوه ، مګر وروسته وروسته د و نورو قوتونو هم د پښتون قوم په منځ کښي لاس پيدا کړ چه هغوی ته «خان» او «ملک» وويل شو ، که څه هم هغه وخت چه د خلافت ځای نه حکومتونو ونيول يوه بله قوه هم پيدا شوه چه حکومتي اقتدار و، خو په ملي ... قوتونه وو ، چه د پښتنو هر څه يعني لار ښوونه او ... لاري او ... حتى ژوند او مرګ د دوی لاس ته سپارل شوي وو ، چه دوی

به هر څه کول هغه کېدل او چه دوی به هر څه ویل هغه به قبلېدل، په دې کښې شك نشته چه دې قوتونو ترڅه موده پورې د قوم دپاره خورا اوچت خدمتونه وکړه خصوصاً روحانی او مذهبی قوتونو، ځکه چه له دې څخه هېڅ پښتون انکار نشی کولای کوم خدمتونه چه ملایانو داسلام دپاره یا د اسلام په لاره کښې کړی هغه د هېرولو نه دی همداشان هغه لارښوونی چه د دین شیدا یانو خپل بی خبر قوم ته کړی دی او دوی ئې سمی لاری ته چه د دنیا او آخرت ګټی په کښې وی رابللی دی ډېرو ستاینو وړ دی خصوصاً په پښتنو کښې د جهاد روح د روشن فکره عالمانو د وعظونو او لارښوونو برکت دی او په پښتنو کښې اکثر لوی او مشهور مجاهدین هم د علماؤ او روحانیونو له طبقې څخه پیدا شوی دی، مګر د افسوس خبره داده چه ورو ورو ځینی داسې کسان پیدا شول چه ځانونه ئې دې مبارکو طبقو ته منسوب ول، مګر خوی ئې هېڅ دوی ته نه پاته کېده او نه حقیقی علما او روحانیون وو، فقط دوی د صحیحو علماؤ او روحانیونو پاك نومونه او سپېڅلی مسلکونه ورلکه داره کړل او دا پاك مسلکونه چه خدای د انسانانو د اخروی او دنیوی سعادت دپاره پیدا کړی وه یوازی د نس ډکولو او پیسو پیدا کولو او خالص مادیت دپاره وسیله کړه او حقیقی لاره ځنې پاته شوه. خو داسې متقلبینو د خوشحال خان په وختو کښې ډېر قوت موندلی ؤ، او علاوه پردې چه حقیقت ئې پرېښی و، او خپل پاك مذهب او خپله سپېڅلې طبقه ئې بدنامول خپل قوم ته ئې هم سمه لار نه ښوودله او یوازی ئې هغه لارې ورښودلې چه دوی ترېنه استفاده کوله. نو ځکه خوشحال خان دا مظاهره کوونکی ترخپل قضاوت لاندې نیسی او د قلم په څوك د دوی ترټنه او اوغند نه کوی چه مونږ دلته د خوشحال خان نظریه او عقیده ده د وخت د دې ځلورو قوتونو په شاو خوا کښې جلاجلا راوړو چه خوشحال خان په څه طریقه دا د حقیقی ملایانو او رشتینو شېخانو بدنامونکی پښتنو ته معرفی کوی :

ښنګه ملا؟

خوشحال خان هغه کسان چه حقیقي ملایان نه وی او په دروغو ځو ېېسو دپاره ځانونه عالمان ښکاره کوي او په دې راز د خدای مخلوق له لارې باسي ، په ظاهره ځان خورا متقي او ښه سړی ځرګندوی ، مګر په پټه ئې خلقو ته دام ایښی وی ښنګه ښه په ښېښتنو ټېژنی چه وایی :

ناد یده چه منیه (۱) لولی | ځان ملا کاندی مشهور
سفله ټول کاڅو در همه | تر خواجګانو شی مغرور
دروغجن ترټو په ور شی | د کابل کاندی منځ کور
پټی د کی پیا لي ا خلی | ښکاره نه خوری پړانګور

داسی د علم او علماؤ دښمنان خوشحال خان دغلو په نامه یادوی - رښتیا هم داسی ناقص کسان د حقیقي ملایانو او علماؤ ، نوموړنه غلا کوی مګر علم او پوهه لری دی وایی :

هسی غله را ګډ شول په دا دور آخرین کی
چه پیل له انبالیه پټوی په خپل آستین کی
زر دانې تسبیح لری شملې د وروسته پرېږدی
لوی کتاب په لاس ګرځي بل سیال نه ګڼی په دین کی

بل ځای وایی .

عالمان دی رهزنان چه غواړی نفاذی | عام عالم له زده کړی ځود لیله

همدا شان هغه څوك چه د علم دعوه کوی ، مګر عمل ئې له ویلو سره برابر نه وی په ښه سترګه نه ګوری بلکه د داسی ځا په حق کښې وایی :

کتابونه د آسمان د ځمکې اولی | په عمل ئې فرق د ځمکې د آسمان دی
په باطن ئې زده ګمان سره لړ لی | په ظاهر و بل په ژبه مسلمان دی
په خبرو کښې ئې فیض مونده نشی | منځ بانب په قول ، عهد په پیمان دی

(۱) منیه د فقه یو کتاب دی .

په نوره بيا هغه اشخاص ډېر بدستاٸي چه دنس دپاره قرآن تر ښو لاندې کوي باعمل نه پرې کوي ، نو وايي :

په کانه شم و عالم و ته حيران — چه دنس دپاره څه کادا تکان
تل قرآن دوړ اندې ايښي قرآن اولی — ولی هېڅ عمل ئې نه وی په قرآن
هسې چارې ئې پيدا شي له وجوده — چه په فکر ئ کړنه وی د شيطان
په کوم لوری پسې ځم چېر ته ئې غواړم — د کيميا غوندی ناياب شول دانايان

هغه څوك چه ځان ملا بولي او د ملايي دعوه کوي بايد هېڅکله حق پټ نه کړي ځکه چه حقيقي عالمان په ډېرو مهلکو ځايو کښې چه د مرګ خطره وه هم تر حقيقت او حق ويلو نه تېرشوي نه دی څه داچه د څو پيسو دپاره به ئې حقيقت ته شا کړي وای ؟ ! خوشحال خان حق پټوونکو ملايانو ته وايي :

په ملا توره تيا ره شوه چه حق پوش شو — که په لاس ئې فتاوی وی سراجي
علم څه دی چه معنی کښې ګټينه دی — کاسه هم و ر لره بويه خراجي

بل ځای هغه ملايانه چه حق ويونکي نه وی داسې ښيرې کوي :

د تحصيل او د ترتيل بلا په ده شه — چه ملا د حق ګويه په کار نا کت دی

هغه څوك چه د علم دعوه لري مګر د خولې او زړه لاره ئې سره يوه نه وی که هر څو ډېر لمونځونه کوي لا هم د خوشحال په نزد بې او دسه دی او کوم عالم چه د زړه او خولې ګفتار او کردار ئې سره يو نه وی د هغه په باب کی داسې وايي:

کله رانه غوندی ملا و اقف درازدی — د کتاب په مسئلو زبان دراز دی
زه مرئي د هغه چا يم تری ځار پزم — چه د زړه سره ئې جوړ د خولې آواز وی
چه ئې رڼا د خولې له زړه سره يو نه وی — که په هر لمانځه او دس کا بې نمازدی

هغو ناقصانو نه چه حقيقي علماء نه وی خود علماو ، په جامه کې ئې ځانو نه څرګند کړي وی ، د هېچا په مال صرفه نه کوي ، حتی د کونډې رنډي او يتيم مال هم لا نه پرهېزدی ، خوشحال خان د دوزخ او اور خوړونکي خطاب ور کوي :

خپل مال په ترس په سرفه په بیم خوري   د بل غم نه کړي که درست که نیم خوري
په کور د کوندې رنډې دینیم خوري   ملا د اولـې اورد جدبم خـوري

په پای کښې نولاس دغندنې او تر ټولې ښخه اخلې ملانه توصیه کوي چه مغرور کېږه مه :

که دېر والاشي په یار سایه کښې   سیال دې ځوك نه وي په ملايۍ کښې
غافل هیڅ مه شه د نفس لـه مکره   بلا پربوزي پـه اشنـا یـي کښې

دا د حقیقي ملایانو او علماؤ غندنې نه دي ، بلـکه خوشحال خان پښتنو ته هغه کسان ښیي چـه ملایان نه وي ، خو د ملایانو په جامه کښې را وتلي وي. او د حقیقي ملایانو رنـګه بدوي ، نو ځکه پښتانه بایـد د خوشحال خان خبرو تـه دقیق شي د حقیقي ملا او غیر حقیقي ملا فرق سره وکړي او هغه څوك عالم وپېژني چه په حقیقت سره عالم وي ، نه دا چه د ملا نوم پر ځان کښېږدي خو په حقیقت کښې بـلا وي !!

* * *

څنګه شیخ ؟

د خوشحال خان په زمانه کښې تر ملایانو لا په شیخانـو او پیرانـو کـې ډېر داسې کسان وه چه فقر ئې شرمولی ؤ ، او د پیسو ټولولو او خلـکو غولولو د پاره ئې دا آسانه لار موندلې وه ځکه چه هغه کسان چه علم به ئې نه درلود او د علماؤ نومونه به ئې پر ځانو ایښوول او خلق به ئې غولول که څه هم په بدوالی کښې ئې له دې ناقصو پیرانو او شیخانو سره ډېر فرق نه درلود ، مګر دا هم ثابته خبره ده چه د هغو کـار د خلـکو د غولولو د پاره ډېر سخت او مشکل ؤ ، او هیڅ امـکان ئې نه درلود چه هر جاهل او ناپوه دې کـار ته غاړه ایښې وای ، دا ځکه چه ځینې داسې ښختونه به راتله چه د دوی عیبونه به په خپله څرګندېدل او یا به ځنې داسې ځایونه راغله چه هغوی به امتحان ور کولو ته مجبورېدل

تش په زیره پرېښودلو او نسبي اړولو هغه کار تر پایه نه چلېده خو دمتقلبو او غولوونکو شېخانو کار ترلومړي ډلي ډېر اسان او بې اشکاله ؤ ، فقط یو چلتار ترلاویو او زد کسیس اغوستل او سترګي پټه چپه کول دپښتنو دغولولو دپاره کافي وه ، نو ځکه خوشحال خان مجبور شوی دی ، چه داډله هم خیل قوم ته معرفي کړي چه دا سي متقلبین و نشي کولای پښتانه وغولوي او باد حقیقي شېخانو او دخدای د دوستانو نوم وربد کړي ، هو ! خوشحال خان حقیقي شېخان هم پېژني تاسي ګوري ، څنګه ښه ئې ستایي :

دد رویش ترزړه بهٔ ـه رسي داوا ړه — آینـه دسکـندر کـه جام دجـم
ددرویش وته سر ګوزي بادشاه نه دي — د آسمان ورمېږ لاهم دی ورته خـم
ددرویش علم په درس په مکتب نه دی — تل نظر لری پـه لوح او پـه قلـم
ماوناؤ ته دیوال شته غالې غرو نه — په درویش ترشرقه غربه دي یـو سم

بل ځای د درویش خویونه او افعال داسي بیانوي :

درویش هغه دي چه ترس دخدای لري — د نیـکو فـعل د نیـکـو رای لـري
طمع له چا ، نه کا لقمه حلاله لري — جدا له خلقه دا سو د ګېږ ځای لري

خو بالعکس هغه کسان چه دشېخي دعوې کوي ، مګر خوی او کارونه ئې د حقیقي شېخانو نه وي ډېر بد ستايي اوپه دې ترتیب ئې پښتنو ته ښیي :

را ښکاره دي ددې دور لنډ لستوني — پردی مال وته او زده لاسونه مو ني
که په باغ ئې دیتیم د کونډې ګډ کړي — دا نـګورو به خوازه زنـګوري چونه ي
دخو ړ و مزه یو ښتي بـزه ئې هېره — ښې څربې لنډي ؤهي وربا ندې سوني
کله سر په سینه و منډي سبز ګي شي — کله سر موزي د مار لـکه سر بوني
په خپل کار لکه شاخوزي خر خوله خوشکه — په بل کور کي لکه آس په راتب پوني

هغه کسان چه په ظاهر لباس ځانونه شېخان او پیران بولي او هم دا لباس

ئي. دخدای د مخلوق دغولولو دپاره سبب کړی وی خوشحال خان ئې ښه پېژنی او داسی ئې غندی :

که شېخی زاهدی غوادې — په خپل لاس کښې ده لا لا !
لنګی ور دستار په سر کړه — سر و هم په مصلا
بامسواك كښېږه ده په سر کې — پا ئې وتو مېه تر ملا
په تسبيح خو ځوه شو نه دې — نور تنګی کوې که غلا

ددې راز شېخانو غولولو اوفرېبته هم خوشحالخان ښه ملتفت دی اودوی په حماقت خندا ورځی چه دځو پیسو دپاره شنډې ښځې ته په دروغو وایی چه زه به زوی در کړم٬ یارنځور ته په ډېر صحت ور کوی باسو چه مسلمان دشخصی غرض دپاره په لبز کړیـ کافر ولای شی خو خپل ځان ته ئې فکر نشته چه کفرته نژدې ګاروته کوی٬ خوشحال‌خان داسی خلك دطریقت غله بولی اوله خدایه ئې مرګ غواړی٬ ځکه چه داسې خلق هم طریقت بدناموی اوهم دخدای مخلوق له لاری باسی٬ نوخوشحال خان وایی :

داچه ګرزی٬ کښېنی٬ پاڅی یا یخې لندی — شانکی و هی دربانی څربې لندی
دا همه وا ده رهزن د طریقت دی — خپلې خونې لره وډی پردیه کندی
د عالم رخنې تره په سبادی مره — خبرنه دی دا ګېدی له خپلې اندی
ورنځور ته ور کوه صحت په اندر — ښځې زوی په دروغ ور کړه دشندی
چه به ئې خدایه یقین په نورخه کړدی — دهغو دایمان بووړې شیطان وندی
عالم کفرته و باسه په زمان کښې — دی تر خپل ایمان وتلی لا په څندی
لا به کله داسګان وژنې خوشحاله — چه به دا ثواب حاصل کړې بندی بندی

ددې ډلې ددروغو پهٔ ذکر خوشحال‌خان افسوس کوی‌چه دوی‌ولی دخدای نوم په منا فقت یادوی اودخدای نوم ئې دخوېښو دپاره وسیله کړی دی . نو ځکه له خدایه دداسې ډلې څخه امان غواړی :

خدایه مه وی هسې ذکر   چه ئې خلق سر هوا کا
درو یشان د «لا» په توره   همېش لوډ ما سوا کا
د یود «لا» توره وکښلې   یوو دغېلو یا د غوا کا

بل ځای هم ددوی له دا په غفلت لړلی ذکر څخه امان غواړی چه ذکر دځان د پاره کوی خومنت په نور عالم ږدی وایی :

خدایه واخلې هسې ذکر   آلوده په ډېر غفلت
خدای د ځان دپاره بولی   په عالم کاندی منت
په الله الله و یلو   تاخت تاراج کا درست محلت

بل وخت چه دوی وینی په زړه ئې یوه یه خوله ئې بله ده، ویل او کول ئې سره برابر نه دی، تسبې پهٔلاس دبل مالونه خوری، نو وایی :

کههزار ځله څوك سروهی په مځکه   یا په صوم ترشمځی ورولی ناف
څوچه نیت دښهعمل‌سره جوړ نشی   عبادت، طاعت دې وړاندی خلاف
چه دزړې لار یو ه دژ ړه ئې بله   په‌چاړه‌ئې‌شه ځیگرشگاف شگاف

بیاورته وایی چه تا په خپل زړه کښې بتان کښېنولی دی او د عفو تابع شوی یې ، نوبیا داریایی سجده دچا دپاره ده ؟

ځکه نو پښتانه د داسې غولو ونکو خلقو له پیروی څخه را گرزوی او اوشریعت څخه مخالف شیخ ته وایی :

نا په زړه کښې سل خدا یان دی کښېنولی
راته وایه سر وچاته په زمین ږدي

دغفلت نسپي په روځ وشپه چار باسي

خومنت به په کرام الکاتبين بزدي

کوم وخت چه دپيسو دپاره د کرونه اروی نو په غوږ و کی کوتی نيسی

نري تېرېږی او پښتنو ته همدا توصيه کوی :

کوتی ومنځه په غوږ ونري تېر بږه

دا کرزرد کرونه کارده به درم کښي

يا چه په ښکاره د کرونه کوی او په پټه دخلقو مالونه په دروغ او تيهال خوری

نو خوشحال خان ئې مخ ور نور وی ورته وايی :

دو ويشي دا ده که تل حلال خوري

که تل حلال خوري بيا دخپل مال خوري

ښيښي وعدې کړي مخ دی خدای تور که

پردی مالونه په دا تيهال خوري

څوك چه غوامی حقيقي شيخ شي بايد عالم وی ، جاهل شيخ علاوه پردې

چه څوك لاري ته را وستلای نشي دبر خلق گمراه کوی او به ناروا کارو

ئې اخته کوی ، نوځکه خوشحال خان دجاهل شيخ فساد ترعزا زيل نه څه کم

نه بولی ، وايی :

ددې دور در ويشان خليفه بس دی

اوس خپل ځانله بل کار کاعزازيله

دا جاهل شيخان شيخان نه دی شيطان دی

چه فساد ئې پيدا کيږی لــه تهليله

داسی منقلب خلق په څوڅو رنگه ځانونه ښکاره کوی .

خوشحال خان ئې داسې ښيي :

پلار ئې په بند کړ، ور ورئې بند بند کړ

ځان ئې هم شيخ کړ، هم دانشمند کړ

اوس په غزا کې خپل ځان غازي بولي

په ځو ځورنګ ئې خپل ځان ځر ګند کړ

خوشحال خان دې ته حيران دی چه له يوې خوا دا دو مره استغفارو نه اوله بې خوا هو نبره ګناه ؟ ! نو ځکه وايي :

آه دا هسو نبره استغفا ره   چه ئې نل کړې په اسحا ره

که رشتيا دا استغفا ر دی   بيا ګناه څه ګناه ګا ره ؟

که دا کار دی په دروغ کړې   شرم و کړه له دې کا ره

هم دروغ کړې هم ګناه کړې   نه ترس د ې نشي له قهار ه

دا حال چه وينې نومجبورږيږي چه پښتنو ته توصيه وکړي :

هر چرته چه ګرزې په لاحوله ترې تېرېږه

سل بلا په زړه کښې سل دانې تسپې په غاړه

داځکه چه په همدې جامه کښې دوي د خلقو مالونه ولجه کوي ، نو خوشحال خان وايي :

دا تا راج لګه شيخان کاندې په ملک

افر يدې نه دي داهسې تا را جې

صوفي لافي د سلوك کا هم دا لافي

سرا سر ګڼه د ده بې منهيا بېچې

دائې سحر د بيا بيل د مځکې را وړ

چه درست اوس په کوټ کې رمانده حاجي

صفا ئې د زړه په کار ده نه د ږيرې
څو به ږيره ګرځوې شانه عاجې

په آخر کښې د خپل دور د شېخانو څخه بېزاره‌ږي او وايي :

د دې دور د شېخانو حال مې وکوت
چه ساعت ورسره کښېنم ترې بېزار شم

څنګه چه خوشحال خان د دوى دا ټول ذکرونه د څو پيسو او څو درهمو د پاره بولي :

ګوتې ومښه په غوږ و ترې تېر پېزه
ذاکر ذکرونه کا زړه په درم لښې

له دې جهته نو خوشحال وچ زاهدان او ناقص شېخان نه غواړي، بلکه د ده عارفان په کار دي، لکه چه وايي :

زاهدان شېخان وهر لوري ته ډېر دي
د خوشحال خټک په کار دي عارفان

هغه عارفان غواړي چه هغوى خپلو زړونو ته توجه کړې وي او زړونه ئې صفا وي داسې نه چه :

د صفا په لارې نه اېښې قدم — همېشه له ده ورېښه وهه دم
هغه کمه شيخ، ملا، ولي، درويش دي — چه نظر په سود وزيان په هر دم

څنګه ملک ؟ څنګه خان ؟

د روحاني او مذهبي قوې نه وروسته دوې نورې قوې د پښتنو په مقدراتو لوبې کوي يوه د خانانو او بله د ملکانو قوه ده. دا دواړه قوې ښايي چه د ملوک الطوايفۍ د وخت ښې وي، او د دوى منځ اکثرا د تقريب او ورانۍ خواته ګرځېدلې دي

دوی چه هر ځای پیدا شوی دی. هلته ظلم، تعدی، تفرقه، بې اتفاقي او تجاوز پیدا شوی دی. احتمال لري چه په خانانو یا ملکانو کښې به ښه سړی هم پیدا شوی وي او یا به پیدا شي، خو په رئي په وراني پسې روان دی او د تخریب خواته ئې مخه شوې ده

دوی بې له ځانه نور هیچا ته په حق قایل نه دي، دوی چه د قوم مشران ئې نو خیال کوی چه قوم مدیری داسته دي او دوی د خدمت او د دوی د ظلم د پاره پیدا شوي دی. نو هر څه چه ئې د لاسه کېږي خپل قوم خوروي او شکوي ئې، تره ئې اوحق ئې ناحقه کوي، بډې او رشوت ځینې اخلي، نو خوشحال هم دوی په دې ستر ګه ګوري چه وایي :

که په کور کښې مال دولت لري ستر ګه رزی ملکان ئې تر خانانو د ې هر دار

حقه چار به د غز پز کښا ندي نسا حقه که په بډې رشوت مړه ی بودینا ر

د ملکانو سره رشوت خوړی تر لې ده. سود خوري اولو ږ خر شول خو د دوی له اسلي وظیفو څخه ګڼل کېږي، نو ځکه خوشحال وا یي :

د برئي ملکان دي په کښې ښه ملك مفه دي

هرچه بې ننګي کا د چا بډې رشوت خوري نه

کېږي په ... کي د سود ونو کا خوري

یا د خوږ ... د لور د لور د نود بل کړ ینه

همداشان د خانانو حال څر ګند وي، وایي چه خاني د هر چا کړ نه دي او نه خاني دومره اسانه ده چه هر څوك ئې کولای شي :

و خا نی، و ته و ر ځنګلــه هغو هیــڅ نــه

و ما لــم و تــه پیــدا کــړه د ر دســـر

خانی کار د هر چا نه ده د هغه ده
چه سر فه ئی نه په زر وی نه په سر
یکبار ه ئی په نظر کی شرم ننگ وی
د دنیا په سود و زیان نه وی خبر

بل ځای د حقیقی او درست خان اوصاف داسی ښکاره کوی:

خان هغه دی چه په خپل نام دی
نه په دنیا دی نه په خپل کام دی
چه په کوم تو کی دقام ښیگړه وی
په هغه فکر کی په صبح شام دی

مګر هغه خانان او ملکان چه دخدای مخلوق ز هیروی او دهغو دژوندانه درده غافله وی که څه هم زیری ئی سپینی وی، خو بیاهم دخوشحال په نظر د ئی هلکان معلومیږی، دی وایی:

دغافل په سپینه زیره غلط مشه دهلك غوندی ئی لا په خوله کی تی دی

که هر څو ئی یو هوم پری نه یو هیږی
زیست روزګار ورسره مه وشه ځاروی دی

کوم لوی عیب چه خان او ملك ته منسوب دی او د وی ئی نه یواز ی دخوشحال په نظر کی بد کړی، بلکه دټولی جامعی او ټول اولس نفرت ځینی کیږی هغه ډیر بی وزلو او خوارانو باندی ددوی ظلم دی ، ظلم هم نه یوازی دخان دپاره بلکه دظالمانو د ګټی دپاره ، دځو پیسو دپاره خواران په ظالمانو تکوی اووهی او شکوی ئی ، غریب قوم چه دوی دخان مشران کړی دی ، خو دوی غریبان دخان داسی کشران نه بولی چه دهغو دپاره خدمت و کړی او یاددوی په غریبی ئی زړه وسوځی ، بلکه داسی کشران ئی بولی چه له دوی څخه کار واخلی او دوی دمریو نو په شان استعمال کړی ، د دوی ګټلی ځینی په زور واخلی

یائي په خپله وخوری ، یائی نورو ظالمانو ته ور کری ؛ نو خوشحال خان داستمګرانو داسې یادوی :

ستمګر به همیشه په دنیا نه وی　　پس له مرګه به لعنت لعنت په ده وی
هسی خونې د ظالمې په کار ولاړه دی　　نه به وائې مرګ ئې نشته تل به ژوی
ظالمان په نورځه هیڅ راغلی نه دی　　خو دنیا و ته بنو ئې بزی لکه روی
چه د خپلی کامرانی په کار راشی　　که عالم ته و بالاشی پری ئې زده وی
په ګفتار کښې فرښتو سره سیالی کا　　په کردار کښې شیطانان ترې پوری ځه وی
که په سول ئې د دنیا مقصود حاصلیږی　　د مکې په وره به هم پوری کاسوی
په خپل زوی ورور ئې به نه وی ترلی　　د خپل پلار و مرګ ته هم موزی ورغوی
په هغه چاره قائم روغ کا قرآن کښې　　په هغه چاره له وروره مری سکوی
په رکوع کښې تسبیحات د مال وملك كا
په سجود کښې خپل حشم غواړی که بنه وی

مګر داستمګران سره ددې چه دومره ستم کوی بیا هم خپل ظلم ته ملتفت نه وی او خپلو مظلومانو ته داسې مظاهره کوی چه مونږ خو هیڅ نه دی کړی لکه خوشحال خان چه وایی :

هم ئې هیڅ راته پرې نښو دل هم وایی　　چه داده او سه لا هیڅ نه ئې نتلی

دوی باید د مظلومانو آهونه هیر نه کړی ، د مظلومانو آه به ضرور دظالمانو کور وران کړی لکه خوشحال چه وائی :

د مظلوم آهو نه کانې دغره سیځی　　ظالمان به آزار ونه چند آخلی

۞ ۞ ۞

نتیجه :

خوشحال خان خو په دې دول ددې ظلور وقواؤ ر نګا رنګ رو لونه چه د پښتنو په مقدراتو اواجتماعی ژوند کې ئې لوبو لی د نی راوښودل ، اوس باید

موږ په ډېر دقت دده له افکارو نه نتیجه واخلو، او هغه دا ده چه دې خاورې وقوتو نو ته پښتني خان، ملك، شیخ او ملایانو ډېر ځیر شو، او کوم وخت چه غواړو چه دوی ژموږ په مخ کښې شي، نو په انتخاب کښې ئې زښت ډېر دقت وکړو، او دادې دقت مقصد به داوی چه موږ صحیح او درست مشران وټاکو، نه دا چه هر لاس ته لاس ورکړو او په پټو سترګو په هر چا پسې روان شو :

ای بسا ابلیس آدم رو که هست　　پس به هر دستی نباید داد دست

ځکه چه اوس هم دا خاوره قوي دپښتنو په اجتماعي ژوند کي پوره لاس لري نو پښتانه باید درست اشخاص له نا قصو ځنځه جلا کړي . دروغجن او متقلب او خائن اشخاص دصادقو او رښتینو سړیو سره ګډ نه کړي . ځکه چه دې اشتباهاتو ډېر قومونه غولولي دي چه روسته یا خپلو خطا ګانو ته ملتفت شوي دي، خو هغه وخت کار تر کاره تیر او دوی افسوس ګټه نه ده کړي، اودې کبله نو باید پښتانه له دې رنګه اشتباهاتو ځنځه ځان وژغوري او دمشرانو په انتخاب کښې تر حد زیات دقت وکړي . همدا اشان هغو بنا غلیو ته چه غواړي دقوم مشران شي دا فکر په کار دی چه خپل قوم ونه غولوي او دقوم افراد دشخصي فائدې او ګټې دپاره استعمال نه کړي، بلکه ځان دقوم خادم وګڼي او دقوم دلوړ ولي فکر وسره وي . دقوم له منځه جهل، ناپوهي نفاق او بې اتفاقي او قبیلوي فکر ورك کړي، دیو اوي قوي پښتون دجوړ ولو خیال وساتي، ځکه چه دپښتنو اکثره مشران دځان ځانۍ په بلا اخته دي او هرڅه یوازې دځان دشخص دپاره غواړي، او دقبیلو تر منځ دنفاق تخم پاشي او له هغه نه دځان دپاره فایده اخلي

ناسو ګوري، له کومه وخته چه دا څلور قوتونه د پښتون قوم د مشر نسوب
په کورسي کښېناستلی دی دوی اکثره په دې پوهېږی چه پښتون قوم
ناپوه دی، باید دوی پوه کړی شي، مګر پوه دې خبری ته چه دی اقدام نه دی کړی
داځکه چه که پښتانه پوه شی نو خپل مشران به په خپله په ډېر دقت وټاکی او په
هر ناپوه پسې به نه ځی، دغه مشراو به مشر تمیز به وکړی، او داخبر د دوی
شخصی ګټې ته تاوان رسوی، نو ځکه دوی په خپل قوم کښې نفاق او ناپوهی
قایمه ساتي، خبر نه دی چه دژوند لاره دانه ده او خوشحال خان دوی له دې
ځان ځانی او قبیلوی ژوند څخه داسې منع کوی:

چه دې توان رسی په لوی دریاب کښې ګرزه

په ییله کښې دې زوال وینم نهنګه!

خوشحال خان وایی :

(۷)

کار وکړی، بډایان شی!

که غواړې پسې وهې په لاس به در شي
چاوې داچه په دریاب کښې ګوهر نشته

لاس او پښې او نور د بدن ټول غړي قدرت انسان ته د کار او فعالیت دپاره ور کړي دي، که انسان له چلولو غړو څخه کار وانه خلي او خپل ځان کاهلۍ او تنبلۍ ته وسپاري دی نه یوازې له طبعي قانونه څخه مخالفت کوي، بلکه په اجتماعي ژوند کښې دا جتماع د اوږو بار دی دالاځکه چه د ژوندي نوم پرې یادول د ژوندون دپاره عار باله کېږي، ځکه چه ژوندون عبارت له حرکت، او خوځېدو او فعالیت څخه دی ـ څوک چه نه خوځي، فعالیت او کار نه کوي د هغه او د مړه په منځ کی څه فرق او توپیر نشته، نو ځکه خوشحال خان پښتنو ته د کار توصیه کوي او بیکارۍ ورته په بده ستایي دی وایی :

هر ساعت چه پرچاځي هسې بېکار ‖ تر هغه نه زه لا ښه ګڼم بېګار
رنځوران له کاروباره کامعذور دی ‖ روغ سړی به ولې نکا خپل روزګار
که هیڅ کاروبار دی نه وي درته وایم ‖ هسې مه کښېنه بېکاره نابکار

داخو د پښتو متل هم دی چه "تر بېکارۍ بېګاري ښه ده" نو معلومېږي چه په پښتنو کی له پخوا څخه بېکاري بده وه، مګر په اوس وخت کښې د پښتنو ځینې ځلمیان او زاړه شته چه خپل وختونه په لهو لعب تېروي او نا جائزې چارې ئې د ځان دپاره کار ګرز ولي دي، نو ښایي داسې پښتانه د خوشحال په وخت کې هم وؤ، چه نه د دین وه او نه د دنیا، ځکه نو خوشحال خان داسې پښتانه د ټولنې بلا بولي او مرګ ئې له خدایه غواړي :

چه نه د دین دی نه د دنیا دی   هغه که ګرزی په کار د چا دی

پرېږده چه ومری جهان ترې خلاص شی   په دا جهان کې یوه بلا دی

یاخینو پښتنو ته چه د خپلو غرو څخه هیڅ رنګه کار نه اخلی، اواوز دي پښې ئې غځولی د دوی ورځ دوې سپوری نه او دوږمی شپه په کوتو او بانډو کی او ورځ ئې پټاوی ته تېروی، داسې سپینې خبرې کوی:

چه په دواړو سترګو ړوند په غوږ و کوڼ شوې

لال په حوله غفلت په لاسو پښو هم شل لړې

که مونږ په دقت سره کائناتو ته وګورو، سر بېره پر انسانانو، نور موجودات هم بې فعالیت او بې کار نه دی او هر کار چه د قدرت له خوا ور سپارل شوی دی هغه په اجرا بوخت دی، ټول ژوی مجبور دی څو چه ژوندی وی د خوځېږی، کار و کړی او ځان ته یو آرام ژوند تهیه کړی؛ که نور آرام ژوند نه وی، د خپل نس د پاره هم هر ژوی مجبور دی فعالیت و کړی. د دنیا ټولو انسانانو چه تر پښتنو ښه ژوند پیدا کړی دا ټول د کار او فعالیت نتیجه ده او پښتانه چه دومره وروسته پاته دی، دا د دوی د بیکاری او ناپوهی اثر دی، څوک چه کار و نه کړی، زحمتونه و نه باسی او مشقتونه و نه ګالی، هغه هیڅ د ښه ژوند خاوند کېدلای نشی، حتی که حیوانات د خپلې ګېډې د پاره حرکت او هڅه و نه کړی، یقیناً وږی پاتېږی، ځکه نو خوشحال خان پښتانه په دې راز پوهوی او ورته وائی:

چه مزری خپلې منګلی نه کا ګنبلې   هوابرونه وی څربې غوښې ورته تلې

مرجونا د در مرجان هاله ولیجه کا   چه قبول کا اندی د بحر خونې چلې

عاشقان چه تر سر تېر شی هاله ګنبل کا   د دلبرو پستې خولې لکه بخملې

باز چه والوزی له ځالې هاله ګوری   د کبکانو ښائسته سترګې کجلې

چه داور بخری باد سره رفیق شی — بیا هاله کښې په ملګونو لمبې بلې
چه سېلاب د غره د سره نه روان شی — بیا هاله بیائې په منځ دېرې خځلې

هو! خوشحال خان د زحمت اېستلو او کار کولو جدی طرفدار دی او دا مشهوره خبره چه «بې زحمته راحت نشته» ډېر ځایونو نه تکرار وی، یو ځای وائی:

هر سړی چه محنت نه کا هغه کله راحت مومی
راشه راشه رنځ قبول کړه که ته ګنج غواړې ښه پند دی

بل ځای همدا مفهوم په دې شان بیانوی:

چه محنت په ځان قبول کا راحت مومی
رنج و ګنج سره دواړه دی تړلی

بل ځای وائی:

چه محنت په ځان قبول کا نو راحت شی
چه عارف د مصیبت شی عافیت شی

یا دا چه وائی:

چه جنګیالی دی دولت هغه مومی — چه ننګیالی دی عزت هغه مومی
دا دواړه تو له سره تړلی دی — څوک چه محنت کا راحت هغه مومی

همدا رنګه د کار کولو او زحمت اېستلو ډېره تر صیبې پښتنو ته کوی په تېره بیا د کرهڼې او زراعت کار د ژوندانه له مهمو کارو څخه بولی او دهقان د حور و میلمه ګڼی او څوک چه د دهقانۍ ډوډۍ خوری د هغه مقام تر ظالم پاچا پورته ګڼی، وائی:

څوک چه ډوډۍ د دهقانۍ خوری — خواړه د حور و د مېلمانۍ خوری
چه ئې په ظلم خوری واړه دې زهر شی — که سا لنو نه د سلطانۍ خوری

رښتیا هم داده که څوک د دهقان او بزګر مقام ته ملتفت شی په اجتماعی ژوند کې

د ډېر لوړ مقام اوری ، تا سې څېر شی
دا انسانانو تولې طبقې که غریبی دی یا بډایی ،

که شیخ دی یا ملا که کافر دی یا مسلمان ، که ښځې دی یا نر ، پاچاهان دی یا ګدایان ، که عاقلان دی یا جاهلان دا تول د دهقان او بزګر لاس ته ګوری او باید ددغه دزحمتونو ممنون واوسی !! که دهقان کار و نه کړی ددنیا هغه بډایان چه ځان په طلائی او یا هغه شاهان چه مملکتونه ئې په فرمان وی ، وزی به پاته شی ځکه چه دا ممکنه ده چه انسان کالی وانه غوندی او اوښ ژوندی اوسی او یا موټر کی سپور نشی ، پلی خپل ژوند تېر کړی مګر دا هیڅ ممکنه نه ده چه یو انسان په اوږه ژوندو کړی او یا څه و نه خوری او ژوندی پاته شی ، نو ځکه خوشحال خان کرهڼې ته ډېر اهمیت ورکوی او دهقان او کاریګر تر هر چا پوره ګڼی ، خوشحال خان لیدل چه پښتانه ډېر وسیع ځمکې اری ، خو دوی ئې ودانو او و ته توجه نه کوله ، دا خولا بلا په پسې دوی به ویا ، چه موږ وس نه لرو ، مګر د پښتنو دی بروابه له کبله ددوی ودانې ځمکې ورانېدلې ، ځکه چه هغه وخت پښتانه اکثراً په دهقانۍ شرمېدل ، او اوس هم لا ځینې سادګان شته ، چه د ځمکې آبادول و یا د خپلې ځمکې زارعت ته توجه کول د ځان پوراز کسرشان بولی او دا هغه جنابان دی چه په دې غریب ملك کې په زرو جریبو ځمکې لری ، خو د سلو جریبو حاصل نه ځینې اخلی ، دا ځکه چه ځمکه باندې ډېره ده علاوه پر دې چه ددوی خرڅ پوره کوی ددې ډېرې ځمکې روزل هم دد وی تر طاقت پور نه دی ، خصوصاً چه روزل ئې ځانته پوراز حقارت هم و ګڼی ، نو خوشحال دا سې لټو زمیندار انو ته وایی :

تخم شته هم ځمکه هم قلبه لري تیاره
هر اسباب دي جوړ دي ولې نه کړي کارد کر

بل ځای وایی :

بسیمه کړله هونبره فایده نه کا ... چه به وخت کړله وکړ بر آخلي
دکر او وخت آخر شو تخم لېږدي ... خوارهغه چه ئې له کره لاس ختلي

دخوشحال خان په نظریه کاملان احمقان دي، که دوی پاچاهان هم وی، ژربه له تخته پرېوزي، دین اودنیا دهغودي چه کار کوی، وایی :

کاملان دي چه احمقان دي ... دولت به بایلي که پاچاهان دي
دولت ددین دد نیا د چا دي ... چه هنیاران دي به کارچسپان دي

مګر کار کول هم خپلې لارې ارې، خوشحال خان د کار دپاره درې اساسي لارې ټاکلي دي چه حقیقتاً هم ډېرې مهمې او بنیادي لارې دي یوه داچه خوشحال خان وایي، بایدلومړی د کار په تا کلو کښې فکراو تأمل وشي:

درته چاوې چه پورې مه پر انز ده غوڅیه
تأمل د هر سړي ګره کشای دي

دوهم وایي چه په کار کښې باید ترانداز زیات تلوار ونشي، ځکه چه د کار دورانی سبب ګرزي :

چه ودانی چارې ورانې په سا عت کا
چه مې ولیده په چارو کښې تلوارو

خو دلته ژردي خبرې ته ملتفت کېږي چه ځینې پښتانه خو خدائی هم تنبلان وه داد « نه تلوار » خبره چه هم واوري، نو به بېخي تنبلان شي او دا خبره به دځان سند وګرزوي، نوژر بل ځای وایي :

چه دانسته دروې چه آهسته دروې ... فتح هغه لوی نصرت هغه لوی
چه کا هلي کا یا ډېر تلوار کا ... نامرد هغه لوی نا کس هغه لوی

یعنی نه په کار کښې دومره تلوار چه پوهان، کار روان شی او نه دومره کاهلی
چه بېخی کار پاتې شی ، هم کار باید وشی ، هم باید په سنجش وی .

دوهم دا خبره کوی ، چه مېړه هغه څوك دی چه کار آغاز کړی نو انجام ئې فرض وګڼي، بدبختانه اوس هم دا عادت شته چه هر نوی کار په ډېر جوش او خروش شروع کوو، خو څه موده وروسته ئې پرېږدو او پای ته ئې نه رسوو. بیا بل کار ته لاس اچوو . د پښتنو د کار د نه ترقی یو مهم او لوی علت هم دا عادت او فکر دی چه هر سړی هر کار بې فکره او بې سنجشه شروع کوی خو چه د کار د مشکلاتو سره مخامخ شی د مقاومت طاقت ئې نه لری ، نو بې نیمه لاره ئې نیمګړی پرېږدی. خوشحال خان غږ کوی چه دا بد عادت د پښتنو له مغزه ورك کړی ، او وایی :

مردان هغه دی چه همت ناك وی — د ننګ په کار کښې چست و چالاك وی
کار چه آغاز کا انجام ئې فرض ګڼي — په زړه هم پاك وی په خوله هم پاك وی

حتی خوشحال خان د مطلوب په لاره کښې وینی تویول هم جائز ګڼي به هر قیمت چه وی باید مطلوب ته ځان ورسول شی ، او وایی :

تر مطلوبه پوری شرط د رسېدو دی
که تمامه لار په وینو شی آلوده

بهایی او زر پیدا کول :

لکه څنګه چه په ژوند کې د لېچو زور او د علم زور په کار دی همداشان یو بل زور هم شته چه ډېر ملتونه ئې تر خپلې سلطې لاندې راوستلی دی او هم ئې راولي . بلکه په نننی دنیا کې څوك چه دا زور نه لری هغه ته ژوندی نه وایی او هغه د ثروت او پیسو زور دی. په ننني عصر کې د هر مملکت ، هرې جامعې یا هر فرد سره چه دا زور شته هغه په خپلو هم عصرو لوړ او هر څوك ورته احتیاج دی ، ننورځ امریکا څه نور سحر ، جادو نه لری

همدا دي چه پېښو زور دی چه دغه ګڼکی نيمه کوره ئی کړو کړې ده او لاغو ادی او ره دنیاهم د ډالرو په زور دغیانې کړی . نن په پېښو څه کارو نه دی چه نه کېږی ؟! څه انسانان او لوی شخصیتونه دی چه د پېښو د پاره لوېې نه کوی ؟! او څه دملتو او ناحقې دعوې نه دی چه په پېښو د سره نه کېږی ؟؟ په نننی جهان کښې په پېښو هر څه کېږی که په بده لار صرف شی بدې چارې پرمخ ځی که په ښه لاره ولګېږی ښې نتيجې ښندی . پښتانه چه د اقوت نه لری نو هرچاپانه دی او خوشحال خان هغه وخت لا د پښتنو دې نقص ته ملتفت و او وئیل به ئې :

یاد لیچو زور په کار دی یاد زرو

خوارهغه شه چه په دواړو وی کمزوری

په پښتنو کښې ځینې خلق وو چه د پېښو له پرولو به ئی بدراتله او دا تنقید له دې کبله و چه د پښتنو ځینې بدایان دخپلو پېښو په چل نه پوهېدل او د پېښو څخه به ئی نه د قوم د پاره او نه د ځان د پاره کومه فائده اخیستله او پېسې به ئی تر مځکی لاندی ښخو لې ځکه نو خوشحال خان دزرو اهمیت داسې بیانوی :

خپل پردی رانه په خوله وایی زر زر   و عالم ته تر هر څه دی بهتر زر
اوس په دادور ماولیدل خوازه دی   تر پدر تر برادر تر پسر زر
نور و چارو ته څه ګورې دا ګوره   چه صاحب د مسلمان کا کافر زر
فیروزه الماس یاقوت لعل له کانه   له دریا به نه وکاږی ګوهر زر
مځکه څه چه د آسمان ښایست په زر دی   ستوری زر دی آفتاب زر دی قمر زر

زور قوت حرمت هورې دروهی چه زر وی

د پادشاه په سر ښوله ګښېږ دی افسر زر

ښه ځوانان ئې لید ل نه موهی له ورایه

دنیا مړه په غېږ کې ور کا دلبر زر

دګېدو نوم په خوله څه اره اخلې

د مزری له تنه هم پرې کاسه زر

هر مراد چه د سړی وی په دنیا کې

د طلب په وخت ئې ورکا د ز بر زر

نه به دی په لږو زرو نظر وکا

نه به پرېوزی و خوشحال ته غرغر زر

بل ځای د زرو او تولو داسې ضروری ګڼی :

زر په بده ورځ په کار شی — هو ښیار ځکه ساتی زر

د زردار بلا په زرو — د نادار بلا په سر

چه سپر وی ګذار په سپر شی — چه سپر نه وی لاس شی سپر

بل ځای زر داسې ستائي :

زر دی چه هر چا ته اعجاز معلوم کا

معدوم موجود کا، موجود معدوم کا

وینځه مېرمن کا، خادم مخدوم کا

زر په سندان کښېږدی سندان هم موم کا

خوشحال خان خو د زرو صفت کوی . مګر زر دار او دولت مند ته په ښه سترګه نه ګوری ځکه چه خوشحال خان په زرو یا نمول او بډائی کښې نقص نه وینی، له زرو نه چه څه نقصان پېښېږی هغه تول د زردار او بډای نقصان بولی. «دولت پیدا کول» او «دولت ترسرول» د خوشحال خان په نزد دوې جلالارې دی ښایی دولت به هر څوک وموهی، مګر د دولت ترسرول او په سمه لار، روانول د هر چا کار نه دی، نو ځکه وائی :

یو دولت نه رسېدل دی — بل دولت ترسرول دی

دنیادان سره ګډوډ شی — دواړه توکه دعاقل دی

بسخت خو آسان وسپړی ور کا ګران د آس تیځل ساتل دی

دخوشحال په عقیده هرمشکل او سخت کار په زړو آسانه کېږي ، دادزړو هغه خاصیت دی چه انسانان ورته قائل شوی دی ، مګر زړه دار باید پر زړو ایمان رانه وړی او په مینه ئې کار فرنشی ندی وایی :

که هر څو مشکل کارونه درته پېښ شی

فکر مه کړه چه آسان نه به زړ نشی

ما چه ولیده خو زړ دی به د نیا کښې

خو سړی دی ئې به مینه کا فرنشی

هغه زړه اراو بهای چه فقط پیسې تولول ئې غرض وی او پوازی به پیسوئی ایمان راوړی وی ، نه ئې به ځان خوری ، نه ئې ال چا نه ور کوی او نه ئې دملت ، قوم ، کورنیو او همسایه د فائدې دپاره صرفوی ، خوشحال خان ددې زړدار دسردښمن دی او داسې ورته وایی :

د د نیا د سو د د پاره ګوڼ او ګوره

څه خو شرم مروتونه و ګوره

په درست عمر هغه ځای ور پسې غواړې

چه دې پر پوزی له پلو د چېر ته تو ره

په زړه کی باندې دې توره سوی داغ شی

چه دې توره یا پیسه روزی له کوره

دلوی غره کندې په تا باندې پر پوزی

چه د ګوره دې ډوډی روزی نان کوره

ددنیا مینه په تا باندې دریاب شوه

ته په دا دریاب کې ډوب لاړې هرګوره

بلکه خوشحال خان داسې دولتمند او زړدار غواړی چه خپل ځان ، خپلې کورنۍ ، خپل همسایه ، خپل کلی ، خپل قوم او خپل وطن ته ئې خیر ورسېږي ، او دخپلې

سر مايې او ثروت څخه په دې لاره کښې کار اخلي . لکه وايي چه :

د دولت مند سړي مخه بـالې بو يـه

چه لـه سپينه د لې چندان چا زا لـه يې

دولت مې دې په هنر په علم مت لـا

که هر څو بيا يسما مخ دې بيا يساله ښي

څو لګ دنياوته مر يو لـه دی خو شحالـه

شا ه زلميه تـه د لـم پسو چشالـه شي

نه داسې متمول او بيداي چه دئې په ځپله خوري اونه لې و بل نه ور کوي

خو شحال خان وايي :

چه څو لګ دنيالري په ځان لې نه خو ري

د ګورغه (۱) نوري ماوري تړلو خوري

چه مال لې يا نه شي و بل خو يخپ ته

چه نې لـه خپله يار اسو بيه ختو دي

بـل ځـاى وا يـي :

په مخه خو د وپښي مښې چه لي نه خوري

سړي هسې په ايد و ر نه سو هيري

خو شحال خان داسې ثروت اوزر دسړي دځان بلا او دزوند بم بولي

ځکه چه تولول ئي بوغم اونه خوړل ئي بل غم ، او ساتل ئي دريم غم دی ، نو ځکه يې

داسې بيدائي چاته نه غواړی ، وايي :

چه زرد ي غم شي هسې زردا رمه شي

چه زر دي هيڅ لری مخه پيشکار مه شي

په دا لاس راشه ، په دا لاس د رو مه

د ليږ د ډېر په حساب په شمار مه شي

---

(۱) غه مخفف د مخه يا د غه دی .

بلکه د خوشحال خان په نظر کې هغه خواړه چه څوك د مېلمه سره نه خوري
او همېشه د بېځو سره نا ست وي هم بد ګڼي ، وايي :

هغه ډوډۍ طباخ په سپي خوړه لې ښه دی
چه تر څنګه ئې د مور رتو پرسو پړو خوري

يوازې ثروت پيدا کول يا زر غونډول کمال نه دی د ثروت او زرو صرفول ځان ته هنر ګڼري همدا شان د مال خوړل او سا تل و ځان ته هنر و نه شمېره چه هر زردار او ثروت مند پرې خبر نه دی ، دا د خوشحال فکر دی چه وايي :

لکه ګټنه د مال هنر ګڼري   هسې خوړ نه د مال هنر ګڼري
لکه يا ز نه د مال هنر ګڼري   هسې سا تنه د مال هنر ګڼري

خوشحال خان د انسان او حيوان فرق په دې کې بولي چه انسان خپله سرمايه او ثروت د انسانی منافعو د پاره صرفولای شی او حيوان په دې نه پوهېږي او څکه وايي .

که په خره بانديې د زرو صندوق بار کړې   خر به هېڅ په دا پوه نشي خر څو خوري

د دنيا مال يوازې د دې وسيله ده چه انسان د نيکو نوم پرې وګټي او يا چا ته خير په ور سوی او يا د وطن او قوم د خدمت په لاره کې ئې صرف کړي او له دې لارې د نېك نامه خاوند شي ، خوشحال څه ښه وايي :

د دنيا په مال د نيکو نوم حاصل کړه
نل جهان و چا ته نه پرېږدي ما اوره

خوشحال خان داسې مال غواړي چه ځای ئې تر زړه پورته وي ، داسې مال نه غواړي چه ځای ئې تر زړه کښته وي ، وايي :

هسې مال رامه کړه چه ئې ځای وي تر زړه کښته
هسې اموال را کړه چه ئې ځای د زړه د پاسه

خوشحال خان دنيا د دې د پاره غواړي چه بل محتاج ته ئې خير ورسېږي ،

دا دی دپاره ئې نه غواړي چه د مېږي يا موږك په شان ئې خپل سر ته بوسی ، دی وائي ،

چه و هل خوړل خوړول کار ئې هغه باز دی يا شاهين دی
چه ئې سود دي لړه وړه پنه يا مېږی دی يا فاره

دخوشحال خان لاس ته رسيږي که نه ده به نو له دنيا با زلی وای :

څه کرم لاس و دست مې نشته قلندر يم
کنه ما به دنيا وبازله کړله

مګر سره ددې چه لاس ئې تش دی سترګې ئې مړې دی چه وائي :

که مې لاس له که درياب له در و تش دی
ولې سترګې مې درياب غوندې دی سپړی

په دې نکته کښې د خوشحال غرض دخان صفت نه دی ، بلکه غواړي پښتنو ته داوړه همت درس ور کړي او دوی دطمع او حرص دبدو خصلتو نو څخه راوګرزوي ، نه به ا زي هغه څوك چه محتاج وی له دې بدو خويونو څخه منع کړي ، بلکه هغه څوك چه پيسې او ثروتونه لري تر غريب دير دی نصيحت ته اړ دي ، او بدبختانه دغو انسانانو چه هر څو مره پيسې او ثروت ډېرېږي په هم هغه اندازه ئې طمع او حرص هم ور سره زيا تيږي ، نو ځکه خوشحال وائي :

سو دهم هغه کنه چه زده ئې موړ وی — سترګې مړې اري که زوړ که ډوی
له ډېر دولت لري چه طمع خواست کا — د ګدائي نو کار ته جوړ دوی

نو ځکه خوشحال دغسې بډائي چه له ګدائي سره برابره وی نه غواړي او پښتنو ته خپل ځان نمونه ګوی وائي :

زړونما تر لاسه نه راځي وير يږي — که هر څومې دلاسه ورسره کيږي
زما لاس ور ته تر اوره هم بتر شو — لا پداور کښې ئې بوډ نګساعت ئير يږي
زه او زر سره له ځایه غلمان یو — په جهان کښې غلمان سره دغيږي ؟

چه غلیم دمړ نه شي په نظر کښېوزي — نور ئې زړه دده دومره کلک وتدبیر کېږي
پاچاه زلمي به خیال غلیم کا تر ځان ورانده — وانه مرد وته به سل حیلې د ربېږي
کاڼي زر له سره کوري یو رنګ دي — فرق ئې دادي چه په زر وزړه رغېږي
هغه زر تر کاڼي لوټې لا بتر دي — چه ئې ومندي په ځمکه نه خوځېږي
چه او به ځاي په حصار شي نوري خساشي — صفا ئې ئې هم په داده چه بهېږي

دلته باید دا اشتباه ونشي چه خوشحال خان د اسراف یا بې ځایه خرڅ طرفدار دي، دده مهم غرض دا دي چه هغه ایان چه پیسې تر اول ئې خپله غا یه ګرځولې ده او پیسې شیشې ویاڅو او دپاره غواړي چه په خیال ژوند کې له هغو پیسو څخه هیڅ راز ګټه نه اخلي او نه بل چاته څه ګټه رسوي، په دې خبره و پوهږي چه پیسې شیشې لو او باهم داسې بې ګټې پرېښودلو دپاره نه دي، انسان باید پیسې وچلول شي چه ګټه وکړي او ګټه ئې بیا باید خاص د ځان دپاره صرف نشي د خپلو هغو ځانو او هموطنانو دپاره هم په کار واچول شي:

خوشحال په دې ځاي کښې غواړي چه د یوه اقتصادي معلم په حیث پښتنو مالدارانو ته دا خبره وښیي چه دوي پیسې بنځي نکړي او بې چلولو ئې پرېږدي، نو ځکه ئې په تېرو اشعارو کښې وویل:

هغه زر تر کاڼي لوټې لا بتر دي — چه ئې ومندي په ځمکه نه خوځېږي
چه او به په ځاي حصار شي نوري خساشي
صفا ئې ئې هم په داده چه بهېږي

بیا داچه وائي زه د زرو شیشو یم مقصد دا دي چه زر باید دومره وزړه ته نه ورشي چه په میشه ئې سړي کافر شي او یا ئې ځاي تر زړه کښته وي، بلکه زر باید شیشه ژوند دپاره د ومرسیله وي، داسې نه چه ژوند د پیسو تولو لو دپاره وسیله شي، ګه نو ځه خوشحال خان زرو سرداري او هغو توب دپاره د وسیلو شي دپاره، بیا په دې اساس دا نه وائي:

چه زر لري په کور کښې — ښځه ئې له ښې سرداري
دوستي ئې بده چار ده — بده له ده زر داري

بل ځای وائي :

اوس په سپينه زيږه زرغواړه خوشحاله — که په زړه لرې دعوې د سروري

دا چه دی وائي زه زر په خپل لاس کښې نه پرېږدم همئې غرض دا نه دی، چه بې لاري او بې ځايه باید ثروت یا پیسې صرف شي، بلکه خوشحال خان خپل دولت د نورو د آرامۍ دپاره غواړي او دا د هر حساس او بیدار دولتمن وجداني وظيفه ده، دی وائي :

لا به کله مغه ګنج ور کړي بخته !
چه خوشحال به ئې په پلو په سپرو خوري

دا ځکه ماوو بل چه خوشحال خان د اسراف او بې ځايه خرڅ طرفدار نه دی ځکه چه بې ځايه مصرفونه اکثراً یاد فیشن دپاره وي او یا د بې ځايه عیش و عشرت دپاره، مګر خوشحال له دې دواړو مخالف دی وائي :

د مې دانو د خپل شرم کار و بار دی
نورئې هر څه له خاطره فرا موش دی

د زنانو په حساب دي هر څان [illegible]
چه له زیبه له زینته هسم آغوش دی

ښرې ور پښتون به سل په یو کښې یوسي
کشمیري چه بغر ګشالونه ئې په دوش دی

خوشحال خان د پیسو سره هنر او پوهه غواړي او د پیسو لګن هم باید د پوهې له لارې وي، که دا نه وي نو نه د چا مال ته ګوري او نه د چا ذات او حسن ته، دی وائي :

چه شرم ننګ ئې نه وي نه هنر لري نه پوهه
په مال ئې نظر مه کړه مه په حسن مه په ذات

مگر البته خوشحال خان زړه دولت او بهائي دنيك نامه د پاره غواړی او
ددي د پاره ئې په کار دی چه خلقو ته ګټه ورسوی ئه ددې د پاره چه ګورته
ئې يوسي، او رښتيا هم زړه څه نوره مننانلري، با ئه دخان، نائه دوطن، د ناته
دهمنو عالو د پاره تر څېزی، دی، وائي :

که په کور راشی زړ ګونه — هسي در دمي لور پـه لـور
خپل روني ئـه اوس نـور نـکړي — که مي نور کـړ هيڅ مي نور
که د مـــا تـر لا سه راشي — خـــزا نې ددر ست لا هــور
خدای په تار به ئې خپري کړم — خـان پـه ئـه کړم د پغور
زر د نـوم د پـاره ښه دی — هيڅ په کار نه دی په گور

حتی خوشحال خان دسخاو ښندنې په لاره کې ددې سره ونه سپمي چه تر مړ کـ
وروسته خان ته دومره کالي نه غواړی چه مړ دمشوی ته پاتي شي، وائي :
چه کالي ئې پاتي نشي مړ دمشوی ته — خدايه ور کړی و خوشحال هسي ر ملت
بل ځای خپل مړ ګـ داسې له خدا ئه غواړی :

مړ ګـ دمیدان را په بستر مې مه وژنه — مومن مې وژنه کافر مې مه وژنه
چه په ميراث مې کتاب حساب شي — هسي غو والي توانګر مې مه وژنه

خو سره له دې ټولو بيا هم خوشحال خان د زرو او ثروت له اهميت څخه
منکر نه دی او د ژوند د پاره ئې د ډېر مهم څيز ګڼي، لکه چه وائي :

هيڅ کار نشي بې له زرو — چه پـری د يـو هيڅ د زه
کرم څه نه دی د او کړی — که پری ورکا سي لپ مه
چه سپين وسره پري ور کا — هغه کـل کـا سپينه خوله
هم زر دي کـه ئـې ګوري — چـه په غره بيا بـي او ښه
که هر څو له تـا زده بد وی — بيا په زرو و غيړی ز د ه
خدای رسول سره خپلېږی — په زر نـو ري چار ي څه

په دې ترتیب سره خوشحال خان د کار اوزار وخت او لګښت پای ته رسوي

نتیجه :

له دې برخې څخه موږ دا نتیجې احیستلای شو :

۱: - پښتانه باید کار وکړي څو پیسې پیدا کړي او به ایمان شي .

۲:- چه پیسې ئې پیدا کړې هغه به تر مځکې نه لاندې کوي او نه به ئې ځای پر ځای دروي ، چلوي به ئې څو ګټه وکړي .

۳:- ګټه به ئې هم په خپله خوري ، هم به ئې قوم ته ور کوي او هم به ئې د وطن د ودانو او د پار مصرفوي .

٤:- پیسو او بډائی ته به په بده سترګه نه ګوري ، مګر البته پیسې به وسیله وي نه غایه ، پیسې او بډائي به د ژوند د پاره غواړي ، نه ژوند د پیسو غونډولو د پاره .

٥:- پیسې او بډائی بې له رحمت استقلال او بې له کار کولو څخه په لاس نه پیدا کېږي که پیدا شي ، بقا نه لري ، خو د کار په باب کې پښتنو ته وایي :

که غواړې پیسې وڅې په لاس به درشي
چاوې داچه په دریاب کې ګوهر نشته

(۸)

د ښځو حق وپېژنئ!

ښځې چې نه مې وليدې په سترګو
خولک چه تورکي دخطا ستايي خطادي

خوشحال‌خان خو دخطا تر تورګو هم ښځې نجونې لوړې ستايي، مګر ايا نور پښتانه هم په دې عقيده دي ؟؟

ښايي چه ځوانې ښځې نه به وي، مګر اوسني پښتنو ته چه ګورو نه پوازې په دې عقيده نه دي، بلکه ښځو نجونو او مېرمنو ته په ډېره بده سترګه او دحقارت په نظر ګوري، ښځانه ورته داسې قارېږي ګه دوی خپلو هغو اعمالو او چارو ته نظر وکړي، چه دوی ددې بې وزلې طبقې په حق کښې مرتکب کېږي، نو هغه وخت به په خپله تصديق وکړي چه ددنيا په انسانانو کې پوازې پښتون قوم دی چه په اوسني عصر کې ددې طبقې مشروع حق پايمالوي او هغه حق چه قدرت، انسانيت، اسلاميت دوی ته قايل شوی دی په خورا سنګدلۍ له دوی څخه ګرزوي.

پښتنو! راشئ سر ګريوان ته کړئ، وګورو چه موږ دخپلو ښځو سره څه وضعيت کوو؟

نجونې په زېږيدو خوابدي کېږو، چه نجونې لږ څه لويه شوه (سره دې چه دخداي رسول راته فرمايلي چه « العلم فريضة على كل مسلم ومسلمة » او علم ئې په هر نر او ښځې فرض بللی) بيائې هم موږ ديوه مو او علم له لارې راګرزوو، دا را ته ډېره ښکاري چه زموږ نجونې دګاوالو له ښځې څخه لوست ولولي، او ډېر غيرتي ئې بولو، مګر په دې هيڅ غيرت نه راځي چه په نجونو غوا ساپو او څرګه پې څر وو ؟!

هغه کار چه خدای فرض کړی دی نه کوو، او هغه چه خدای نه دی فرض کړی کوو ؟! نجونې موږ علمه نا پوهې ادرږوند له کارو او اصولو بې خبره لوئې شي، علم لا څه چه د خپلو کالو ګنډل او پاك ساتل ئې هم زده نه وی؟ چه پېغلې شي او د مړوښې وخت ئې راشي، نو ئې د حیوانا تو په څېر خرڅوو، خدای (ج) وایی چه په مړوښې او ازدواج کښې د نر او ښځې رضا شرط ده مګر اکثره پښتانه بې له دې چه د پېغلې څخه پوښتنه هم وکړی او یا د هغې خواری راتلونکی ژوند ته فکر وکړی پر خپل سر ئې دعوا یا خرې پهشان خرڅوی؟! کا شکې په دې بې رضائی کښې هم د خپلې خور، لور د راتلونکی ژوند خیال ورسره وی ؟! د هغې خیال چېر ته دی، خو پوازې د خپلې ګېډې او جیب غم ورسره وی چه د خوېندو او لونو په غوښو ځانو نه ماړه کړی. دا فکر د دوی سترګې داسې ړندې کړی چه نور ئې نو نه اسلامیت په یاد وی او نه د انسانیت څه اندېښنه ورسره وی، چه پیسې ئې کور ته راشي، نو د څوراس کلو نجلۍ له کوره باسی او د شپېتو کلو بوډا په کور ئې ننه باسي دا ځای دی چه خوشحال خان د پښتنو دا ظلم او د هغو بوډا ګانو دا قباحت او ناپوهی چه ځوانې ښځې کوی په ډېر بد نظر ګوری او دا چه ځنې نا پوه سپین زیری خیال کوی ځوانې نجونی به د پیسو او ثروت په زور د ځان کړی غلطه ثابتوی، هو! زاړه بوډا ګان د زر و په زور نجنې اخیستلی شي مګر د ځان کولای ئې نشي، د خوشحال خان په عقیده که زوړ سړی پاچا هم وی خو د ځوانې پېغلې نه ورسره لګی، دی څه ښه وایی :

چه په سپینه زیره کا ځوانی نګاری

په خپل ځان باندې بهر کا ځنې چاری

که په خوله د زاړه یار ترسر جارېږی

په زړه نه وی ځوانې هیڅ د زاړه یاری

نېك وبد به داجهان کښې پیدا کېږی
نېك و بدې دزاړه نه دی وېزاری

خوږه ځوان دځوانی ښځې به غرض وی
که پادشاه وی دزاړه نه دی ازاری

اوس به خپلو زړو خونې اوسه خوشحاله
دا ددور ځوانی مکړه نا به ښکاری

هغه بوډا ګان او سپین ږیری چه دپېغلو او ځوانو ښځو دغولولو دپاره ږیری په رنګ توروی او یائې رنګوی دخوشحال په نظر په اوی احمقان دی، تر دې کار دی ږیری خریل او ګلول ښه ګڼی لکه چه وایی :

د خضاب ځوانی دچاده داحمق ده
تر دا ګله ږیره ښه په ښه نائی ده

لنډه داچه خوشحال خان ددی خبرې سخت مخالف دی چه سپین ږیری سړی ځوانی وکړی، دی وایی :

هرڅوك چه چن کار په سپینه ږیره — سر سپین و ښځه ئی تیره تر تیره
د هغې جنې دی تېر زړه وتلی — درته مې ووې واوره په ځیره

بل ځای وایی :

سړی چه ځوان وی د نجونو خان دی
زړه ئې په خندګ کښې لکه سوهان وی
زاړه له ښه ګانجونې دې نه ګا — چندې هله کا که دې سلطان وی

خوشحال خان چه داوصیتونه کوی په دې وخت کې دی په خپله هم سپین ږیری دی او خپل ځان هم له دې قبیح کار څخه داسې منع کوی :

اوس د نجونو هوس مه کوه خوشحاله !
پېښتنې نجونه تر هېږی له د وه مو به

خوشحال خان چه زوړ شوی دی، د ځوانۍ هوسونه د ځان سره وړ نه ګڼي او دا نه یوازې ځانته وايي، بلکه د هر سپین ږیري د پاره د عبرت درس دی چه وايي:

که ښې ښې نجونه که لباسونه دي — که ښه بازونه که ښه آسونه دي
خوشحاله زوړ شوې اوس دا هوس مکړه
د ښو ځوانانو دا هوسونه دي

مګر دا خو هاله کېږي چه څوک د خوشحال خان خبرو ته غوږ کېږدي حال دا چه ځني ساده ګان پښتانه دا وړ او خوړ حرڅ ولوپه کار کې د خدای او د رسول قول ته غوږ نه ږدي خوشحال خان او زه لا څوك یو ؟ خو بیا هم ویل د خوشحال وظیفه ده او اوربدل د پښتنو، نو هر څوك به خپله وظیفه ادا کوي.

د ښځو په سریو ازې دا غم نه دی، بیا چه د مېړه کورنه ورسی لا سل غمونه نور نوی شي، دوه کاله پس دوې ښځې پیدا کړي، ځکه چه دا خود پښتنو خصوصاً د بډا یانو پښتنو یو جنوني هوس دی چه ضرور به څلور ښځې پوره کوي دا هغه ځای دی چه د پښتنو خانان او بډایان د قرآن په نیم آیت عمل کوي او نیم ئې د سره اوري نه وايي چه خدای څلور ښځې را ته روا کړي، مګر دا نه وايي چه د ښځو ترمنځ عدالت هم فرض شوی دی که پښتانه خانان او بډایان وايي چه مونږ عدالت کوو، دا نو یوه داسې خبره ده چه هېڅوك ئې باور کولای نشي. ایا دنن د نساوي او دوه کاله د مخې ښځې ته یو شان پوشاك ور کوي ؟ ایا په برابر نوبت د زړو او ښځو کور ته ورځي ؟ ایا زړه ښځه شړلې غوندې نه ګڼي ؟ ایا د پر بډایان داسې نه وي چه نوې ښځه راولي زړه له کوره باسي ؟ ایا دیوې ښځې د وړې دبلې تر لاس نه وي ؟ ایا یوه سیاه بخته بله سعید بخته نه بولي ؟

دالا خره چه په ښځې داسې قیدونه ږدي چه نه یوازې په اسلام کې

روانه دي بلکه ګڼو هم په بده سترګه ورته ګوري، ډېر معتبر پښتانه خپله ښځه د ښځې د پلار کره هم نه پرېږدي او ددوی خیال داوی چه ښځه له کوره ووتله ضرور فاحشه کېږي حال داچه د ښځې ښه والی او بد والی د کور په وتو پورې څه اړه نه لري، ډېرې ښځې دي چه په کورو کښې بدې وي او ډېرې پښتنې کوچیانې دي چه پر دښتو پاکلمنې دي، خوشحال خان د پاکدامنې ښځې په باب کښې څنګه ښه ویلي دي:

که ګلونه په بازار شي په کو څه کوڅه جاروزي
د پاکو پاکدامنو ستر جوړ دي ربـانـي
چه پاکه پاکدامنه په حیا په دین مینه
د مرد په کور کې کښېني مرد دي کاندي کامراني

بالعکس د بدې ښځې په باب کښې وايي چه که په دیوالونو کښې هم حصار کړه شي بیا به لا هم خپله بدي ښکاره کوي، وائي:

سپی چه سپی شي سپي خپل ځان اره پیدا کا
څه سود که بده ښځه په دیوال کړې زندانی

ښه او بد هم په نارینه او هم په ښځو کې شته نو لکه چه له بوې مخې تولې ښځې پاتول تر بد ګڼل غلط دي همدا راز تول ترښه ګڼل او تولې ښځې بدې شمېرل ظلم او له انسانیته لرې خبره ده، پخواني پښتانه داسې نه ؤ، هغو ښځو ته په خورا درنه سترګه کتل، د خوندو او لونو غوښې یعنې وا او روانه ئې نه خوړل ظلمونه ئې نه باندې کول، حتی د ښځو «پلو» په پخوانیو پښتنو کښې ډېر قدرمن ؤ، چه دوو قبیلو به جنګ وؤ کوم وخت چه به د ښځې پلو منځ ته راغی جنګ ختمېده حتی بد کارو غلو لا هم د ښځې احترام ساته، په هغه قافله کښې چه به ښځه وه په هغې تولې قافلې ئې غرض نه کاوه نېرو پښتنو ښځه د کور څراغ بلله او د کور بدبختي او نېکبختي ئې ددې په پلو پورې تړلې ګڼله،

څکه بهٔئې متل کاوه چه «یانیك پلو یانیك چلو!» دوی بهٔ به ښښتنې صفاتو متصفه ښښتنه مېرمن غوښتله، چه خوشحال خان دا صفتونه داسې بیانوي:

ښځه بویه هسو سنا که، خندهٔ رو یه مهر جنه
یا کېږه به زیست روز گار کښې یه ښه بوی باندې میده

د صحبت پهٔ رموز پوهه، زدهٔ ئې خلاص له مکره دروغه
کم خورا که، خوش پوشا که، همیشه ناسته دننه

له نیکانو همنشینه، له بدانو پسه زده خسو ډیـنه
له مور والی ئې توبه کا، که ئې موروی درو غبجنه

دمیلمه پسه کار حاضره، پسه پخوالسی بسها دره
حق د چارې پهٔ ځای راوړی، په رنځور باندې پوښتنه

یا کېږه ئې د کور صحن، ته په غولی کښې نور ایجن
پرستاري تري خوشنو دي ښه دمر چاپسه ستا ننه

که داهسې څوك پیداشي، دخوشحال پسه لاسو راشي
هیڅ تقصیر به ئې ونه کا دیا رئ ئې پسه پسالنه

خوشحال خان خودداسې ښښتنو مېرمنو باری پالـله، مگر اوسنی ځنې ښښتانه یاری لاځه چه کهٔ څه هم داسې صحیح مېرمنې ئې پهٔ کور کښې وي دسره پهٔ وزین تندی لاور ته گوری هم نه:

خودا ښښتانه باید وپښ شي، دنیاته وگوری، پهٔ اوسنۍ دنیا کښې ښځې د نرو ملگرې وی او په ډېرو کارو کې د نرو سره اوږه په اوږه ولاړې وي کار کوی دا انسانانو اجتماعي ژوندنرو او ښځو دواړوته اړدی ښځه اونرلکه نور او حرارت لازم او ملزوم دی هیڅ سره جلا کېدلای نشی که ښځې د نرو سره ملگری ونه کړی نو په هیڅ کار کی کامیاب پیدلای نشی همدا سبب دی چه خدای تعالی جل شانه په قرآن کریم کې فرمایلی دی:

« هن لباس لکم وانتم لباس لهن » (ښځې ستاسې لباس دی او تاسې د ښځو لباس یئ) له دې آیته څخه د ښځې او نر دو یو بل ته ضرورت ډېر ښه واضح څرګندېږي. امید شته چه پښتانه به هم دې طبقې ته د قدر په سترګه وګوري، د دوی ترقۍ ته به توجه وکړي، علمي سویه به ئې اوچته کړي او په ژوند کښې به ئې د خان ملګرې وګڼي، داور، خور، دخر څولو او په جبر ور کولو څخه به لاس واخلي، او په آخر کې به د ښځو هغه مشروع حق ورکړي چه اسلامیت انسانیت او مدنیت ورته قائل شوی دی او نوره به نو دا طبقه همداسې مظلومه او بې وزلې نه پرېږدي، که نه دې هغه خدای به چه ښځو ته ئې حق ور کړی د حشر په ورځ له پښتنو څخه ددوی په وجه سخت باز خواست وکړي.

نو اې پښتنو! د خوشحال خان خبره ومنئ چه وائي:

« د ښځو حق وپېژنئ! »

خوشحال وايي :

(۹)

خپله ژبه مه هېروئ!

که تازي ژبه هر گوره ښه ده　　پارسي هم ډېره په خوند خوږه ده

چاته پلو د جمال وانه خيست　　پښتو لا هسې بکره پرته ده

يو څوک چه خان پښتون گڼي او ياد پښتونولۍ دعوه کوي، خو د پښتو سره علاقه نه لري دا ډېر د شرم او د پېغور ځاي دی او که ئې پښتو زده نه وي. دا خو د مرگ او پېټ خبره ده. ځکه چه په دنيا کې هر قوم په خپله ژبه پېژاندل کېږي، د يوه انگرېز که انگرېزي ژبه نه وي زده هغه ته به څوک انگرېز وواېي؟ همداشان که کوم پښتون پښتو زده نه وي نو څوک به ورته پښتون وواېي؟ بلکه پښتونوالی خو د انسانيت ډېر مزايا او ښېگڼې چه د يوه کامل انسان دپاره دي، د "پښتو" تر عنوان لاندې راولي، او کوم پښتون ته چه دا ويل شي "ته پښتو نه لرې" يا "بې پښتو سړی يې!" گويا له ده څخه د انسانيت ټول اوصاف او مزايا و اخستل شول، دا د پښتونوالی قانون دی، نو د کوم چه پښتو زده نه وي، اوره دنيا ورته پښتون ويلای شي،

ځکه نو خوشحال خان پښتون قوم دپاره دا خبره ډېره ضروري بللې ده چه خپله ژبه به ئې هم زده وي او هم به ئې روزي، دی وايي چه د پښتون خپله پښتو نه وي زده نو هغه نا پوه دی چه د بل ژبه زده کوي: ده ځيني پښتانه ليدل چه مغلو تر اثر لاندې راغلي او غوښته ئې چه ترکي کلمې زده کړي دي هغوی داسې تنبيه کوي، ورته وايي :

چه په خپله افغاني ژبه نادان دي　　په ترکي خبرې څه وايي افغان ته

دهغه وخت ځینو پښتنو بیا دعربي ژبې سره دومره مینه او علاقه څرګنده وله چه پښتوئې هم هېره کړې وه حتی سمې خبرې ئې نه غوښتلې چه په پښتوئې وکړي، خصوصاً خطیبانو صاحبانو او مذهبي مبلغانو چه داد ستور تر اوسه هم په ډا کثرو ځایو او جامع ګانو کې جاري دی، البته عربي زمونږ دینې ژبه ده، مګر د یوه مبلغ یا یو خطیب غایه او مقصد خو د خلقو پوهول او عامو خلقو ته لار ښودل دي، او عوام خلق خو په عربي نه پوهیږي کلمات اروي، مګر په مفهوم ئې خبر نه دي چه خطیب صاحب څه فرمایي؟ خوشحال خان هم دې خبرې ته اشاره کړې دی، او وایي:

نه چه ما ته عربي خبرې وایې د عربو ژبه څه زده م عجمي؟

ځینو پښتنو بیا د پارسي ژبه دځان کړې ده، چه حتی په سلطنتي دربارو کې ئې هم لوړ مقام او د خوادي پښتو ځای نیولی ؤ او د پارسي ژبې په خدمت دومره لګیاوه چه پښتو ځیني بیخي یاته شوې وه، خوشحال خان په عین حال کې چه د پارسي یا عربي مخالفت نه کوي او د واړه ژبې ډیرې ښې ستائي، د پښتنو د کم التفاتي څخه چه خپلې ژبې ته ئې لري شکایت کوي، وایي:

که تازي ژبه هر ګوره ښه ده پارسي هم ډېره په خوند خوږه ده

چاچې ولود جمال وا نه خیست پښتو لا هسې پښکره پرته ده

دا ځکه چه خوشحال خان پوهېده، چه نوري ژبې ځا ته خدمتګاران لري نو لازمه ده چه پښتون لومړی دخپلې ژبې خدمت وکړي او ژوندۍ ئې کړي بایه اوس نو پښتو ته موقع ور کړه شي چه دا هم د دنیا د نورو ژوندیو ژبو مرتبې او مقام ته ورسول شي، خوشحال خان هم دا نکته درک کړې ده چه وایي:

پارسي شعر مې هم زده سلیقه لرم ددوا پرو
پښتو شعر مې خوږ شو هر څوک خوله ګنې ښاغلي

[illegible]

پښتو ژبه مشکله دد بحر مو نده نشي
هم ما لره بو خو بحره په ډېر مېړود راغلی

دانا به پري بو هېږي دنا بو هو کار پري نشته
دادر چه دبیان به تار خوشحال ختک پېیلی

کذاب دی که داشعر لکه ده پښتو بیان کړ
که هسي ویل اوس شی یا پخوا دی چا ویلی

بل ځای په خپلو پښتو اشعارو داسي فخر کوي :

په پاسی ژبه که نور نرما بهتر دی
د پښتو ژبه مي مه غواړه مثال

یا دا چه :

د پښتو ژبې ئې ډېره خوبي ور کړه
چه خوشحال کا په پښتو شعر آغاز

یا دا :

د خوشحال ختک په ژبه بر کت شه
چه ویل کا به پښتو له هره باب

مگر په عین زمان کي دې پروا پښتنو څخه ډېر گله من دی چه دوی خپلې ژبې ته تو جه نه کوی او په خپله پښتو نه پو هېږی ، دی وا ئی :


که ز ما ژ به پښتو ده . . . . . . به پښتنو ا بهم خبري
بو پښتو ن را نه ښکا ر نېږ ی . . . . . . چه پري پوه شی نژد ې لری

په خوږ والي کې ئې فرق دی ‏‏ — نه تر ګوره دی شکري
ګېډنه لري مچېچه ‏‏ — د نېکۍ لري پښېري
له یوه دربا به خېژي ‏‏ — هر غېچېچې مېږ غلاري
تفاوت ئې ترمنځ د پردی ‏‏ — په قيمت دی سره لري

په دې ډول د پښتو خوږ والي پای ته رسوی اوله دی تولو څخه د خوشحال خان غرض همدا یوه جمله ده چه پښتنوته وایی :

« خپله ژبه مه هېروی »

・・・◆◆・・・



د خوشحال خان قبر چه په کابل کښې د پښتو ټولنې له خوا د افغانستان د ښکلو ډبرو څخه جوړ شویدی چه دوه کاله دمخه هلته د خوشحال خان پر مدیره ښودل شویدی ۰

د «بینوا» نور چاپ شوی آثار:

۱ــ میرویس نیکه: دهوتکو د شهنشاهی دمؤسس دژوند حالات او واقعات،
۲ــ پښتنې میرمنې: د افغانستان د نومیالیو میرمنو تذکره.
۳ــ ادبی فنون: دالاندی علوم په پښتو بیان شوی او تطبیق شوی دی:
بدیع، بیان، معانی، دلیکنې اصول، خطابه، قافیه، عروض.
٤ــ چند آهنگ ملی: په فارسی ژبه د پښتو څو آهنګونه سره د نوټونو ـ چه
هر آهنګ په نوی عصری اصولو سم ور سره نوټ هم لری،
٥ــ د غمو وزی: دا یوه منظومه رساله ده چه د اعلیحضرت احمد شاه بابا
دتاج پوشی منظره تصویر شوې ده.
٦ــ ددار مستتر پښتو څېړنې: (د حبیبی په مرسته)
۷ــ م کیتان جلي ترجمه: دا کتاب د هند د مشهور فیلسوف تاګور ادبی
کتاب دی چه له اردو ژبی څخه ترجمه شوی او په انیس کی
چاپ شوی دی.
۸ــ دپښتو کلی ځلرم ټولګ: دا دپښتو برلتس دسلسلې ځلرم کتاب دی.
۹ــ دپیر محمد کاکړ ددیوان تدوین، تصحیح او مقابله.
۱۰ــ درحمن بابا ددیوان تدوین، تصحیح او مقابله.
۱۱ــ نظری به پښتونستان: یوه وړه پښتو رساله ده چه په دېر لنډ دول ئې
پښتونستان معرفی کړی دی.
۱۲ــ د اقبال دمسافر ترجمه: دعلامه اقبال دمسافر کتاب په پښتو نظم ترجمه
شوی او په انیس کې چاپ شوی دی،
۱۳ــ پښتونستان- د پښتونستان د معرفۍ په باب کی مفصل کتاب دی چه
اوس تر چاپ لاندی دی.

که توفیق د اتفاق پښتانه مومي
زوړ خوشحال به دوباره شي ځوان پیدا

«خوشحال خټک»

د پښتو ټولنې له خپرونو څخه

(۹۸)

[illegible]

Date	No.	Date	No.